کندهار

د ۱۳۹۶ کال څلرمه ګڼه
(مېزان ـ عقرب)

د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست دوې میاشتنۍ خپرونه



د والي شېرعلي خان سرای چي دده د پلار ارواښاد مهردل خان مشرقي څخه ورپاته سو، دغه کور د کندهار ښار په شېرعلي خان دهنه کي د مشرقي لېسې وڅنګ ته موقعیت لري، چي اوس
په دې ډول نه دئ، او ویل کېږي چي اوس حمید هلمندي رانیولی دئ، دغه عکس د دوهم افغان-انګرېز جنګ نامتو عکاس(Sir Benjamin) په 1881ع کال کي اخیستی او ورته لیکل سوي چي
«د والي شېرعلي خان د ښځو حوض» ځینو هندي او برتانوي کتابونو بیا د ده حرم سرای ګڼلی دئ، دغه عکس ښایي د انګرېزي دولت لخوا د کندهار د والي شېرعلي خان ټاکلو د مراسمو
په ورځ اخیستل سوي وي.نور مالومات د (کوټه د کندهار هېره فرهنګي حوزه) کښي...

کندهار

علمي، تاریخي، ادبي او ټولنیزه مجله

د امتیاز څښتن: د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

مؤسس

محمدولي زلمی

مسئول مدیر

محمدنبي سلطاني

کتنپلاوی

ډاکټر عبدالرزاق پالـوال

څېړندوی شېرشاه رشاد

حـــيات الله رفيقي

عبدالـــکريم طالب

فضل محمد پنهان

محمد ابراهيم سپېڅلی

کمپیوټر چاري

محمدنبي سلطاني

پښتۍ ډیزاین

محب هوتک

پته

علامه حبیبي واټ

اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

د کندهار مجلې دفتر

ټلیفون: ۰۷۹۳۰۴۰۱۴۰

ایمیل ادرس: kandaharmagazine@gmail.com

درېيمه دوره

د ۱۳۹۶ش کال څلرمه ګڼه (تله - لړم)

پرله پسې ۸۳ یمه ګڼه

څو ضروري یادوني

- کندهار مجله اسلامي او ملي ګټو ته زیانمنې لیکنې نه خپروي.
- کندهار مجله د مجلې د ټاکنې لیکنې معیار سره سم د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.
- را استول سوي لیکنې بیرته نه ورکول کېږي.
- هره لیکنه د لیکوال خپل نظر څرګندوي.

په هیواد او دباندې کې د مجلې بیې

هیواد: ۳۰ - افغانۍ

پاکستان: ۱۰۰ - کلداري

کلنۍ ګډون

هیواد: ۱۸۰ - افغانۍ

پاکستان: ۶۰۰ - کلداري

نور هیوادونه: ۱۰۰ - امریکایي ډالره

فهرست

څېړنه

شعرونه

ترجمه

خاطرې

دادارې يادابښت:

د ژبې خدمت د ټولو مسؤليت دئ

ژبه د يو قام او ملت د پوهولو او راپوهولو، ادب، کلتور، سياست، اقتصاد، ټولنيزو کړو وړو، پرمختګونو، دودونو، قهرمانيو او ټولنيزو ځانګړتياوو د انتقال بنسټيزه او مهمه وسيله ده، چې د خپلو ويونکو د فکر، ذهن او شعور په لوړولو کې اساسي ونده ترسره کوي.

د ژبې همدا ځانګړتياوې دي، چې ټول ملتونه غواړي چې ژبه ئې ژوندۍ، پرمختللې، نړۍ واله او تر نورو ژبو دې مخته (په سر کې) ځاى ولرې.

له نېکه مرغه زموږ مورنۍ ژبې (پښتو) ته هم ډېر کار سوى. د دې ژبې نوميالیو ليکوالانو، عالمانو، پوهانو او شاعرانو کتابونه، ورځپاڼې، مجلې او جريدې چاپ کړې، له نورو ژبو ئې ارزښتمن اثار پښتو ته ژباړلي، راډيوګانو او تلويزيونو په پښتو خپروني پيل کړې، د حکومت او دولت د ځينو رسمي ځايونو نومونه په پښتو نومول سوي، پښتو ادبي او کلتوري ټولني رامنځته سوې، پراخه مشاعرې جوړې سوې، په پوهنځيو او ښوونځيو کې زده کړې په پيل سوې، چې ډېر پوهان او عالمان ئې ورزلي.

خو له بده مرغه دونده کار نه دى ورته سوئ لکه څنګه چې ئې هيله وه، لکه څنګه چې بايد ورته سوى واى يا نورو ژبو ته سوى. همدا اوس د دې ژبې ويونکي په لکونو ماشومان او ځوانان په هيواد او له هيواده بهر په پښتو ژبه د ليک او لوسته څخه بې برخي دي، په ډېرو تلويزيونونو او راډيوګانو کي په سلو کي لس ونډه نه لري، په اکثره پښتني سيمو کي رسمي او غير رسمي ادارې مکتوبونه، استعلامونه، پيشنهادونه او نور... په بله ژبه ليکل کيږي، همداسې د همدې ژبې ځيني (د دوى په اند ساتندويه) ليکوالان، چې هرځاى او هرچيرې د دې ژبې د پاللو، ليکلو او ويلو دعوې کوي اوس ئې دا ژبه هېره کړې، قلم ئې رنګ خلاص کړى او کاغذ ئې تمام سوئ. د ژبې ليکل، ويل او پالل ئې له ياده وتلي.

علامه سيد جمال الدين افغاني وايي: «د هر ملت ژبه چې ژوندۍ وي، هغه ملت ژوندى وي.» د علامه پورته وينا ته په کتو د ژبې علمبردارانو (روزونکو او پالونکو) ته په کار ده، چې د دې ژبې غم وخوري، حق ئې پر ځاى کړي، په ويونکو کې ملي بيداري رامنځته کړي، د ژبې په ارزښت ئې پوه کړي، پوهه او علم په خپله مورنۍ ژبه ورته وړاندې کړي، په ورځنيو چارو کې د مورنۍ ژبې ارزښت په نظر کې ونيسي، له نورو نړۍ والو ژبو څخه اړين او ګټور اثار په وژباړي، چې په راتلونکي کې دې ژبې او ملت دواړو ته ژوند ورپه برخه کړي.



لیکوال: استاد محمدمعصوم هوتک/کاناډا

په تاریخ مرصع کې فارسي کلام د چا دئ؟

(پنځه او وروستی برخه)

یادونه: پر همدې موضوع باندي استاد پوهاند میرحسین شاه هم څېړنه کړې ده چي په "تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کي" خپره سوې ده. زما دا لیکنه دهغې له پاره یوه تکمله وګڼئ. (م. هوتک)

په ۵۰۴ مخ کي دا بیت:

دشمن که به عذر شد زبانش

ایـــمن مشو و زور مرانش

دا بیت د تاریخ مرصع په ۴۱۷ او ۴۳۴ مخونو کي هم راغلی دئ.

+++

په ۵۰۸ مخ کي دا بیت:

ستیزه بجائی رســـاند سخن

که ویران کند خان ومان کهن

دا بیت په لغتنامه دهخدا کي د (کهن) لغت په مثالو کي راغلی او دابوالقاسم فردوسي ئې بللی دئ.

+++

په ۵۰۹ مخ کي دا قطعه:

اگر صلح خواهی نخواهیم جنگ
وگرجنگ جویی ندارم درنگ
دم از مهر زن یا به کین ده پیام
حکایت برین ختم شـــد والسلام

په ۵۰۹ مخ کي دا بیت:

علاج واقعه پیش از وقوع باید کرد

دریغ سود ندارد چو رفت کار از دست

[1] اصل: (خامان) چي طباعتي غلطي ده

دا بیت د سعدي (رح) دئ او په قطعاتو کي ئې بشپړه بڼه داسي ده :

علاج واقعه پیش از وقوع باید بست
دریغ سودندارد چو رفت کار از دست

به روزگار سلامت سلاح جنگ بساز
وگر نه سیل چوبگرفت.سد نشاید بست[2]

+++

په ۵۱۶ مخ کي دا مصرع :

دشمن اگر قوی است نگهبان قوی تر است

دا مصرع ئې په لغتنامه دهخدا کي د (دشمن) لغت په مثالو کي راوړې ده او "امثال و حکم" ئې ورته کښلی دئ .[3]

+++

په ۵۱۶ مخ کي دا تاریخ :

رفت آن میر روه، شاه خټک
که به خوبی امیر افغان بود

ماه و تاریخ فوت او جستم
خردم زین قبل سخنران بود

روز آدینه از ربیع دوم
بیست وهشتم اوان آذان بود
سال هـجران او اگر خـواهی
"موطن خیر، مجد و احـسان بود"

دا قطعه د اشرف خان هجري ده چي د خپل پلار خوشحال خان خټک د مړیني تاریخ ئې پکښې بیان کړی دئ. تاریخي ماده "موطن خیر، مجد و احـسان بود" ده چي ابجدي ارزښت ئې (۱۱۰۰) کېږي. خوشحال خان خټک د ۱۱۰۰ هـ ق کال د ربیع الثاني پر اته ویشتمه د جمعې په ورځ وفات سوی دئ. په (ننگیالی د زمانې) نومي اثر (۱۵۶مخ) کي ئې د دیوان اشرف خان هجری (فارسی) د ۱۴۳ مخ (چاپ جدون پریس، پشاور، ۱۹۹۴) په حواله تر لومړي بیت وروسته دا بیت راوړی دئ :

بلکه افغان همه چون تن بوده

اندران او به رتـــبه جان بود

+++

په ۵۱۷ مخ کي دا تاریخ :

خان خانان و قدوه افغان
آن حکیمی سر خردمندان

چون به هفتاد و هشت سال شده
چو الف بود همچو دال شده

روز آدینه بود چون ز جهان
رفت و ماندیم مه به آه و فغان

غُره ماه مهر بود آن موت
که به لب می نهاد مهر سکوت

بیست و هشتم ربیع آخر بود
که امین جان پاک او بر بود

---

[2] د گنجور په حواله

[3] لغتنامه دهخدا ـ جلد ۷ . ص ۱۰۹۰۹

[4] په ننگیالی د زمانې ـ ۱۵۲ مخ کي ئې تاریخي ماده "موطن خیر، مجد و احسان" کښلې ده او (بود) ئې تر قوسینو دباندې راوړی دئ چي چاپي تېروتنه ده.

[5] په ننگیالی د زمانې ـ ۱۵۲ مخ کي د "موت" پر ځای "حوت" راغلی دئ

چون زِ تاریخ فـــوت خان خبرم
شـــد " زما رفت زین جهان پدرم"

دا تاریخي قطعه د خوشحال خان خټک د مړیني نېټه راښیي چي دده زوی گوهر خان خټک ویلې ده. تاریخي ماده " زما رفت زین جهان پدرم" ده چي ابجدي ارزښت ئې (۱۱۰۰) کېږي.

+++

په ۵۱۹ مخ کي دا بیت :

چوبختت نگون نیست در کاف و کُن

چـــو دشـمن بگوید بکن آن مکن

دا بیت د سعدي (رح) دئ او په بوستان کي (باب اول در عدل وتدبیر و رای)په نهم حکایت کي یودېرشم بیت دئ خو هوري ئې سم شکل داسي دئ :

چو بختش نگون بود در کاف و کن

نکـــردآنچه نیکانش گفتند کن

+++

په ۵۲۲ مخ کي داقطعه :

هـــیچ نااهـــل رامبـــاد دو چیـــز
زن نیکـــو و نعمـــت بســـیار

کـــان یکـــی را تلـــف کـــند بـــی شـــک
وان دگـــر جلـــوه ای دهـــــد ناچـــار

په ۵۴۲ مخ کي دا مصرع :

که خوی بدش دشمنی در قفا است

---

[6] بوستان سعدی . ص۲۴۱

دا مصرع د سعدي په گلستان (باب هشتم در آداب صحبت) کي په یو څه توپیر راغلې ده . بشپړ بیت داسي دئ :

چه حاجت که باوی کنی دشمنی

که او را چنین دشمنی در قفاست

+++

په ۵۴۷ مخ کي دا بیت :

کشتگان خنجـــــــــر تسلیم را

هر زمان از غیب جان دیگر است

دا بیت د شیخ احمد جام ژنده پیل (۴۴۱ ـ ۵۳۶ هـ ق) په هغه غزل کي اتم بیت دئ چي مطلع او مقطع ئې داسي ده :

مطلع

منزل عشق از مکانی دیگر است

مـــرد معنی را نشانی دیگر است

مقطع

احمدا تا گـــم نگردی هوش را

این جرس از کاروانی دیگراست

د تهران چاپ (دیوان شیخ احمد ژنده پیل) د مقطع لومړی نیم بیتی داسي ثبت کړی دئ :

احمدا تا گم نگردی هوشدار

+++

---

[7] گلستان سعدی، ص۲۰۲

[8] دیوان حضرت احمد جام زنده پیل. ص۴۱ ـ ۴۲ ، چاپ مطبع نولکشور، کانپور، ۱۸۹۸ع

[9] دیوان شیخ احمد جام ژنده پیل. بکوشش احمد کرمی. ناشر احمد کرمی. ص۷۲. چاپ تهران

په ۵۵۳ مخ کي دا بیت :

مردان خدا خدا نباشند

لیکن زِ خدا جدا نباشند

یو ځای مي داسي هم لوستی دئ :

مردان خدا خدا نباشند

از یاد خدا جدا نباشند

+++

په ۵۵۴ مخ کي دا بیت :

سپردم به تو مایه خویش را

تو داني حساب کم و بیش را

دا بیت د نظامي گنجوي دئ او د شرفنامې په (به نام ایزد بخشاینده) کي راغلی او د پای بیت دئ .

+++

په ۵۶۲ مخ کي دا بیت :

بداندیش بر گفت چون دست یافت

درون بـــــزرگان بـــه آتش بتافت

دا بیت د بوستان په باب اول کي د لومړي حکایت دروپنځوسم بیت دئ. خو هوري ئې اول نیم بیتی داسي دئ:

بداندیش بر خرده چون دست یافت

په ۵۷۴ مخ کي دا بیت :

آنانکه خاک را به نظر کیمیا کنند

آیا بود که گوشه چشمی به ما کنند

شعر لکه په تاریخ مرصع کي چي هم اشاره ورته سوې ده، د حافظ شیرازي د یوې غزلي مطلع ده [12] . مقطع ئې داسي ده :

حافظ دوام وصل میسر نمی شـود

شاهان کم التفات به حال گدا کنند

+++

په ۵۷۸ مخ کي دا فرد:

چکد مشک تر از دستم چو آن گیسو به چنگ افتد

دمد صبح از گریبانــــــم چو آن مــــه در کنار آمد

د دې بیت شاعر مي معلوم نه کړ. شمس تبریزي پر همدې قافیه او وزن باندي دوې درې غزلي لري خو ما دا بیت پکښې ونه موند. ښایي په ځینو نسخو کي وموندل سي.

+++

په ۵۸۱ مخ کي دا بیت :

کس دشمن من نیست منم دشمن خویش

ای وای من و دست من و دامن خویش

دا بیت د ابوسعیدابوالخیر په یوه رباعي کي داسي راغلی دئ :

آتش بدو دست خویش بر خرمن خویش
چون خود زده ام چه نالم از دشمن خویش

کس دشمن من نیست مـــنم دشمن خویش

[10] کلیات نظامی گنجوی.ص ۲۹۴

[11] بوستان سعدی. ص ۲۲۴

[12] حافظ ، ص ۱۸۹

ای وای من و دست مـــن و دامن دوست[۱۱]

+++

په ۵۹۲ مخ کې دا بیت:

رشته ای در گردنم افگند دوست

می برد هرجا که خاطرخواه اوست

+++

په ۵۹۸ مخ کې دا بیت:

چندین فنون شیخ نیرزد به نیم جو

راحت بدل رسان که همین مشربست بس

دا بیت سم ثبت سوی نه دئ، اول نیم بیتی ئې ما یو ځای داسې لوستی دئ:

چندین فنون شیخ نیرزد به نیم خس

+++

په ۶۰۸ مخ کې دا بیت:

به می سجاده رنگین کن گرت پیر مغان گوید

که سالک بی خبر نبود ز راه و رســـم منزلها

دا د حافظ شیرازي ددېوان د لومړي غزل دریم بیت دئ.

په ۶۱۱ مخ کې دا تاریخ:

چو شد از جهان شیخ دین رحمکار
رجب بود و جمعه به سه وسه هفت

چوتاریخ فـوتش بجستم زِ عقل
چنین گفت با ما که" با فـقر رفت"

دا تاریخ د شیخ رحمکار د وفات نېټه راښیي او خوشحال خټک ویلی دئ. شیخ رحمکار (کاکاصاحب) د خوشحال خان پیر او مرشد وو. په دغه تاریخي قطعه کې تاریخي ماده " با فقررفت" ده چې ابجدي ارزښت ئې (۱۰۶۳) کېږي. د (سه و سه هفت) محاسبه داسې ده:

سه هفت په درې واره اووه چې (۲۱) کېږي. له دې سره چې درې نور جمع سي (۲۴) لاس ته راځي. شیخ رحمکار صاحب د ۱۰۶۳ هـ ق کال د رجب پر ۲۴ مه د جمعې په ورځ وفات سوی دئ.

په (ننگیالی دزمانې) نومي کتاب (۳۸ مخ) کې ئې دریم نیم بیتی داسې دئ:

چو احوال تاریخ جستم زِ عقل

+++

په ۶۱۲ مخ کې دا بیت:

بحر بصد دجله شد آرامگیر

سیل ز یک قطره برآرد نفیر

دا بیت د نظامي گنجوي دئ او په مخزن الاسرار (حکایت سلیمان با دهقان) کې راغلی دئ[۱۲]. د تاریخ مرصع ثبت ئې سم نه ښکاري. اصل بیت داسې دئ:

بحر به صد رود شد آرامگیر

جوی به یک سیل برآرد نفیر

په ۶۱۳ مخ کې دا بیت:

تعلق حجاب است و بی حاصلی
چـــو پیوند ها بگسلی واصلی

---

[۱۱] د گنجور په حواله

[۱۲] کلیات نظامی گنجوی. ص۵۱

دا بیت د بوستان په (باب سوم در عشق و مستی و شور) کې د شپاړسم حکایت وروستی بیت دی[۱۵].

+++

په ۶۱۳مخ کې دا بیت :

موی ژولیده که من بر سر ابتر دارم

سایه دولت عشق است که بر سر دارم

+++

په ۶۱۷مخ کې دا بیت :

هم خدا خواهی و هم دنیای دون

این خیال است و محال است و جنون

دا بیت په امثال و حکم کې راغلی. شاعر مې ونه موند.

+++

په ۶۱۷مخ کې دا رباعي :

دو گزک بوریا و پوستکی
و لکی پر زر مهر دوستکی

این قدر بس بود جمالی را
عاشق مست لا ابالی را

دا شعر د شیخ حماد جمالي دی[۱۶]. شیخ حماد جمالي د سند له شاعرانو څخه وو.

په ۶۱۷مخ کې دا مصرع :

که مردان ز خدمت بجائی رسند

دا مصرع د بوستان په (باب چهارم در تواضع) کې د لومړي حکایت په اووم بیت کې راغلې ده[۱۷]. بشپړ بیت ئې داسې دی :

ندانستی ای کودک خودپسند

که مردان ز خدمت به جایی رسند

+++

په ۶۲۰مخ کې دا نظم :

چه دانی که شوریده حالان مست
چرا برفشانند بر رقص دست

کشاید دری بر دل از واردات
فشانند سر دست بر کائنات

برقص اندر آینه دولاب دار
چو دولاب بر خودبگیرند زار

اول او دوهم بیتونه د بوستان په دریم باب (در عشق و مستی و شور)د شپاړسم حکایت پنځم او شپږم بیتونه دي[۱۸]. هورې په اول بیت کې د(چه دانی) پرځای " ندانی" راغلی دی.

دریم بیت د بوستان ددریم باب په پنځلسم حکایت ، دوهمه برخه کې یوولسم بیت دی[۱۹]. هورې داسې دی :

به چرخ اندر آیند دولاب وار

چو دولاب بر خود بگریند زار

په ۶۲۳مخ کې دا مصرع :

قدر زر زرگر شناسد قدر جوهر جوهری

---

[۱۵] بوستان سعدی . ص۳۱۰

[۱۶] ویکیپیدیا

[۱۷] بوستان سعدی . ص۳۱۴

[۱۸] بوستان سعدی . ص ۳۰۹ ـ ۳۱۰

[۱۹] بوستان سعدی . ص۳۰۹

دا مصرع په امثال و حکم کې راځي.

هغه اشعار چې په نورو خطي نسخو کې راغلي دي

د (نوټونه) په (۶۴۵مخ) کې ئې کښلي دي چې په دیباچه(۷۰ مخ[20]) کې تردې بیت " څوک له خاورو ایروپاځوي تخت ورکړي + څوک له تخته د ایرو په ډیران ولي" وروسته په (ن د) خطي نسخه کې دا لاندي فارسي بیتونه راغلي دي:

چنـین اسـت رسـم سـرای فریـب
گهـی پـر فـراز و گهـی پر نشـیب

چنـین بـود تـا بـود گـردان سـپهر
گهی جنگ قهرست و گـه نوش مهر[21]

یکـی را بـرآرد بـه چـرخ بلنـد
همـو راکنـد خـوار و زار و نژنـد

جهـان را بلنـدی و پسـتی تـوئی
نـه دانـم چـه ای هرچـه هستی تـوئی

یکـی را بـه زر همچـو قـارون کنـی
دگـر را بـه نـانی جگرخـون کنـی

یکـی را بـرآری و شـاهی دهـی
دگـر را بـه دریـا بـه مـاهی دهـی
یکـی را[22] بـدادی دگـر را بـده
میـان دوآز ده[23] کینـه منـه

نه با اوست مـهر و نه با اینت کین
که بِه دان تـوئی ای جـهان آفرین

دا بیتونه د فردوسي د شهنامې دي. اول بیت ئې د (پادشاهی یزدگرد) تر عنوان لاندي نظم کې راغلی دئ.

+++

د (نوټونه) په ۶۴۵ مخ کې کښلي دي چې په ۷۱ مخ کې تر مصرع وروسته په (ن ب) او (ن ا) نسخو کې دا بیتونه راغلي دي:

چنـین گفـت نوشـیروان ارا [قبـاد
کـه چـون شـاه را دل بپیچـد زِ داد

کنـد چـرخ منشـور را او سـیاه
سـتاره نـه خواهـد ورا تیـر شـاه

سـتم نامـه عـزل شـاهان بـود
چـو خـون دل بـی گناهـان بـود

نـه باشـد جـهان بـر کسـی پائیـدار
همـان نـام نیکـو بـود پائیـدار /یادگار

دا بیتونه هم د فردوسي دي او دشهنامې په (پادشاهی اشکانیان) برخه کې راغلي دي.

+++

د(نوټونه) په ۶۴۵ مخ کې کښلي دي چې دديباچې د ۷۲ مخ ددوهمي کرښي تر " ظل الله" وروسته په (ن ج) نسخه کې دا بیت راغلی دئ:

شهر و سپاه را چو شوی نیکخواه

نیک تو خواهد همه شهر و سپاه

دا بیت د نظامي گنجوي دئ او د مخزن الاسرار په (مقالت دوم درعدل و نگهداری انصاف) کې راغلی دئ.

---

[20] له دغه شمېرې څخه د چاپي تاريخ مرصع د مخ شمېره مراد ده. (م. هـ)

[21] په اصل کې څنگ ته (نیش قهر) هم کښلی دئ

[22] اصل: یکی دا

[23] اصل: میان دوازده




سردار ولي پښتون زوی

کوټه، د کندهار هېره فرهنګي حوزه

(یوولسمه برخه)

کله چې امیر یعقوب خان د ۱۸۷۸ع کال د ډیسمبر پر لسمه د خپل پلار (امیر شېرعلي خان) دخوا په کابل کې ولیعهد وټاکل سو او د هغه تر مرګ وروسته د افغانستان واکمن سو. انګرېزي لښکرو د نوموړي کال د نوومبر پر ۲۱ نېټه لا د افغانستان پر سرحداتو تېری کړی وو او د ۱۸۷۹ع کال د جنوري تر پایه پوري ئې و افغاني قواوو ته په هر خای کې ماتې ورکړې وې او د افغانستان د خاوري زیاتره برخې ئې اشغال کړې وې. تر لنډې مودې وروسته امیر یعقوب خان د ۱۸۷۹ع کال د مې پر ۲۶مه نېټه د ګندمک شرم آوره معاهده د انګرېزانو سره امضاء کړه او د همدې معاهدې د تر لاسه کولو وروسته انګرېزانو د ختیځې او شمالي افغانستان څخه د خپلو قواوو په ایستلو شروع وکړه، خو په کندهار کې د ځینو لوجیستیکي ملحوظاتو په نسبت د قواوو په وتلو کې یو څه ځنډ راغلی. د ۱۸۷۹ع کال په جولای کې امیر محمد یعقوب خان خپل د پلار د وختو د کندهار والي اسردار شېرعلي اخان یو واري بیا د کندهار د سرپرست والي په حیث وټاکی، څو د کندهار څخه د انګرېزانو د وتلو کارونه سمبال کړي. خو وروسته تر هغه چې افغاني عسکرو د سپټمبر پر درېیمه په بالاحصار کې د معاشونو د معطلی په نسبت بلوا وکړه او هلته ئې د نورو انګرېزي عسکرو سره د انګلیستان د دولت استازي (سفیر) لویس بوناپارټ کیوناري هم وواژه، نو د افغانانو دې عمل انګرېزان په هند او لندن کې په خښم راوستل او خپل د قواوو ایستل ئې پرمخ ودرول او د افغانانو څخه د انتقام په فکر کې سول. امیر یعقوب خان هم تر نهو میاشتو تش په نامه واکمنی. وروسته د انګرېزانو د تباه کاریو څخه ناراضه خو بې وسه وو، څو چې بالاخره ئې پاچهي پرېښوول او د ۱۸۷۹ع کال د اکتوبر پر ۳۰ نېټه د تل لپاره هندوستان ته ولاړ.

په سيمله او لندن کي انګرېزي سياستوالو د خپلو لښکرو تر جنګي عملياتو او د خپل تجاوز او اشغال څخه



تر يو نيم کال ورانيو، ظلمونو، او د افغانستان په مختلفو برخو کي د افغاني جنګياليو سره تر جګړو وروسته دې پايلي ته ورسېدل، چي افغانستان نور د يوه پاچا يا امير له خوا نه سي اداره کېدای او بايد کندهار د کابل څخه جلا سي او کندهار بايد د بارکزيو د کورنۍ څخه يو خپلواک مشر (والي) ولري.

د همدې تصميم پر بنسټ ئې د ۱۸۸۰ع کال د اپريل په لومړۍ نېټه اعلان وکړ، چي کندهار نور له افغانستانه جلا کړي او سردار شېرعلي (چي په والي شېرعلي خان مشهور دئ) به د کندهار او ورپوري تړلو سيمو د خپلواک والي[24] په توګه د کندهار چاري پر مخ وړي. کندهار کي انګرېز سياسي مامور اډګروال سنټ جان ادمي پر يوولسمه لويه غونډه راوبلله او د کندهار اولس ئې له دغه ناوړه اقدامه خبر کړ[25]. د ملکې ويکتوريا

[24] والي به په کورنيو چارو کي خپلواک او په بهرنيو چارو کي د برتانويانو تابع وی.

[25] د لېټن په وړاندي اصلي پلان له افغانستانه د کندهار بېلتون وو، چي په دې اړه لومړنی ګام وړاندي لا اخيستل سوی وو، د کندهار له نيولو وروسته برتانويانو د ولايت توره د شېرعلي تر ملا وتړله او مبارکي ئې ورکړه. شيرعلي هم خپل ګوډاګيتوب داسي اعلان کړ:

لخوا د کندهار د والي په توګه د شېرعلي خان د ټاکلو رسمي دربار جوړ سو، مراسم د بې شيدو چايو د پيالو په وېشلو پيل او ورپسې ويناوي وسوې او د ملکې او وايسرا د خوا سوغاتونه وړاندي سوه او بيا د افغاني شېرينيو پتنوسونه او خواږه شيريخ چي عنبر په ګډ سوي وه، راوړل سول، دوې ورځي وروسته شېرعلي خان مېلمنو ته خپله طلايي سکه د عام خپرېښت د پاره وهل سوې ورکړه[26].

"هيله من يم چي ډېر ژر داسي موقع په لاس راسي چي دا توره د برتانوي دولت د خدمت په لار کي له تېکی راوباسم". خو په حقيقت کي د هغه توره په تېکی کي زنګ ووهله، چي تر يو کال وروسته په مرو سترګو د انګرېزانو سره د تل له پاره د افغانستانه ووت او په کراچي کي ميشت سو. د کندهار ټولي سيمي د انګرېزي پوځ له خوا ساتل کېدې او اصلي واک د برتانوي سياسي افسر (اوليور سېنټ جان) په لاس کي و. يوازي په ظاهره سره او په مسجدونو کي خطبه د شېرعلي په نوم وه. تر دې وروسته د (کندهار پوځ) هم جوړ کړای سو، چي مالي لګښت ئې د برتانوي هند له خوا کېدی. شېرعلي خان د سردار مهردل خان زوی او پاينده خان لمسی دی، اډاميک په (هو ايز هو اف افغانستان) کي کاږي چي تر ۱۹۷۱ع کال پوري ئې کورنۍ کراچي کي اوسېدل، ما (پښتون زوی) کراچي کي څه پخواني استوګن بارګزی پوښتلي خو د بارګزيتوب ور هاخوا ئې چنداني د خان په اړه مالومات نه لرل، زما خوږ دوست فريد ميوندي راته وويل چي زه ئې خيني د کورنۍ خلګ پېژنم او په ډېر فخر خانونه د سردارشېرعلي خان لمسيان بولي او د افغانستان په تاريخ وياړي. تراوسه په کراچی کی سته.

[26] [My God-Maiwand!]د Leigth Maxwell ليکنه؛ ۱۹۷۹ع، لندن (وګ: کندهاري ورنه، د استاد معصوم هوتک اثر)



دا چي انګرېز يوې خوا ته کندهار خپل کړي او بلي خواته ئې د ګندمک په تړون سره د کندهار ختيځي سيمي چي د افغانستان لپاره ئې د ډال حيثيت لاره، تر لاسه کړي وې[۲۷]، نو ئې د کوټي ايجنټ ګورنر/والي مېجر سنډيمن ته د په لاس ورغلو سيمو د تشکيلاتو او اداري وېش کار وسپاره. لارډ سنډېمن دې سيمي ته دا بلوچستان انوم ورکړ؛ چي د دې تر مخه دا نوم د کومي داسي خانګړي سيمي/ښار چي حدود ئې ټاکلي وي نوم نه وو[۲۸].

وروسته ئې بلوڅستان پر دوې برخې وويشه، يعني هغه سيمي چي دانګرېز تر بشپړ واک لاندي وي، ابريټش بلوچستان او نيمه خپلواکي سيمي اړياست بلوچستان اګيل کېدی. څه وخت وروسته ئې کوټه چي د خان کلات د تاج پر سروني پر مهال انګرېزانو د کلات خان ته ورکړې وه بېرته په اجاره/ليز (Lease) ځني بېله او په همدغه برتانوي يعني پښتني بلوچستان کي ګډه کړه چي د لورالايي (بوري)، ږوب، مري او بګټي/بوګټي قبايلي سيمي ئې هم ملګري وې.

بريټش بلوڅستان ۵۴۰۲۸۸ کلوميتره کېده چي کوټه، بولان، پښين، کاکړستان/ږوب، چاغي، سيوی، لورلايي ئې برخي وې، او جنوب کي ئې دايران سره سرحد درلود، دغه سيمي به په کوټه کي د هند د وايسرا د ځانګړي استازي له خوا اداره کېدې، ځکه ورته چيف ګورنر صوبه هم ويل کېږي، د ۱۹۴۱ع کال د سرشمېرني له مخه ئې نفوس ۳۵۸،۱۳۷تنه وو.

رياست بلوڅستان ۱۳۶۰۱۱۲ کلوميټره مځکه لرل چي تر ډېره د کلات د خان بلوڅي سيمي وې، لکه کلات، خاران، مکران او لسبېله چي پر خانانو او رياستونو وېشل سوی وې[۲۹]، د ۱۹۴۱ع کال د سرشمېرني له مخه ئې نفوس ۲۰۰،۳۵۶ تنه وو. همدارنګه څو وخت وروسته سنډېمن د پښين، کندهار او سيوی نوي حدود د هغي

---

[۲۷] په هند کې برطانوي برتانوی وايسراې لارډ ليټن خپل حکومت ته وليکل، که هغوی په افغانستان کي يو داسې امير ټاکلو کي پاته راغلل چي د دوی تر لاس لاندې وي نو دی به د هندو کش شمالي ليکي سره-سره افغانستان په ورو برخو کي وويشي. کندهار به د کابل نه بېل او ممکن هرات پارس ته وسپاري. افغانستان در قرن نزده، سيد قاسم رشتيا (کابل: ۱۳۴۶دريم چاپ) او د افغانستان څخه د کندهار ۸۸۸ ورځنی بېلتون، نثار احمد واصفي، کندهار مجله۲۰۰۰ع کال اګست

[۲۸] دې سيمو ته په تاريخونه کي سيوستان بيا وروسته شالکوټ/کلات نومونه کار سوي دی.

[۲۹] د بلوڅستان د برتانوي کمشنر[کمېسار]سر رابرټ سنډېمن د بلوڅستان حوزې په اړه مضمون: (Notes on the status and Position of the Baluchistan Agency, and its value the defence of Empire)

پریکړي پر بنسټ وټاکل او په بلوچستان ئې ورګډ کړل. کومه پر بکړه چي د برتانيې د حکومت او امير يعقوب خان ترمنځ وسوه چي د پښين او سيوی سيمي د امير څخه په اجاره واخيستل سوې او سنډيمن ته وبخښل سوې، کوتاز، ورستان مطلب د سانګهان، هرنايي، ښاهرګي، کڅ او احمدون سيمي هم ورګډې کړل سوې، دا ډول د پوخيانو د تګ راتګ او سرکاري سامانونو د وړلو راوړلو لپاره يوه بله لاره پرانيستل سوه چي د متهړی، کڅ سرک نومېږي او دا مهال د سيوی څخه د کوټي او پښين لپاره اور ګاډي پر تېرېږي.

پښين چي د کوټي اولسوالی يوه مهمه برخه وه، انګرېزانو د خپلو استعماري ګټو پر بنسټ جبراً له دې امله د کوټي اولسوالی برخه وګرځوله چي د پښين اڅکزي پر انګرېزي سرتيرو بريدونه کوي، انګرېز پلوی ليکوال هيتورام ليکي: "په ۱۸۷۷ع کال چي برتانيې د افغانستان پر خاوره اکوټه اد کوټي ايجنسي تشکيلات جوړ کړه د کندهار والي اسردار مير افضل خان او امير شېرعلي خان سخت ناخوښه سوه، خو له دې امله چي د پښين بدمعاشو اڅکزو پر سرکاري او ملکي کمپونو يرغلونه کول او د کابل امير ئې مخه نه نيول، سرکار اړسو چي پښين هم د کوټي په ايجنسي ورګډ کړي".[1]

د پښين سيمه چي د هندي دولت حساسه سرحدي سيمه ګڼل کېده، انګريز ته ئې خورا ارزښت لاره، لالا هيتورام چي يو وخت د انګريز دولت تر سيوري لاندي د پښين حاکم ټاکل سوی، ليکي: د ۱۸۸۲ع کال په سپټمبر کي مي تر زيات لټون وروسته يو ځای د پښين د تحصيل جوړولو لپاره خوښ کړ، د دې ځای نوم سره کلا ده او يوه ښکلې غونډۍ هم لري. تر کومه چي بتېزی ټبر (ترين) د پښين په سيمه کي واکمني لرله، نو همدلته به د بتېزيو خان کېنښاسته، له زړو نخښو څخه ئې داسي ځرګندېږي چي همدلته يو ښکلی بازار آباد وو، خو نږدې څلوېښت يا پنځوس کلونه کېږي چي اوس کنډوالې ګرځېدلی دئ. له دې غونډۍ څخه پر پښين سر بېره ګلستان او د قلعه خوشدل سيمه هم په بشپړه توګه ښکاري. د پښين لپاره چي څومره اندازه پوځ ټاکل سوی دئ، هغه کمپ به همدلته مناسب وي، يوازي د خوشدل او ګلستان د سيمي لپاره څو سپاره په کار دي چي وګومارل سي، همدا ډول د پوليسو مرکز هم په سره کلا کي په کار دئ، په خوشدل او ګلستان کي دي څو چوکۍ هم واچول سي او دلته به يو ښکلی بازار هم آباد سي چي له دې سره به د پښين تجارت وده ومومي.[2]

دا وخت نو کوټه په يو لوی ماسټر پلان سره د برتانوي دولت په ځانګړي سلاکارانو، په عصري ډول ودانه او د لومړي خل لپاره په دې سيمه کي د ښار بنسټ کېښښوول سو او ځرنګه چي د ليري هند پر خای روسانو ته کوټه نږدې وه، نو انګرېز کوټه په يوه نړۍ وال وسله تون هم بدله کړه[3] او بل دا چي ځرنګه بولان د خاپي بلوڅو او پښتنو خانانو له لاسو نو څخه خپل لاس ته راوړي؟ ځکه چي هند ته تللې لار همدا بولان دئ او هم د بولان لاره د هند او روس تر ټولو لويه تجارتي لار ګڼل کېږي.[4]

نور بيا...

---

[1] تاريخ بلوچستان، لالا هيتورام (کوټه: ۱۹۰۷ع)

[2] پورته کتاب

[3] دغه وسله تون د کوټي په حيثيه برخه کي د غره په دننه کي په داسي ډول وکيندل سو چي د دوهم نړيوال جنګ په وخت کي هم ګټه ځيني واخيستل سوه، دغه غره کي د اوږدادي لېنونه هم سته او هم اوس د کار وړ دي.

[4] ځرنګه چي بولان دره د افغانستان څخه څوندي او اواره (هموار) تجارتي لار وه، چي د هند څخه به تجارتي قافلې د کابل، غزني، خراسان او بخارا د پاره پر ئې راتلې. نو هم واکمن کوښښ کاوه چي دغه لار تر لاسه کړي. ان داسي بله وه چي دغه لار چي د هر چا په لاس کي وي؛ هغه کس د بولان پرېالدرېونه هم ولري، په دې وخت کي د بولان دره ځکه څوندي نه وه چي د امير له واکه وتلې وه، او بوسه خلکو به کاروانونه لوټل، انګرېزانو به همدې بهانه ددې لارې د لاس ته راوړلو هڅي کولې.

قاري مطیع الله ذهین

په پښتو ژبه کې د قران کریم ژباړې او تفسیرونه

(دوهمه برخه)

۸.روائع البیان تفسیر آیات الاحکام:

دا تفسیر چې د احکامو د قراني آیتونو څانګړی تفسیر دئ، چې د تفسیر له قدیمو او معاصرو موثقو او معتمدو مصادرو او منابعو څخه په ګټه اخیستنه سره په نوي او معاصر طرز او طریقې سره د مکې مکرمې پوهنتون د شرعیاتو او اسلامي زده کړو پوهنځی استاد شیخ محمد علي صابوني رحمه الله په عربي ژبه تالیف کړی دئ.

دا تفسیر لومړی ډاکتر فرزاد فارسا په (۱۳۸۸ هـ ش) کې له عربي څخه و فارسي ژبې ته ژباړلی او بیا له فارسي څخه د میدان وردګ ولایت د نرخ اولسوالۍ د صدبرک کلي اوسېدونکي او د اکوړه خټک له حقانیه دار العلوم ـ پېښور او په ملتان کې د وفاق المدارس څخه فارغ مولوي محب الله مخلص و پښتو ته ژباړلی دئ. حافظ محمد ولي بغلاني ئې د کره کتنې، مراجعې او ډیزاین چاري تر سره کړي او د (۱۱۰۰) ټوکه په تعداد په دوه جلده کې په (۱۳۹۱ هـ ش) کال کې د مکتبه فریدیه محله جنګي قصه خواني پېښور له خوا چې مولوي محمد ظفر حقاني ئې ناشر دئ چاپ سوی دئ.

د یادوني وړ ده، چې پښتو ژباړن ئې د دې ګټور، موثق او پر خورا ډېرو نورو فوائدو مشتمل تفسیر د ژباړې پر څنګ د فارسي ژباړن ډاکتر فرزاد فارسا اووه مخیزه مغتنمه سریزه، چې پکښې په لنډیز سره د فقهي تفاسیرو پر رشالید رڼا اچول سوې ده (بدلی دئ)، هم ئې و پښتو ته ور سره را ژباړلې ده.

د شیخ محمد علي صابوني رحمه الله په دغه دوه ټوکه لیکل سوي تفسیر کې یوازې د احکامو خاص آیتونه راټول کړي دي، چې څېړنه او پلټنه ئې د مخکني لیکوالۍ له علمي پوخوالي او اوسني معاصري لیکوالۍ له اسانۍ څخه برخمنه ده. په لیکنه او تحقیق کې یوه نوې لار غوره سوې، هغه قراني آیتونه، چې مفسر ئې دلته څېړلي په (۷۰) معاصرو کې په خورا لوړ علمي او پر اکاډمیکو اصولو ولاړ ترتیب او تنظیم سره څېړل سوي هم دي.*

* شیخ محمد علي صابوني رحمه الله پر دې تفسیر سربېره دوه نور تفسیرونه هم لیکلي دي، چې یو ئې (درسات القران یا قبس من نور القران) نومېږي، چې په اته جلده کې دئ او بل هغه ئې (صفوة التفاسیر) دئ، چې په درې جلده کې دئ او په پرله پسې دول په سعودي عربستان، بیروت، ایران، پاکستان او نورو هېوادونو او ښارونو کې په عربي ژبه چاپ او خپور سوی دئ.

مؤلف په خپل دې تفسیر کې هم د خپلو نورو تفاسیرو غوندې پر ګڼو موضوعاتو پوره او له انصافه ډکې څېړنې کړې دي: لکه د ښځو حجاب او پرده، قصاص او نور اسلامي حدود، حلال او حرام، د رسول الله ﷺ د بیبیانو د ډېروالي حکمتونه. له کفارو سره دوستي او داسې نور... چې په دې ټولو عرصاتو کې ئې د معترضینو و سوالونو او اعتراضونو ته هم د ښه خوند جوابونه ورکړي دي. د مسائلو په بیانولو کې ئې د فقهي مذاهبو پوره لحاظ ساتلی او په پوره انصاف سره ئې د هر مذهب دلایل راوړي دي. د دې سره چې په خپله په ټولو مسائلو کې و حنفي مذهب ته ترجیح نه ورکوي. خو په مطلق اکثریت او په ډېرو ځایونوکې ئې د دلایلو د قوت له امله د احنافو و رایې ته ترجیح ورکړې ده.

۹. تفسیر معارف القران:

دا تفسیر په اردو ژبه د مفتي محمد شفیع عثماني رحمه الله لیکل سوی تفسیر دئ، چې له اردو څخه و پښتو ته ئې ترجمه دکراچي د دار لعلوم استاد (مفتي مجیب الرحمن) تر سره کړې او په لسو ټوکونوکي پر ژړ کاغذ (مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه) له خوا په (1432 هـ ق) کال کي چې د (2011م) کال سره برابرېږي چاپ سوی دئ.

مفتي محمد شفیع رحمه الله د شیخ یاسین رحمه الله زوی دئ، په (1314 هــق) کال کي په هندوستان کي پیدا سوی، په (1325 هــق) کال کي چې کله د قرآن له زده کړي څخه فارغ سو، نو د هندوستان په لویه مدرسه (دار العلوم دیوبند) کي ئې داخله واخیسله. په (1332 هـ ق) کي له مدرسې فارغ سو او په (1335 هــق) کال کي په همدې مدرسه کي د استاد په حیث وټاکل سو.

د مفتي صاحب په مشهورو استادانو کي علامه شاه انورشاه کشمیري، مفتي عزیزالرحمن، مولانا سید اصغرالحسني، شیخ الاسلام شبیر احمد عثماني، علامه اعزاز علي او نور راځي.

کله چې پاکستان په وجود راغلی، نو مفتي صاحب هم له هندوستانه څخه و پاکستان ته راکډه سو او په (1370 هـق) کال کي ئې د پاکستان په مشهور ښار کراچي کي دیوې ستري دیني مدرسې بنسټ کېښېښود او هغه ئې د دارالعلوم کراچي په نامه سره و نومول.

۱۰. تفسیر تیسیر الرحمن لبیان القرآن:

دا د قرآن کریم بشپړ او مکمل تفسیر دئ، چې په اردو ژبه دکتور محمد لقمان لیکلی او ابو زهیر سیف الله او ابوسلمان حضرت محمد پښتو ته راژباړلی او په درې ټوکه کې. چې د چاپ کال پرلیکل سوی نه دئ د مکتبه محمدیه منګل مارکېټ، ګنج – پېښاور له خوا چاپ سوی دئ.

د پښتو ژباړې د دریم ټوک په وروستي (۹۸۲) مخ کې د لیکوال دا عبارت را ژباړل سوی دئ: «د الله رب العالمین شکر دی چه خاص د هغه په توفیق سره نن د زیارت په ورځ د صبا په وخت (۸/ محرم الحرام ۱۴۲۱ هـ) دا تفسیر پوره شو.» څو کرښې وروسته بیا د لیکوال دا عبارت راوړل سوی دئ: «د الله شکر دی چه نن د جمعې په ورځ د مازیګر مونځ نه پس مطابق (۸/ جمادی الاولی ۱۴۲۱ هـ) په حرم مکی کښې د دې د چهپائی د تصیصح کار هم مکمل کړی شو.»

ماچې د دې یادانښت دلیکلو پر مهال د دې تفسیر کم ټوکونه لیدلي دي، نو د لیکوال د پورتني عبارت څخه پر ته نور داسې قرائن مي و نه لیدل، چې د هغو له مخې دي د دې تفسیر د ژباړلو او چاپ وخت ورڅخه معلوم کړل سي.

ډاکتر لقمان په مسلکي لحاظ سلفي او غیر مقلد دئ (چې تفسیرئې هم تر هم دې نظر او فکر لا ندې لیکلی دئ)، د مدینې منورې له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته د سعودي عربستان، درياض په دارالافتاء کې د دعوت او ارشاد په شعبه کې په کار مصروف سوی دئ او هورې ئې د

هندوستان څخه و سعودي ته د کار و بار له پاره د ورتلونکو کسانو له پاره دا تفسیر په اردو ژبه لیکلی دئ. (اصول التفسیر و علوم القرآن ـ ۳۴۹ - ۳۵۰ مخونه)

۱۱. د قرآني لغاتو آسان حل:

دا د قرآن کریم سختو او ګرانو لغتونو او اصطلاحاتو دتشریح قاموس دئ، چې د پېښور اوسېدونکي (مولانا شاه فیصل) تالیف کړی او د (فیصل کتب خانه، محله جنګي، پشاور) له خوا په یوه ټوک (۷۲۵) موخونوکي خپور کړل سوی دئ، خو د چاپ او خپرېدو کال ئې نه دئ پر لیکل سوئ. دکتاب د وقایې ورو سته په ورپسې مخ کي د دې لیکني خصوصیات داسي لیکل سوي دي: «دقرآن پاک د مشکلو لغاتو لغوي صرفي او نحوي حل په کښې په آسانه طریقه شوې دې؛ د کوم په لوستلو سره چې د قران پاک د لغاتو پیژندګلو سره سره په یو طالب علم کښې صرفي او لغوي استعداد هم پیدا کیږی.»

دا لیکنه د قرآن کریم دسپپارو په ترتیب سوې ده او د هر سورت سخت او ګران الفاظ ئې په صرفي او نحوي لحاظ پکښې معنا او تشریح کړي دي او ځای ـ ځای ئې هغه ماخذونه هم، چې استفاده ور څخه سوې ده په متن کي دننه راوړي دي، خو نه ئې د ماخذ جلد او نه ئې صفحه ښوولې ده.

ماچې د دې یادښت دلیکو له پاره دا قاموس کتلی دئ، نو پر دغو ماخذونو پېښ سوی یم، چې د کتاب په متن کي دننه ئې په قوسونو کي نیولي دي، تفسیر مظهري، تفسیر بیضاوي، تفسیر ماجدي، معارف القران، تفسیر جلالین، معجم الوسیط، مصباح الغات، منجد، اعراب القرآن، بیان القران، لغات القران، بخاري، مسلم، ترمذي اوله دې پر ته کېدای سي نور هم وي.

دیادوني وړده، چې مولانا شاه فیصل دوفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده فاضل او دپېښور پوهنتون د عربي ژبي او اسلامیاتو د ماستری څخه هم فارغ دئ. پر دې لیکنه سر بېره، دفهم القران په نامه دقرآن کریم تحت الفظي ټکي په ټکي او روانه ژباړه، د تفسیر خیر کثیر په نامه، حافظ عمادالدین ابن کثیر رحمه الله معتبر او مشهور تفسیر هم پښتو ته ژباړلی او په شپږو ټوکونوکي چاپ سوی دئ. د دې سره څونوري ګټوري ژباړي، شرحي او لیکني ئې هم په پښتو ژبه خپرې سوي دي.

۱۲. دقرآن کریم د ځینو لغاتو معنا:

دا په (۵۴) مخونو کي د قران کریم دیو شمېر لغتونو او کلمو معنا ده، چې لیکوال ئې د سر محقق مرستیال مولوي زین الله منلی دئ او د (کتاب ښار) خپرندویه ادارې له خوا په (۱۳۹۱ هـ) کال کي چاپ سوی دئ. لیکوال ئې د لیکني په اړه په لومړي مخ (سریزه) کي لیکي: «... د الله جل جلاله په دغه کتاب کې ځینې داسې احکام راغلي دي چې زماپه اند په معنا ګانو (ئې) پوهېدل ضروري دي، نو په دغو معناګانو د خان پوهولو له پاره مې د لغاتو له کتابونو څخه لکه مختار المصباح، المنجد او د جلالینو شریف له تفسیر څخه کار اخیستی دی»

دقراني اصطلاحاتو دالنډکی غوندي قاموس د لغاتو د مشهور کتاب المنجد په ترتیب ـ ترتیب سوی او د هري کلمې چي معنا کیږي و مخ ته ئې د سورت نوم او د آیت شمېره هم لیکل سوې ده.

د یادونې وړ ده، چې دا د قرآني لغاتو تشریح او قاموس هغسې چي باید په پوره دقت او معیاري ډول لیکل سوی او ترتیب سوی وای، ترڅو لوستونکو ښه او په اساني سره استفاده ور څخه کړې وای، نه دئ لیکل سوئ، نه پوهېږم، چې دا به دکمپوز او چاپ والو غلطي وي او که به ضعف او کمزوري دلیکوال وي؟

نور بیا...



پوهنیار محب الله ترابي

دغزلبڼ استعارې

ګوره د مین په لندو سترګو کې
سطحې ته په خپله در دانه راځي

(۴۴۷:۱)

په دې بیت کې له (در دانه) کلمې څخه څه مانا اخلئ؟ او هغه مانا، چې تاسو ترې اخلئ وجه ئې څه ده؟

او د دې اخیستل شوي مانا او (در دانې) ترمنځ اړیکه څه ده؟

دې او دې ته ورته پوښتنې د دې بیت په لوستو د سړي ذهن ته راځي او د حل له پاره ئې په لاندې کرښو کې هڅه کوو.

که لومړی دغو پوښتنو ته ځواب وایو؛ نو وایو، چې له (در دانې) څخه د (اوښکو) مانا اخلو او علت ئې په لومړۍ مسره کې د (سترګو) د کلمې یادونه ده، چې زموږ ذهن اوښکو ته هڅوي. د دریمې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو، چې د دواړو مانا وو ترمنځ اړیکه د تشبېه یا مشابهت ده. یعني اوښکې له دردانو سره تشبېه شوې دي. د بیان پوهنې د علم له نظره دا چې په پورته بیت کې یوازې (دردانه) ذکر شوې او بل اړخ، چې اوښکې دي نه دي ذکر شوي؛ خو ځینې نښې شته چې موږ ئې پوا سطه اوښکو ته تلای شو؛ نو دې ته استعاره وایي. په لغت کې پور اخیستلو ته وایي. په اصطلاح کې د څه مشابهت له وجې یوه کلمه د بلې پر ځای کارولو ته وایي.

هغه څه چې زموږ ذهن منصرف کوي (لکه په پورته بیت کې د سترګو کلمه) او د دردانې نه د اوښکو مانا اخلو دې ته قرینه وایي. یعني دا هغه نښه ده، چې زموږ ذهن د کلمې له حقیقي مانا څخه مجازي مانا ته انتقالوي.

ښه! چې خبره د مشابهت وي یا وایو، چې تشبیهي اړیکه په کې وي؛ نو له تشبېه سره ئې توپیر په څه کې شو؟

استعارې ته د تشبېه پر مختللې شکل هم ویل کېږي. یعني که موږ له یوې تشبېه څخه د تشبېه توري او یو اړخ لرې کړو؛ نو تشبېه په استعاره بدلېږي او بله خبره دا ده، چې په تشبېه کې د طرفینو ترمنځ په یو یا څو صفتونو کې د مشابهت خبره وي؛ خو په استعاره کې بیا د یوشانوالي خبره ده، یعني په استعاره کې شاعر دا نه وایي، چې اوښکې لکه دردانې داسې دي. بلکې وایي، چې دردانې دي. یا هم کولای شو ووایو، شاعر ته د اوښکو بل نوم دردانې دي.

اوس را خو دې ته، چې له دردانو څخه موږ پور واخیست نو دې ته په استعاره کې مستعارمنه یا د تشبېه «مشبه به» ویل کېږي او دا پور مو د اوښکو له پاره واخیست، دې ته مستعار له یا د تشبېه «مشبه» ویل کېږي. د دواړو ترمنځ ګډو صفاتو او خصوصیاتو ته وجه جامع یا د تشبېه «وجه شبه» ویل کېږي.

تر دې ځایه مو پر استعاره خبري وکړې؛ خو زموږ موخه دا ده، چې د استاد پسرلي غزلبڼ و سپړو او د شعر و ادب مینه والو ته د استاد د شعري خواک دا اړخ هم ښه ترا څرګند شي.

استاد په خپل کلام کې د بیان پوهنې یوه برخه هم نه ده پرې ایښې او په هره برخه کې د کمال تر حده ځان رسولی دئ. دا چې دا موضوع مو ښه څېړلې وي؛ نو د استاد د کلام بېلګې د استعارو پر دوو اساسي ډولو وېشو او سپړو یې.

استعاره هم لکه تشبېه ډېر ډولونه لري؛ خو اساساً استعاره پر دوه ډوله ده.

- ❖ مصرحه استعاره
- ❖ مکنیه استعاره (تخیلي)

۱ – مصرحه استعاره

موږ مخکې یادونه وکړه، چې په استعاره کې یو اړخ پټ وي او یو څرګند. که د مشبه اړخ یا (مستعار له) پټ یا ورک وو؛ نو دې ډول استعارې ته مصرحه استعاره وایي.

نیمه شپه کې سپینه سبا چا لیده؟
مالیدله، مالیدله، مـــــــالیده

(۱: ۳۸۱)

ګوری! په دغه بیت کې «شپه» او «سپینه سبا» استعاري کلمې دي. «شپه» د «زلفو» او «سپینه سبا» د «محبوب د مخ» څخه استعارې دي. یعني شاعر د محبوب زلفې شپه بللې او مخ یې سپین سبا بللی دئ. «د چا لیده؟ او مالیدله، مالیدله، مالیده.» هغه قرینې دي، چې زموږ ذهن یې د کلمې له اصلي مانا وو څخه مجازي مانا وو ته انتقال کړی دئ. اوس که موږ دا د استعارې د ارکانو په شکل وېشو نو لیکو:

مستعار له: زلفې، مخ

مستعار منه: شپه، سپینه سبا

وجه جامع: توروالی، سپینوالی

نه راتلې، پوښتنې ته مې نه راتلې
لار دې مګر لمره چا ترلې وه؟

(۱: ۳۲۵)

ګوری! په پور ته بیت کې لمر مستقیماً مخاطب شوی او خبري ورسره شوي دي. مانا دا چې استاد یار یا اشنا «لمر» بللی دئ. دا چې موږ وایو په استعاره کې د یوشانوالي خبره وي همدا یې ښکلی مثال دئ. دلته دا فکر سړي سره پیدا کېږي، چې دا لمر د اشنا یو بل نوم دئ. نو اشنا له لمر سره تشبېه شوی او بیا له همدې استعارې یو اړخ چې اشنا دی لیرې شوی دئ او پوښتنې ته نه راتلل یې قرینې دي. یانې په پور ته بیت کې هم مستعار له ورک دئ

او مستعار منه موجود دئ. دې ډول استعارې ته مصرحه استعاره وايي.

ماخله پلو، ماخله پلو، څه اخلې
وريخي به څه ونيسي د لمر مخه

(۴۹۲:۱)

په پورته بيت کي لومړی يو ښکلې تشبيه وينو. پلو له وريځو سره تشبيه شوی دی، چي د لمر مخه نيسي او شاعر وايي، چي ته دي پلو مه اخله ځکه، چي دا وريځي د لمر مخه نه شي نيوای. د لمر څخه د شاعر موخه د يار (مخ) دئ، چي دلته نه دئ ذکر شوی او پلو اخيستل هغه قرينه ده، چي موږ له لمر څخه د مخ مانا اخلو.

د دانې خوند مي ډېر ځکلی دی زړه
څه وخته پر پرده خوند د دام واخلم

(۳۱۸:۱)

په پورته بيت کي استاد دوې کلمې استعاره کړي دي. دانه ئې د خال له پاره او دام ئې د زلفو له پاره. يا په بله وينا خال ئې له دانې سره او زلفي ئې له دام سره تشبيه کړي دي؛ خو خال او زلفي نه يادوي. خوند ځکل ئې قرينه ده. د لوستونکو د ښه ترا پوهېدا له پاره ئې د استعارې ارکان داسي ټاکو:

مستعار له: خال، زلفي

مستعار منه: دانه، دام

وجه جامع: شکل، حلقه والی

لاس چي لکه سيوری هر د يوال پوري نيولی څم
پيښو يم روند کړی او امسا راڅخه ورکه ده

(۴۴۸:۱)

لار ښود (رهنما) له امسا سره تشبيه شوی دئ. امسا استعاره شوې ده او دا چي شاعر وايي: پيښو يم روند کړی؛ نو ځکه موږ د امسا څخه د رهنما مانا اخلو. استعاره په عمومي صورت کي په تصوير سازۍ کي تر تشبيه ډېره ونډه اخلي؛ نو ځکه ئې د تشبيهاتو ملکه هم بولي.

استاد له خپل هېواد او هېوادوالو سره ډېره مينه لرله او په همدې وجه دغې مينې د ده شعر ته هم سرايت کړی دئ؛ وايي:

بيا دي دادم بچي له خپل جنته وايستل
خپل جنت مو راکړه خير که حوري او مزې نه وي

(۴۰۵:۱)

استاد په پورته بيت کي أفغانان يا خپل هيوادوال د ادم بچي ګڼلي او خپل هيواد (افغانستان) ئې جنت ګڼلی دئ. د (خپل) اشتراکي نومخري پواسطه موږ د استاد د شعر اصل ته رجوع کوو، چي همدا ئې قرينه ده. استاد د وخت ظالمانو ته خطاب کوي، چي افغانان مو له خپل هېواده وايستل. موږ ته همدا خپل جنت راکړئ، خير که حوري او مزې په کي نشته. مانا استاد له استعارو څخه ښکلې استفاده کړې. ډېر ښکلي موضوعات ئې په ډېره تصويري ژبه وړاندي کړي دي. د دې بيت د ښه ترا پوهېدا له پاره ئې وضاحت داسي کولای شو:

مستعار له: افغانان، جنت

مستعار منه: د ادم بچي، افغانستان

نو دا چي مستعار له ورک دئ، په دې بيت کي نو ئې ځکه مصرحه استعاره بولو. که موږ د ټولو بيتونو سپړل په همدې شکل کوو؛ نو خبره به ډېره اوږده شي؛ نو دلته اړيم، چي نور نو يوازي د استاد د شاعرۍ د بېلګو پر راوړلو بسنه وکړو.

د هجر له تورتمه وي مهجور ستوري خبر

د تورو شپو کیسې له روڼه لمره مه پوښتنه

(۱: ۵۰۱)

زه به د شکوې خوله په جوړه قلفونو وترم

تاکه مې د زړه د پرهرونو خولې ګنډلې وي

(۱: ۵۲۶)

په دې دوو بیتونو کې (مهجور ستوري) له مینانو یا عاشقانو او (جوړه قلفونه) له شونډو استعارې دي.

ستا د خولګۍ مینه مې پسرلی کړي چې را یاده شي

یوه لمن غوټۍ مې په خاطر کې غوړېدلې وي

(۱: ۵۲۶)

ستا د را تلو غږ که پسرلی نه وي

څنګه نیمه خوا ګلونه وخاندي؟

(۱: ۵۴۹)

په لومړي بیت کې (پسرلی) له خوشحاله او (غوټۍ) له هیلو څخه او په دویم بیت کې (ګلونه) له عاشقانو څخه، خو مایوس عاشقان، ځکه نیمه خوا خپله کنایه ده له مایوس څخه او په عین حال کې همدا د همدې بیت قرینه هم ده.

بس به زې، ډېر دي په تیارو کې د ژوند وساتلو

زلفې یوې خواته کړه له لارې سحر مه اړوه

(۱: ۱۰۸۳)

زه له زړه خبر نه یم او زړه په ما

ګرځي لړي، لړي مې له تنه زړه

(۱: ۶۵۴)

زما یې په سینه کې ډېرین زړه سره څه دي

مرموزه موسکا وینم د صنم له لړي لړي

(۱: ۴۴۴)

سترګې دي بیا راواړوه چې د بڼو غشي یې

د لمر وړانګې شي د شفق له سره لړمونه ووځي

(۱: ۳۱۷)

په پورته څلور واړو بیتونو کې په ترتیب سره (سحر) له مخه، (زړه) له محبوب یا محبوبې نه، (صنم) له معشوقې او (شفق) هم له عاشق څخه استعارې دي. همدار نګه په لومړي بیت کې د زلفو کلمه په دویم بیت کې لومړۍ مسره، په دریم بیت کې مرموزه موسکا او په څلورم بیت کې له سره لړمونه وتل، هغه قرینې دي، چې په مرسته ئې موږ مجازي مانا درک کولای شو.

خوله خوله شوه لکه شمه د مین په لیدو

د پېغلتوب حیا د حسن نښتېځل ګلونه

(۱: ۳۵۶)

ګورئ! په دغه بیت کې لومړۍ حسن د محبوبې له پاره د جز په شکل کارول شوی دئ، چې مرسل مجاز ورته وایي، چې دلته زموږ د بحث موضوع نه ده او بیا ګلونه له مخ څخه استعاره ده، چې مخ مستعار له او ګلونه مستعار منه دي، چې د مصرحې استعارې بېلګه یې بللای شو.

نورې بېلګې:

غواړم چې دا توري وریځې تېرې شي

سرې لمنې، سره راغونه وخاندي

(۱: ۲۱۵)

چې پسرلی شي، پسرلی به دې پابوس ته درځي

خـــیر که په ژمـــي اوروي واوري، ږلی له سترګو

(۱۴۱:۱)

واک چـــې یـــې تاکسو ته وروسپاره

باز یې غوښت خو بوم ګوتو ته ورغی

(۳۹۹:۱)

۲- مکنیه استعاره

په مصرحه استعاره کې مو د مستعار له یا مشبه د حذف خبره کړې وه، دلته نو برعکس د مستعار منه (مشبه به) د حذف خبره ده او مستعار له موجودوي: خو په کلام کې مستعار منه د خپلو متعلقاتو له مخې پېژندلی شو. په دې ډول استعاره کې مشبه به اکثراً یو ژوندی سری وي. ډاکتر احسان الله درمل د دې استعارې په اړه ښکلی و ضاحت ورکوي، چې: «په دې ډول استعاره کې شاعر یو شی له بل سره داسې تشبیه کوي، چې د مشبه به یوه یا څو ځانګړنې مشبه ته په پور اخلي، په دې حالت کې مشبه به زیاتره یو ژوندی سری (معمولاً انسان) وي، چې شاعر یو شی ور سره په زړه کې تشبیه کوي او بیا د انسان (یا بل ژوندي سري) ځینې ځانګړنې مشبه ته ورکوي.»
(۹۲:۲)

استاد پسرلی وایي:

د غـــوټۍ بـــزه ګربـــوان تـــه نه ګوري بېدرده بورا

په سترګو رونډ ورته غوړ ایښی چې خندا یې واوري

(۴۴۵:۱)

په پورتـه بیت کې (د غوټۍ بزه ګربوان) مکنیـه استعاره ده. غوټۍ له مظلومې او بېوسې ښـځې یا نجلۍ سره تشبیه شوې ده او بیا د همدې مظلومې یوه ځانګړنه، چې (څیري ګربوان) ده ورسره یاد شوی دی او دا هغه متعلقات دي، چې موږ پرې مستعار منه درک کولای شو:

نو اوس موږ په پورته بیت کې د استعارې ارکان داسې ټاکلی شو:

مستعار له: مظلومه او بېوسه نجلۍ.

مستعار منه: غوټۍ.

وجه جامع: د ګربوان څیرل په مستعار له کې په حقیقي شکل او په مستعار منه کې په خیالي شکل د غوټۍ غوړېدل مراد دي.

قرینه: څیري ګربوان د مستعار منه د متعلقاتو یا ځانګړنو سربېره قرینه هم ده.

همدارنګه د بورا کلمه هم په استعاري شکل کارول شوې ده. ظالم له بورا سره تشبیه شوی دی؛ نو ظالم مستعار له او بورا مستعار منه ده، چې دا برخه ئې د مصرحه استعاره بللای شو.

چې د حسن زړه غوړ بېږي پرې پـــسرلیه

سرې لمبې مې دي قبولې، سور انګار هم

(۲۸۸:۱)

په دې بیت کې (د حسن زړه) مکنیه استعاره ده. حسن له محبوب یا معشوقې سره تشبیه شوی، چې خپله معشوقه نه ده ذکر. خو د هغې متعلقات یا یوه ځانګړنه (زړه) ورسره یاد شوی دی. یعني شاعر وایي، چې که د محبوب مې په دې هم زړه خوشحالېږي: نو سرې لمبې او سور انګار مې دواړه قبول دي. اوس نو حسن مستعار له او محبوب به مستعار منه ده، چې نه ده ذکر شوې، په دې خاطر دې ته مکنیه استعاره وایو. دا چې موږ د مستعار منه درک په خیال کې کوو: نو ځکه ئې ډېرې پوهان تخیلي استعاره هم بولي.

له شرمه ویلي شه حبابه څنګه سپکه غواړې

مـسته څپه شه، مــه بار بېره د پردو په اوږو

(۱: ۴۳۲)

که دغه بیت ته فکر وکړو؛ نو پوهېږو، چې حباب له انسان سره تشبیه شوی دئ او خطاب ورته شوی دئ، چې د پردو په اوږو باید بار نشي. سپکه غوښتل او خپله خطاب هغه ځانګړنې یا متعلقات دي، چې موږ پرې دا ډول استعاره درکولای شو. فکر کوم په دې ډول استعارو کې د مستعار منه یا مشبه به ځانګړنې خپله د قرینو دنده هم ترسره کوي. یعني هغه کلمې یا جملې، چې موږ د مستعار منه ځانګړنې بولو قرینې هم وي.

مستعار له: حباب

مستعار منه: انسان

وجه جامع: بار بدل

نه ده د غرور لمن دي حسنه د پر ښوو نه ده

هر څـو لــکه کـانې تـر کمرو را غړېدلی یم

(۱: ۵۶۵)

په پورته بیت کې حسـن مسـتعار له او معشـوقه مسـتعار منه دی او د غرور لمن لرل د مسـتعار منه له ځانګړنې سر ببېره قرینه هم ده.

کاشکي کانه شوای د فلک غوړونه زما په چیغو

لــکه بلـبل یم په قفس کــــي له بستانه پاته

(۱: ۱۶۳)

په دغه بیت کې فلک د یو ژوندي سـري په شـکل وینو؛ نو شاعر څکه له ظالم انسان سره ورته بللی دئ؛ نو ظالم انسان مستعار منه او فلک مستعار له دئ او غوږونه یا د چیغو اوریدل د مسـتعار منه له ځانګړنو سـر ببېره قرینې هم دي.

مسته د پسرلي وږمه چې رغبته په ګلو نو کې

مــاهــم د زړه شـوخـه تمنا په غېږ کې ونیوله

(۱: ۵۵۸)

په پورته بیت کې وینو، چې تمنا په غېږ کې نیول شـوې؛ نو په اسـانه پرې پوهېږو، چې د مکنیه اسـتعارې ښکلې بېلګه ده.

د مرحوم استاد پسرلي استعارو ته که ډېر خیر شو؛ نو د مصرحې استعارې سره ـــ سره ئې مکنیه استعارې هم کارولي دي، چې د همدې نه هم موږ د استاد هنري څواک ته ګو ته په غابښ کېږو. دا د ټوموړي د شـاعرا نه څواک ښکارندویي کوي. هسې هم استعاره د تشبېه په پرتله په تصویر سازۍ کې کارنده او زیاته ونډه اخلي. ډېر ساکن یا غیر ژوندي اشیا په حرکت راولي، څکه خو د تشبېه ملکه بلل شوې ده. استعاره د خیال پارولو قوت لري او سپړل ئې هم ژور فکر ته اړتیا لري؛ خو استاد د کلام د هنري کولو له دې وسیلې هم ښکلې استفاده کړې ده.

ماخذونه

۱- پسرلی، محمد صدیق .(۱۳۹۰ ل.ل). غزلې. میدان وردګو ولایت، افغان مسلکي مطبعه.

۲- درمل، احسان الله .(۱۳۹۵ ل.ل). شعرستان. کندهار؛ ښـوا فرهنګي ټولنه.

استاد حیات الله رفیقي

په ټولنه کې د مطبوعاتو او رسنیو ونډه

که موږ دیو څو شیبو لپاره خپل ټولنیز ژوند د اوسني شرایطو په چوکاټ کې د تېر وخت سره د پرتلې په ډول تر څېړنې لاندې ونیسو دا به راته څرګنده سي، چې موږ ننن نسبت و پرون ته د مطبوعاتو په هرم کې کوم ځای ته رسېدلي یو او زموږ دستر ګو په وړاندي په ټولنه کې درسنیو او مطبوعاتو په واسطه کوم مثبت تغیرات او پرمختګونه رامنځته سوي دي.

دلته دا خبره باید ومنو، چې مطبوعات نن ورځ د یو ټولنیز سازمان په حیث په یومنظمه پوهه، هر اړخیزه، معلومات، افاقي حقایق، دپوهي معرفت او یو لړ نورو مفکورو روښانتیا انځوروي.

د مطبوعاتو او رسنیو اهداف او موخي دفعالیتونو په چوکاټ کي د پوهي، فرهنګ او د ټولني د اذهانو په روښانولو کي ستره ونډه لري. ننني نړۍ د مطبوعاتو د عامه تبلیغاتو د وسایلو د پراختیا او رسنیو د فعالیتونو په واسطه ډېره کوچنۍ او وړه سوې ده. د نړۍ ملتو نه او اولسونه د همدې رسنیو په برکت سره نژدې سوي دي، دبله اړخه مطبوعات او رسنۍ د ټولني دهنداري حیثیت هم خپل کړی او دغه مطبوعات او رسنۍ دهیوادونو ژبه بلل سوي دي. دیوې ټولني وده او پرمختګ د هغه هیواد د مطبوعاتو او نشراتو له رویه ارزیابي کېدای سي.

که موږ د مطبوعاتو دتېر تاریخ پاڼي راوسپړو دا به راته جوته سي، چي کومي پرګنې او اولسونه چي پخوا تېر سوي دي دهغو خلکو دټولنیز نظام پرمختګ، تمدن، کلتوري، اقتصادي، تخنیکي، علمي او فرهنګي معیارونو لمخي دتاریخ پوهانو د فن د متخصصینو او هنرمندانو لخوا چي ټاکل سوي دي دا ټول د هغو د فرهنګي او مطبوعاتي اثارو د جملې څخه ګڼل کېدای سي.

تېر اولسونه او پرګنې نن زموږ سره په فزیکي ډول وجود نه لري مګر دهغوی فرهنګي او مطبوعاتي اثار اوس څه ناڅه لاسو ته راغلي دي، چي د دغو اثارو د مطالعې څخه دانتیجه اخستل کېدای سي، چي هغه دتاریخ په بهیر کي تر کومه ځایه د ترقی او پرمختګ پړاوونه شاته پرې ایښي دي او د اوسنیو ټولنو سره د هغو ټولنو د ژوندانه دسطحي په اړوند کومي ګډي اړیکي موجودي دي. یا که کومي ناخوالي او نیمګړتیاوي په هغو ټولنو کي موجودي وي او بلاخیره د اوسنیو ټولنو سره د پرتلې په ډول کومي

شبکني، پرمختګو نه او یانیمګړتیاوي اویاوروسته پاتي والی نې لاره.

خو دننني نړۍ ټولنې چې موږ نې ګورو او یا نې اورو د سیانس او تکنالوژۍ په رامنځ ته کېدو نې د ژوند په هر اړخ کې حیرانونکي پرمختګو نه وانساني ژوند ته نې په ارمغان راوړي دي، چې دا ټول پرمختګ تـه اولاسته راوړ نې د نشراتو او مطبوعاتو په تو سیع پوري مستقیم اړه لري داپه دې معنی، چې دیوې ټولنې او یایو ماحول دوګړو ذهني وده دنشراتو او فرهنګي چارو په پراختیا پوري تړلې ده. همدارنګه دښوونې او روزنې په اړه هم محیطي او چاپېریالي اثرات هم په پراخه اندازه برخه لري، څونده چې چاپېریال پرمختلليير سنې او نشـران ولري په هغه اندازه د ښوونځیو شاګردان هم تکړه اوذهین وي، زیار باسي چې دخپلو ټولګیوالو په منځ کې ښـه وځلېږي او مثبت نتایج لاسته راوړي.

لنډه داچې فرهنګ اونشرات د یو ټولنې دملاتیر جوړه وي، چې بلاخیره د هغې ټولنې د ارتقاء، د خلکو دسوکالۍ او مرفه ژوند باعث کیږي.

دلته زما پیغام زموږ ګرانو ښوونیزو فرهنګپالو او دوطن دپرمختګ مینو ځوانانو تـه دادئ، چې فرهنګي چاروته لیڅي راونغاړئ ترڅو چې له یوه اړخه په هیوادکې دپردیو فرهنګي یرغل ګرو ګوډاګیانو ته مو پرخوله سخت ګوزار ورکړی وي او دبله اړ خه به مو دخپل ګران هیواد خپل سوی اولس داوسني ګرغیږ حالت څخه دخلاصون پرلوري هڅولی وي. ترڅو دا بېچاره اولس دبې سیوادۍ، فقر، بېکارۍ او د غیري مستقیمي غلامۍ د ځنځیرو څخه خلاص او په خپل هیوادکې دپخواپه څېر دیو ارام او مرفه ژوند څښتنان سوي وي.

درنولوستونکو! داچې زموږ په ګران هیواد (افغانستان) کې صحافت او ژورنالیز پوره یوه نیمه پېړۍ عمر لري، چې په همدې کلونو کې بېل ـــ بېل مطبوعات منځ ته راغلي او چاپ سوي. اسناد تردې وخت زموږ په کتابونوکي د ډېرو معتبرو او ارزښت لرونکو اسنادو په توګه خوندي دي، خوخیني بیا د هیواداو فرهنګ دښمنانو او یا ناپوهو دلالانو پرپردیو هیوادو باندي وپلورل او یا نې وسوځل.

زموږ په ګران هیواد کې دنولسمي میلادي پېړۍ په درشل کې دنوو مطبوعاتو او د ژورنالیزم درامنځ ته کېدو په وسیله دنوي غورځنګ فکر رامنځ ته سو، چې د دې فرهنګي او ژورنالستکي حرکت رامنځ ته کېدل نن زموږ د هیواد په ټولنیز تاریخ کې یو مهم او غوره مظهر ګڼل کیږي. په دې نوي غورځنګ کې د هغه وخت لیکوالانو، شاعرانو، فرهنګیانو او دخلانده فکرخاوندانو لوی اوستر رول لاره. داخبره هم د یادولو وړ بولم چې زموږ په هیواد (ګران افغانستان) کې د مطبوعاتو دبنسټ ډېره دلومړي ځل لپاره د هیواد دنابغه اوستر سیاسي، فرهنګي او یو ز بردست دیني عالم سید جمال الدین افغان لـه خواکښېښوول سول.

د هیواد دمطبوعاتو په تاریخ کې دلومړنې لیکلي اخبار څرک په کال (۱۲۴۳ ل) کې د امیر شیر علي خان دپاچاهۍ په دوره کې د کابل په نامه د سید جمال الدین افغان په لاس لیکلی اخبار وو، چې په دوو رسمي ژبو (پښتو او دري) لیکل سوی وو.

په خواشنۍ سره باید ووایو چې د دې نشرې کومه نسخه او یا بولګه د هیواد په ارشیف کې لا تراوسه نه ده لیدل سوې خو ډېرو پوهانو، لیکوالانو او تاریخ پوهانو په خپلو یادابنتو اولیکونو کې د دې نشرې په اړوند لیکلي

دي، چي دا نشريه د هندوستان هيواد د قلمي نسخو په ارشيف کي ترسترګو سوی ده.

دبلي خوا هغه لومړنۍ جريده، چي په چاپي بڼه دهيواد په مطبوعاتوکي رامنځ ته سوې ده، هغه په کال (۱۲۵۸ ل) کي دشمس النهار جريده وه.

نوموړې جريده د (ليتروګرافي) په بڼه د عبدالعلي خان او عبدالقادر خان دمسئولو مديرانو له خوا خپرېده او همدې جريدې (شمس النهار) نسخې دنېکه مرغه تراوسه پوري دکابل په کتابتونوکي پاته دي.

په خواشـنی سره بايد ووايم، چي دامطبوعاتي غورځنګ د امير عبدالرحمن په دوره کي ځفه سو او په هيواد کي هيڅ ډول خپروني نه نشر ېدلې. که څه هم د امير عبدالرحمن خان په وخت کي د (دارالسلطنت) په نامه رسمي مطبوعه موجوده وه. خو په دغه وخت کي زموږ د هيواد سياسي وضع د هغه وخت دګاونډيانو، لکه: روسانو، ايرانيانو او انګريزانو د مداخلو اولاس وهنو په واسطه ډېره خرابه سوې وه، چي زموږ د هيواد دښمنانو دنن په څېر د دې وضعي څخه ګټه پورته کول.

لنډه دا چي زموږ په هيوادکي دغه فرهنګي اختناق اوچوپتيا نژدې دېرش کاله دوام وکړ، ترڅو چي عبدالرحمن خان وفات سو او زوی ئې امير حبيب الله خان دواک پرګدۍ په کال (۱۳۸۵ ل) کښېنستی. د ده دسلطنت سره يوازي په هيواد کي د دوهم ځل لپار د مطبوعاتو فعاليت راپيل کړ. يا د امير حبيب الله په وخت کي په هيواد کي مطبوعاتو خپل دوم ګام را او چت کړ او ډېر ژر ئې دوهمه پاچاهي خپرونه د (سراج الخبار افغانستان) په نوم جريده، چي د هيواد دمطبوعاتو په تاريخ کي دوهمه خپرونه وه، چي د عبدالرحمن کندهاري په مشرۍ خپرېدل.

دسراج الخبار د خپرېدو ورانديز و اميرحبيب الله خان ته د هغه د روښان فکرانو د يوې ډلي له خوا وسو، په دې ډله کي هغه کسان راټول سوي وه، چي په شاهي مدرسوکي ئې زده کړي کړي وې، په دغه وخت کي دغو کسانو په کابل کي د افغاني پوهانو په انجمن کي فعاليت کاوه او پنځلس ورځي خپرونه ئې د (سراج الخبار افغانستان) په نامه د هيواد په مرکز کابل کي خپرول، که څه هم د دې جريدې د خپرېدو سره د هغه وخت د هند برتانوي حکومت موافق نه وو.

وروسته د لومړۍ ګڼې تر چاپېدو دا جريده (سراج الاخبار افغانستان) د چاپه ولوېدل او بنده سول، چي هغه لومړۍ ګڼه جريده اوس هم د کابل کتابتون په ارشيف کي خوندي ده.

دا هڅي دجريدې په اړوند لاټپې نه وې د ر ېدلې، چي يوځل بيا په کابل کي په کال (۱۲۸۲ ل) کي د سراج الاخبار افغانيه ترسرليک لاندي د محمود طرزي په مشرۍ په خپلو خپرونو پيل وکړ، چي دغه نوموړې جريده له (۱۲ څخه تر۱۶) مخونو پوري چاپېدل، چي د دې جريدې ډېرمضامين د خپلواکۍ پر مطالبو راچورليدل، چي يووار بيا انګريزانو امير حبيب الله خان ته د جريدې د بندولو ګوت څنډنه وکړه او امير هم دانګريزانو په اشاره محمود دطرزي ته امر وکړ، چي د سياسي مقالو دخپرولو څخه دي ډډه وکړي، خو محمود طرزی پرځای د دې چي د امير حبيب الله خبرداری په نظرکي ونيسي، بلکي د خپلو ملګرو (روښان فکرانو) په مرسته ئې د سياسي خپلواکۍ ږغ را وچت کړ، چي په دې حرکت سره امير حبيب الله عکس العمل وښود او پر محمود طرزي ئې د مالي امکاناتو بنديز ولګاوه او د جريدې د ځای دبدليدو امر ئې وکړئ. د دې امر په اورېدوسره محمود طرزی ناچاره سو، چي د جريدې د

طباعت ټول توکي او سامان د عبدالرحمن لودین په مرسته د عبدالهادي خان داوي کورته یووړل او د داوي د یوشعر په خپرېدو سره دوی دواړه (شعر ویونکی او لیکونکی) بندیان سول چي ورسره سم د دې جریدې خپروني بندي سوې.

د امیر حبیب الله د پاچاهی تر پایه دا حالت همداسي کرکېچن وو، چي بلاخیره د امان الله د پاچاهی په وخت کي په کال (۱۳۰۳ ل) کي د مطبوعاتو لمړی قانون نافذ سو، چي د دې قانون د نافذېدو سره جوخت په هیواد کي ډېر ستر فرهنګي بدلونونه رامنځ ته سول. په هغه وخت کي پر هیواد او اولس مینو روښانفکرانو او فرهنګیانو د مطبوعاتو په برخه کي ډېر ستر دقدر وړ خدمتونه سرته ورسول او په دغه ویاړلي دوره کي مختلفي خپروني، لکه : انس، پښتون ږغ، افغان او داسي نوري خپروني له چاپه را وایستلې، دغه دوره زموږ دهیواد په تاریخ کي د ویښتیا د دورې په نامه یادېږي، چي په ټول هیواد کي دخپلواکی ولولي اورېدل کېدې.

په دغه ځلانده دوره کي دهیواد د مطبوعاتو په غوړېدلې لمن کي ډېري غیردولتي خپلواکي خپروني خپرېدلې، لکه د (امان افغان) جریده، چي دعبدالهادي داوي په مشرتابه ئې خپروني کولې. په همدې ترتیب د ښځو لپاره د (ارشاد النسوان) جریده خپریدل، چي دنجونو او ښځو لپاره به مضامین پکښي خپرېدل. داجریده په کال (۱۳۰۰ل کي دهیواد د ژور نالیزم د پلار محمود طرزي د میرمني (اسماء بي بي) او د هغې دورېرې (اغلي روح افزا) په ګډه داتو مخونو په تعداد په دري ژبه نشرېدل. د ارشادالنسوان جریده د شاه امان الله دپاچاهی په اخیر کال کي، چي د هیواد وخلکو دښمنانو د انګریزانو په اشاره دیو غله په واسطه په هیوداکي د انارشي تور پېځول د اسلام په نامه وغوړاه حالت خراب سو. د ارشاد النسوان جریده دنو ویاړو نو سره یوځای لمنځه ولاړل. تر نهو میاشتو اړو دوړ وروسته د وطن خلاصون رامنځته سو، دنادرخان دلنډي واکمنی وروسته د علیحضرت محمد ظاهرخان دوره راپیل سول، په دغه دوره کي ډېري ورځپاني، مجلې، جریدې او هم راډیوګاني رمنځ ته سوې چي دابیایو جلا بحث ایجادوي.

بریالی اسد

حجاب څنګه؟

حجاب په اسلامي نړی کي ډېر رول او اهمیت لري.

حجاب د حیا سمول دئ، حیا د غیرت نخښه ده، غیرت د احساس زېږنده ده او احساس پر مسئولیت راڅرخي.

که څوک ځان د دین په وړاندي مسئول احساس کړي، پکښي د غیرت قوه راپارېږي، چي په مرسته ئې د حیا منظر ته داخلېږي او د حجاب په ښکلو ملغلرو ځان سنګاروي.



جان محمد مهربان

جنسي ځورونه

په دفترونو او د زده کړو په مربوط ځایونو کې ښځې او نارینه دواړه د جنسي ځورنې سره مخ کیږي. څېړنې وايي، چې د جنسي ځورونې سره اکثره وخت ښځې خو کله ـ کله ئې نارینه هم قرباني سي. ورک حرسمینټ ټکي نیټ لیکلې دي، چې په ۲۰۰۸ مېلادي کال کې ئې له ۷۸۲ امریکایي کارمندانو څخه یوه ټلیفوني ټولپوښتنه وکړه. د دې ټولپوښتنې نتیجه داسې څرګنده سوه:

۱)٪۳۱ ښځې د کار وبار په ځایونو کې د جنسي ځورونې سره مخ سوي دي.

۲)٪۷ نارینه د جنسي ځورونې سره مخ سوي ول.

۳)٪۱۰۰ ښځو ویلي ول چې د جنسي ځورونې فاعل نارینه وه.

۴)٪۵۹ نارینه وو ویلي ول چې د جنسي ځورونې فاعل ښځې وې.

۵)٪۴۱ نارینه وو ویلي ول چې د جنسي ځورونې فاعل یو بل نارینه ول.

۶) د ټولپوښتنې سره سم، ٪۴۳ ښځې د خپل آمر له خوا ځورول سوي وې.

۷)٪۲۷ ښځې د لوړ رتبه مامورینو له خوا ځورول سوي وې.

۸) ٪۱۹ ښځې د همرتبه نارینه مامورینو له خوا ځورول سوي وې.

۹) ٪۸ ښځې د کښته رتبه مامورینو له خوا ځورول سوي وې.

یوې نجلۍ، هلک یا ښځې ته ویل چې ته ډېره ښایسته یې، د هغې پر اوږه لاس ایښوول، هره ورځ د ډوډۍ خوړولو بلنه ورکول، له یوې ښځې سره د هغې د راتلوونکي پلان په اړه خبري کول، لڅ عکس ور ښکاره کول، شهواني تجربه ورسره شریکول، د ښځینه میاشتني

عادت په اړه مسخرې کول او... ټولې جنسي ځورونې دي. دغه او دې ته ورته حرکات به شاید په ځینو کلتورونو کې یوڅه سم معلومېږي خو وروسته بیا دغه ډول حرکات د ښځو، ماشومانو او نجونو په تاوان تمامېږي.

جنسي ځورونه هغه تکراري، ناغوښتل سوي، شفاهي او فزیکي عمل ته وایي چې د فاعل د خوښې او د مفعول د ناراحتۍ سبب ګرځي.

د جنسي ځورونې لومړی ډول پر شفاهي، فزیکي، لیدونکي او سایکالوجیکي ډولونو وېشل کیږي:

شفاهي جنسي ځورونه: په دفتر یا یو بل کاري ځای کې دوه نارینه همکاران د یوې ښځې په حضور کې مرداري ټوکې کوي، یا عشقي شعرونه وایي. ښځینه همکاره ورته وایي چې دغسې ټوکې مه کوئ! نارینه همکاران ئې خبرې ته غوږ نه نیسي بلکې ورته وایي چې دا خو صرف ټوکې دي. کله چې ښځینه همکاري له نارینه همکارانو څخه غوښتنه وکړه چې دغسې ټوکې ونه کړي مګر نارینه وو قصداً خپلې ټوکې په ښځینه همکاري اوړېدلې، چې نورو اړیکو ته لاره جوړه کړي. دغه ډول ځورونې ته شفاهي جنسي ځورونه وایي.

فزیکي جنسي ځورونه: یو نارینه کارمند یا رئیس خپله کارمنده پراوږه ټکوي. یو څوک پر اوږه ټکول دا معنی لري چې (ښه کار) دي کړی دئ مګر دغسې عمل په اصل کې یو ډول فزیکي جنسي ځورونه ده.

لیدونکې جنسي ځورونه: نارینه کارمند یا رئیس د خپل کمپیوټر پر سکرین رومانتیک عکسونه راولي. کله چې د ده شعبې ته ښځینه کارمنداني ورځي، د عکس په لیدلو شرمیږي. له رئیس څخه غوښتنه کوي چې دوی د دغسې عکسونو په لیدولو نا ارامه کیږي. رئیس ورته وایي چې د داسې عکسونو ځورندول د ده شخصي کار دئ. دغه ډول ځورونې ته لیدونکې جنسي ځورونه وایي.

سایکالوجیکي جنسي ځورونه: یو نارینه کارمند له یوې ځانګړې ښځینه کارمندي سره د کار کولو علاقه ښیي خو ښځه ئې ردوي. نارینه کارمند خپله مینه ورته اظهاروي، پرمېز ئې ګلان ورته ږدي او یا د ډوډۍ پر مهال خوراکي توکي ورته راوړي. رئیس کوښښ کوي چې له ښځینه کارمندي سره د خبرو کولو زمینه پیدا کړي او یا کله–کله پټ–پټ ګوابښونه ورته کوي. دغه ډول ځورونې ته سایکالوجیکي جنسي ځورونه وایي.

دوهم–ددوهم ډول جنسي ځورونې نوم (Quid pro quo sexual harassment and hostile environment Harassment sexual) دئ.

(Quid pro quo) یوه لاتین اصطلاح ده. (دغه د هغه لپاره) (this for that) معنی لري. کله چې یو شخص ته یو شی د یو بل شي په مقابل کې ورکول سي، دې ته (Quid pro quo) وایي.

مثال: یو رئیس/ مدیر د کمپیوټر د شعبې مدیر ته وایي چې د فلانۍ ښځې له ټلیفون څخه عکسونه راغلا کړه، تر ما ئې را ورسوه. زه به په راتلوونکې کې ستا سره همکاري کوم. دغه حالت ته (Quid pro quo) وایي. دغه ډول جنسي ځورونه پر دوه ډوله ده:

لومړی **(Quid pro quo):** رئیس/مدیر خپل تر لاس لاندې کارمندي ته وایي چې معاش دي در لوړوم خو په مقابل کې به زما شخصي غوښتنو ته مثبت جواب وایې. رئیس/ مدیر له یوې کارمندي څخه غوښتنه کوي چې دده په خوښه کالي واغوندي، ځان جوړ کړي، د ده په دفتر کې مېز او چوکۍ ځان ته سمه کړي، بیا به ئې ترفیع منظوره او یا به د کار فشار پر کم کړي.

د دښمنۍ د چاپیریال جنسي ځورونه: کله چې د دفتر رئیس یا لوړ رتبه مدیریت یو کارمند په نامساعد، بې ادبه او غیر مستریح کاري چاپیریال کې پرېږدي، دغه ډول حالت ته د دښمنۍ د چاپیریال جنسي ځورونه وایي. دغه خبره په لاندې مثال کې درته واضیح کوم:

لیلا، احمد او محمود د بشري قوې/ اېچ آر آفسر په صفت په یوه شعبه کې کار کوي. د بشري قوې رئیس د لیلا معاش ور زیاتوي. احمد او محمود همداسې پرېږدي،

که څه هم هغوی مستحق دئ. دلته د ليلا لپاره چاپيريال نامساعد، بې ادبه او غير مستريح کيږي. د احمد او محمود کينه ورسره پيدا کيږي. په مستقيم او غير مستقيم ډول پر ليلا مسخرې کوي. د يوه کارمند ارتقاع د نورو کارمندانو په تاوان د دښمنۍ کاري چاپيريال رامنځ ته کوي. ښه منېجران او رئيسان بايد دغسي حالت رامنځ ته نه کړي.

د جنسي ځوروني په اړه غلط نظرونه او حقايق:

لومړی غلط نظر دا دئ چي جنسي ځورونه کله ـ کله پېښيږي. حققيت دا دئ چي يوازې په چين کي له ٪۴۰ تر ٪۶۰ ښځينه کارمنداني د جنسي ځوروني سره مخ کيږي.

دوهم غلط نظر دا دئ، چي د جنسي ځورونو د جديتوب په اړه مبالغه کيږي. حقيقت دا دئ چي جنسي ځورونه د جنسي ځورېدونکي (مفعول) ژوند وربربادوي. جنسي ځورېدنه په مفعول کي رواني او بيولوژيکي ناروغي لکه د کمترۍ احساس، خپګان، غوسه، د سر درد، د ملا درد، خوا ګرځي، د وينې لوړ فشار، په وزن کي تغير، جسماني ستړيا او داسي نور رامنځ ته کوي.

دريم غلط نظر دا دئ چي ډېري ښځي د خپلو جنسي ځورونو له پيښو څخه داستانونه جوړوي. ځي خپلي وظيفې له لاسه ورنه کړي. حقيقت دا دئ، چي جنسي ځورونو يوازې يو فيصد شکايتونه غلط ثابتيږي، يعني ٪۹۹ ئې درست وي خو ښځي ډېر لږ د جنسي ځورونو قضيې ثبتوي.

څلرم غلط نظر دادئ چي دوه ښله اوره نه پيدا کيږي، يعني ښځه په خپلو خبرو، لباس اغوستلو او سلوک کولو سره د نارينه وو جنسي غريزې پاروي، حقيقت دا دئ چي نارينه د ښځو لباس، په نرمه لهجه خبري کول او سلوک د ځان له پاره يو دليل ګني. ٪۹۹ د ښځو په وړاندي جنسي ځوروني ځکه رامنځ ته کيږي چي ښځي ـ ښځي دي.

پنځم غلط نظر دا دئ چي که جنسي ځورونه صرف نظر کړئ، نو به خپله حل سي. حقيقت دا دئ چي د جنسي ځوروني فاعل به خپل کار ته نور دوام هم ورکړي. په دغسي حالاتو کي د ښځو يا د تنکي ماشومانو پټه خوله پاته کېدل د نارينه لپاره د موافقې معنې لري.

شپږم او اووم غلط نظرونه سره يو شی دي. وايي چي د جنسي ځوروني قربانيان يوازي ښځي دي. يا جنسي ځورونه د دوو مختلفو جنسونو ترمنځ رامنځ ته کيږي. حقيقت دادئ چي نارينه هم د جنسي ځوروني څخه په امن کي نه دي. کله ـ کله نارينه د ښځو له خوا، يا نارينه نور نارينه يا ښځي نوري ښځي ځوروي. مسلکي مديران بايد په خبر وي. په افغانستان کي به ډېر کم داسي پېښ سوي وي، چي جنسي ځورونه دي د ښځي له خوا رامنځ ته سوې وي.

اوس ليکنه پر درو برخو وېشو، چي لومړی برخه ئې د کار ځای په خاوند، رئيس، دوهمه برخه ئې په نارينه او دريمه برخه ئې په ښځو پوري مربوط ده.

په ويب سايټونو کي مي پيدا کړل چي په نړۍ کي ٪۶۲ کمپنياني د جنسي ځوروني پرضد خپلو کارمندانو ته د لنډ مهاله زده کړو له لاري پوهاوي ورکوي. ٪۹۷ کمپنياني د جنسي ځوروني د مخنيوي په اړه ليکل سوي پاليسي لري. که تاسو د کار ځای مالک يا لوړ رتبه کارمند ياست، تر ټولو لومړی تاسو د جنسي ځوروني د مخنيوي مسؤل ياست. د يو رئيس يا مسلکي مدير په صفت تاسو بايد لاندي مسؤليتونه مخکي له مخکي اجرا کړي وي:

د کار ځای د مشر مسؤليتونه:

د جنسي مخنيوي لپاره د کارځای مشر يا مالک لاندي مسوليتونه لري:

اول ـ د دفتر له لوړ رتبه کارکوونکو سره د جنسي ځوروني پرضد مناسبه، بشپړه او واضيح پاليسي جوړه کړئ. د جنسي ځوروني پرمهال د بلي مؤسسې، شرکت، وزارت... پاليسي مطالعه کړئ. د شرايطو په نظر کي نيولو

سره سم، د خپل دفتر/ مؤسسې لپاره پالیسي جوړه کړئ.
دغه پالیسي له کارمندانو سره شریکه او هغوی په پوه کړئ.
کله چي هغوی پالیسي ولوستله، بیا ئې په هر مامور لاسلیک کړئ. کله چي نوي کارمندان استخداموئ، هغوی هم لومړی په پوه او وروسته ئې په لاسلیک کړئ.

دوهم – کارمندانو ته مو وواياست چي تاسو د یو مشر په صفت د پالیسي د عملي کولو مسؤلیت لرئ. که د پالیسي د مادو خلاف حرکت وسي، نتیجه به ئې څه وي.

دریم – د جنسي خورني په پالیسي کي د شکایت کولو، لیکلو او وړاندي کولو میکانیزم تشریح کړئ. کله چي تاسو ته د کارمندانو له خوا شکایت وړاندي سي، له اصولو سره سم ئې تعقیب کړئ.

څلرم – د هغو کارمندانو حفاظت او ملاتړ وکړئ چي خورول سوي او پر حق دي.

پنځم – د کارمندانو ترمنځ د مسخرو کولو، شخصي ایمېلونو استولو، د موبایل یا بلې لاري د عکسونو او غزلو د شریکولو پر مهال سمدستي اقدام وکړئ. دغه ډول سلوک وروسته جنسي خورونې ته لاره جوړوي.

شپږم – په منظمه توګه خپله پالیسي وڅارئ. دا ړتیا پر مهال ئې نوې کړئ او تغیرات پکښې راولئ.

د کارفرما، رئیس یا مدیر د مسؤلیتونو سره ښځینه او نارینه کارمندان هم خپل مسؤلیتونه لري. دواړه باید کوښښ وکړي، چي خپلو مسؤلیتونو ته توجه وکړي.

اول – په دې باور ولرئ چي دفتر د حلالي روزۍ د پیدا کولو ځای دئ. خدای تعالی ستاسو د اولادونو روزي په هغه دفتر کي ایښې ده، چي اوس تاسو کار پکښې کوئ. معلم او ملا باید خپلو شاګردانو ته د اولادونو په سترګه وګوري.

دوهم – ښځینه او نارینه دي د دفتر د جنسي خورونې په پالیسي خانونه پوه کړي.

دریم – په هغه څه پوه سئ چي ستاسو په دفتر کي ور ته جنسي خورونه ویل کیږي. ګېدای سي چي د خلګو خیني سلوکونه په یوه هیواد، مؤسسه او کلتور کي په جنسي خورونه کي حساب سي او په بل هیواد کي بیا یو عام کار وي. د کارمند په صفت تاسو باید ورڅخه خبر اوسئ.

څلرم – د ځان او د دفتر له کارمندانو څخه وپوښتئ چي ستاسو د خبرو څخه خو به کوم منفي مفهوم نه اخیستل کیږي. که خبره داسي وي نو په خبرو او حرکاتو کي مو تغیر راولئ.

پنځم – جنسي خورونې ته په کوچني نظر مه ګورئ. که تاسو فکر کوئ، چي د یو شخص له خوا خورول کیږئ، خبري او کړه وړه ئې د ټوکو په توګه مه فرضوئ. مه پرخاندئ. هغه کس چي تاسو ئې په خبرو او کړو باندي خورېږئ، احساسات، غوښتني او سلوک ئې وڅارئ، ارزیابي او تحلیل ئې کړئ بیا ئې پوه کړئ چي تاسو ئې له خبرو څخه رنځ وړئ. جنسي خورونکي ته د هغه خبري، کړه وړه یا د لاس او مخ حرکات وښیاست چي تاسو په خورېږئ.

شپږم – که پورته خبرو در سره کومک ونه کړئ نو یوه بله د اسي تګ لاره ولټوئ، چي ستاسو په فکر به مؤثره وي.

اووم – جنسي خورونکي ته یو شخصي لیک واستوئ. د جنسي خورونې ماهیت، وخت، موقعیت او نور ټول هغه معلومات پکښې ځای پر ځای کړئ چي مشکل په حل ي.

اتم – د لیک یوه کاپي در سره وساتئ.

نهم – په دوهم قدم کي د دفتر لوړ رتبه مسؤل کس ته خپل شکایت وړاندي کړئ. کله نا کله د بېلا بېلو عواملو له مخي داسي کیږي چي پر تاسو ملامت کس ته جزا نه ورکوله کیږي. تاسو مجبور یاست چي لاندي قدم هم عملي کړئ.

لسم – دولتي مربوط ارګان ته شکایت وکړئ. ښه خبره دا ده، چي تر داسي حالته ځان ونه رسوئ. کوښښ

وکړئ، چې خپل په دفتر کې مو ستونزه حل کړئ. که ټولې لارې دربانديوتړل سوې، ستاسو عزت په خطر کې وو بیا نو دوه انتخابه نور هم لري: یو دا چې تاسو دولتي مربوط ارګان ته خبر ورکوئ، دوهم داچې غواړئ دنده پرېږدئ. انتخاب ستاسو دئ.

د ښځینه کارمند مسؤلیتونه: ښځینه کارمنداني دي لاندي مشورې عملي کړي:

اول – مناسب لباس واغوندئ: که څه هم ستاسو په دفتر کې به پر لباس اغوستلو هیڅ پابندي نه وي خو تاسو کوښښ وکړئ چې مناسب کالي واغوندئ. که مو دا مشوره عملي کړه نو نارینه بیاد بهاني کولو فُرصت نه لري. خویندي او میندي باید دا ومني چې خیني ښځې د نازک لباس په اغوستلو او ځینو حرکاتو په اجرا کولو سره، په لوی لاس ځانونه له جنسي ځورونې سره مخ کوي. تاسو غواړئ چې سمي کارمنداني اوسئ نو بیا ولې سم کالي نه اغوندئ؟ سم کالي په دې معنی دي چې د یو مسلکي چاپیریال سره لازم وي.

دوهم – په مناسب ځای کې کار انتخاب کړئ: تر عزت ساتلو بل هیڅ شی مهم نه دئ. په هغه ځای کې ځان ته وظیفه انتخاب کړئ، چې ستاسو زړه ئې مني او شخصیت مو ورسره جوړېږي. که پوه سواست چې کارې چاپیریال غیر مسلکي دئ، په هغه ځای کې کار نه کول به تر دې ډېر ښه وي چې د بې عزتۍ اوازه مو خپره سي.

دریم – ډېري مه دوستانه کېږئ: که تاسو فطرتاً دوستانه جوړې یاست. په لوړ اواز خاندئ. ښه اواز او نرمه لهجه لرئ. کوښښ وکړئ چې دا کنټرول کړئ. تاسو په رسمي چاپیریال کې یاست: باید مسلکي سلوک وکړئ. خپل مذهب، ټولنیز ارزښتونه او د نارینه وو افکار هم په نظر کې ونیسئ.

څلرم – پر خپل دریځ ټینګې ودرېږئ: هر ډول دفتر چې د کار په نیت جوړ سوی وي، هغه د مینې او عیاشي ځای نه، بلکې د رزق د پیدا کولو ځای دئ. که ستاسو همکار کوښښ کوي، چې تاسو ته تحفه په سوغات کې درکړي، مه ئې ځنې قبلوئ! د هغه د احساساتو د ژوبلولو فکر مه درسره کوئ. بلکې په دې ئې پوه کړئ چې دغه عمل ستاسو له پاره د منلو وړ نه دئ.

ملي مسؤلیتونه: په نړۍ او افغانستان کې جنسي ځورونه په مختلفو شکلونو رامنځ ته کیږي. په افغانستان کې جنسي ځورونه په مکتبونو، مدرسو، روغتونونو، دوکانونو، دولتي او غیر دولتي دفترونو، سړکونو او حتی د موټرانو په دننه کې رامنځ ته کیږي. په وار – وار میډیا راپورونه پر جوړ کړي دي. د مخنیوي لپاره ئې باید لاندي ټکي عملي سي.

- د جنسي ځورونې د مخنیوي په اړه دي د معارف د نصاب په کتابونو کې مهم معلومات ځای پر ځای سي، دولت دي ئې پر عملي کېدو ټینګار وکړي، سرغړونکو ته دي جزا ورکول سي.
- مور او پلار، ملا او معلم، چاپي او بېرغیزي رسنۍ دي نجونې او هلکان په دې وپوهوي چې څه ډول عمل جنسي ځورونه بلل کېږي. د جنسي ځورونې پر مهال باید څه وکړي او چاته معلومات ورکړي.
- والدین او د کورنۍ نور غړي دي د ماشومانو د بدن پر هر غړي بې ضرورته لاس نه تیروي او نه دې مچوي.
- هغه څوک چې د جنسي ځورونې له خطر سره مخ دئ، باید د ټولنې نور غړي د پسخند پر ځای کومک ورسره وکړي.
- مور او پلار دي خپلو اولادونو ته د جنسي ځورونې په اړه معلومات ورکړي، اولادونه دي وځاري. د هر ډول دوستانو کره دي د تلو اجازه نه ورکوي. کله چې ئې اولادونه له مکتبه/مدرسې څخه راسي، باید پوښتنه ورڅخه وسي چې معلم یا ملا ئې څه ډول سلوک ورسره کوي.



صدیق الله عظیمي

خرقه شریفه د تاریخ په اوږدو کې

(۲)

خرقه شریفه په بغداد کي:

دغه خرقه شریفه بیاتر ډېره وخته د عباسیانو تر مهاله په مکه مکرمه یا غار حراء (۱)کي پرته وه چي تر څه وخت تېر ېدو وروسته د شیخ الاولیاء او قطب الاتقیاء شیخ دوست محمد په واسطه د اسلامي امت دزیارت کولو په هدف دبغداد ښار ته، چي د اسلامي خلافت پای تخت وو انتقال سوه او د سلطان بایزید یلدرم قراعثمانلو دسلطنت او د امیر تیمور گورگاني د ښکاره کېدو تروخته پوري په بغداد کي پاته سوه د اسلامي هیوادونو او افغانستان حاجیانو به د حج د فریضې په وخت کي د خرقې شریفې زیارت په مکه مکرمه یا په غار حراء کي او وروسته په بغداد کي کاوه.

خرقه شریفه په سمر قند کي:

خرقه شریفه د امیر تیمور له خوا د بغداد څخه سمرقند ته انتقال سول. امیر تیمور چي د برلاس د قوم څخه دئ. د پلار نوم ئې ترغای او د مور نوم ئې مکنه خاتون

۱ د مکې مکرمې په شمال ختیځ کي یوغر دي دا غر د بشیر دغره په مقابل کي پروت دي. چي ډېر وخت دا دواړه غرو نه په یوه نامه یادېږي. داغرو نه کله د سمندر د دوو څپوسره تشبیه کوي حال دا چي دا دواړه وچ دي او به نه لري، دحراء غر د بشیر تر غره جګ دي او یوه هسکه څوکه لري، چي د اسلام پیغمبر حضرت محمد ﷺ دخپلو څوتنوا صحابو سره دې څوکي ته ختلي او په دغه غره کي یوغاردي چي غار حراء نومېږي په دغه غار کي پر پیغمبر ﷺ د وحیو نزول وسو خکه نو داغر د جبل النور په نامه هم یادسو هغه غار لاتراوسه سته هغه وخت چي پیغمبر ﷺ له طائفه راوگرځېدی په همدغه غار کي پټ سو څو چي له دغه خایه نې وکولای سوه چي مکې ته ننوزي. (اریانا دائرة المعارف)

وو. په ۱۳۳۳م کال د کيش په ښارکي (اوسني سبزوارښار، چي د آمو په شمال کي پروت دئ) نړی ته سترګي وغړولې. تيمور له کوچنيوالي څخه د رياست او بادشاهۍ سره مينه درلوده. چي وروسته ئې د خپلي قبيلې په واسطه د محلي واکمن قباد خان سره جګړه وکړه او دی د قبيلې واکمن سو. امير تيمور غوښتل چي يوه پراخه امپراتوري جوړه کړي نو ځکه ئې دچنګيز د امپراتورۍ پرخلاف دخپلي امپراتورۍ لپاره مذهبي مسائل غوره کړه او خراسان ته ور ننوتی، ۳۵ خله ئې پرهند، چين، ډهلي، مسکو او استانبول لښکرکشي وکړې، چي په دغه جريان کي ئې ټول شامي هيوادونه ونيول او د عثماني امپراتورۍ سره مقابلې ته ودريدئ. دا چې ددغه دولتونو ترمنځ کړکيچ پخواني وو. کله چي سلطان يلدرم او تيمور د آذربايجان د مالياتو د ترلاسه کولو پر سر رقابت درلود، نو سلطان يلدرم هم د ۱۲۰ زرو کسانو د مقابلې لپاره مخي ته ورووت، چي د جګړې په جريان کي عثماني عسکرو ماته وخوړه او سلطان د دښمن پنجو ته ورغلی، چي بالآخره هغه ئې په اوسپنيزه قفس کي واچاوه ترڅو هلته مړ سو. (غبار: ص، ۶۵۸)

کله چي تيمور د جګړې څخه فارغ سو په ډېر عزت سره ئې د خرقې شريفي زيارت وکړ او د حضرت محمد ﷺ د دې امانت ساتونکی ئې خپل ځان وباله، د دې لباس دتعظيم په خاطر يې هرڅه پر ځان لازم وګڼل او خرقه شريفه يې د ځان سره راواخيستل. کله چې له بغداد څخه د سمرقند پر لور حرکت پيل کېدئ نو د خرقې شريفي د ساتني لپاره ئې عراقي عرب ساتونکي، چي هغه د شيخ دوست محمد تر مړيني وروسته ئې ساتونکي د ده اولادونه وه، د هغو لپاره ئې هر ډول خدمات تيار کړل او په بغداد کي ئې ډېر عاليشانه ځاى ورته جوړ کړ او هم ئې څو دانې طلايي قنديلونه چي د بغداد دفتحي څخه مخکي يې نذر کړي وه نصب کړه. په سمرقندکي ئې د ده بيد قريه د متوليانو او خواجګانو د مصرف لپاره وقف کړه او د سمرقند خلک ئې هم د خرقې شريفي د خدمت لپاره تعين کړه، د بغداد شيخان ئې هم په دې خاطر پر وظيفه وګمارل چي بيرته خپل هيواد ته ولاړ نه سي. يوعاليشانه ځاى ئې ورته جوړ کړ چي تراوسه پوري د خواجه خضر په نامه يادېږي. داچي تردېره وخته پوري دغه مبارک لباس په سمرقند کي پروت وو.

په سمرقندکي ددغه مبارک لباس اړوند کره معلومات په لاس کي نسته يوازي دڅوکسو ويناوي او د هغو دستر ګوليدلي حال دلته بيانوو:

۱-اميرحبيب الله خان چي داميرعبدالرحمن خان مشر زوي وو، دپلار تر مرګ وروسته ئې دافغانستان اداره په لاس کي واخيسته. اميرحبيب الله خان په ۱۸۷۲ ميلادي کال د پلار د فرار په وخت کي په سمرقند کي دبدخشاني مور څخه وزيږېدئ. دی ۲۸ کلن يا ۲۹ کلن ځوان وو، چي پر تخت ئې پښه کښېښوله. (عطايي :ص، ۱۴۴) يو وخت داميرحبيب الله خان څخه يوچا د خرقې مبارکي په اړه پوښتنه وکړه، هغه د دغه سوال د اورېدلو څخه وروسته داسي وويل:« امير تيمور ګورګان دغه مبارکه خرقه د عراق د عربو څخه ماوراءالنهرته راوړه او په سمرقندکي ئې يو ښکلی عمارت ورته جوړکړ او صحيح النسب سيدان ئې متوليان ورته وټاکل او دغه منوره قبه تراوسه پوري د خواجه خضر په نامه يادېږي او مبارک تعمير ئې په خپلو سترګو ليدلی دئ او امکان لري، چي داميرتيمور ترمړيني وروسته د ده اولادې، چي په هغو سيمو کي ئې حکمراني کول دغه مبارکه خرقه بخارا ته راوړې وي او د هغه ځاى څخه دي د ده د زامنو څخه يوه جوزجان ته راوړې وي او شاه بېګ خان دې ولي او متولي باشي ټاکلي وي.»(حلمي: ص، ۱۹۸)

۲- امیر البحر سیدعلي چي په ۹۶۳ هـ ق کال کي سمرقند ته تللی دئ وايي: چي هلته ئې د هغه قرآن شریف زیارت وکړ چي د حضرت علي رضی الله عنه په خط د عثمان رضی الله عنه په خلافت کي لیکل سوی وو، دغه راز ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه چوخه هم ولیدل. چي په گور تیمور کي پراته وه. (رشاد: ص. ۵)

۳- همدارنگه د هنگري د پرتهه پوهنتون استاد پوهاند ارمینوس ویمبرې (۱۸۳۲ – ۱۹۱۳) چي دیو درویش په بڼه له یو خره سره چي دبار اوسپرلی. لپاره ئې کارځني اخیستی منځني اسیا ترپښو کښلې، د نبوي چوخې په باب داسي لیکلي دي:« زه چي سمرقند ته ورغلم نبوي چوخه (خرقه شریفه) مي ونه لیدل او نه ئې چا څرک راکړ.» (رشاد: ص. ۵)

۴- همدارنگه ډاکټر لیاقت تابان ۲۰۱۱ میلادي کال په خپل یون لیک کي داسي وايي: « کله چي زه په سمرقند کي د حضرت امام کمپلیکس ودانۍ ته ورغلم نظر مي پر هغه مبارک کتاب ومښتی. چي مصحف عثماني ورته ویل کیږي. ترپېږیو – پېړیو پوري دامصحف د سمرقند په مسجد خواجه عبد الله احرار رحمه الله کي د اوسپني په یوه صندوق کي پروت وو او په اسلامي تاریخي ورځو کي به د خلکو د دیدار لپاره ایښودل کېدئ. له ۱۸۶۹ څخه تر ۱۹۲۳ پوري دامصحف دروس د زار شاهي په کتابتون کي پروت وو، لکن د ازبکستان د مسلمانانو په ټینگار او هڅو دا مصحف بیر ته تاشقند ته راوړل سو. د تا شقند په حضرت امام کمپلیکس کي پروت مصحف عثماني په یوه ښیښه خانه کي بند پریوه میز سر بیره په ښایسته ډول ایښودل سوي وو. دا قرآن مجید لړ او ډېر ۳ – ۲ پوټه معلومېدئ او د هوسۍ پر پوست لیکل سوی خورا پنډ وو. (تابان: ص. ۱۷۷)

خرقه شریفه په بلخ کي:

خرقه شریفه چي امیر تیمور د بغداد څخه بخارا ته راوړه (۸۰) کاله هلته پر تېر سوه، وروسته ترکستاني حکمران (ابوسعید او غلان) چي د گورگاني تیمور د خاندان څخه وو د دغه وخت د خرقې شریفي متولیانو (شیخ محمد حبیب او شیخ محمد نیاز) څخه وغوښتل چي خرقه شریفه د سمرقند څخه وچیني ترکستان ته یوسي. په دغه وخت کي دوه کسه نور متولیان چي نه ئې غوښتل خرقه شریفه وچیني ترکستان ته ولاړه سي نو ئې دغه موقع غنیمت وگڼله. دغه مبارک لباس ئې په (۱۰۷۴) هـ ق کال بلخ ته راوړئ. بلخ چي د افغانستان دولایتونو څخه یو مشهور ترینه ولایت وو، دامانت په توگه کښېښودل سوه په دې توگه د ابوسعید اوغلان، چي د چیني ترکستان حکمران وو د تصرف څخه وساتل سوه. خرقه شریفه په بلخ کي تر ۱۱۰۹ هـ ق کال د سبحان قلي خان تر حکومت پوري د دغو دوو تنو په تصرف کي وه، په دغه وخت کي شیخ محمدضیاء او شیخ محمد نیاز چي د بدخشان د حکمران (میریار بېگ) سره ئې تعلق درلود وغوښتل. چي خرقه شریفه د بدخشان او چترال له لاري څخه هندوستان ته یوسي. خرقه شریفه چي ۳۵ کاله په بلخ کي پر تېر سول. په ۱۰۷۴ هـ ق کي بلخ ته راغله او په ۱۱۰۹ هـ ق کي ئې هندوستان ته د تگ تصمیم ونیول سو، چي د شیخ محمد ضیاء او شیخ محمد نیاز په مرسته ئې سفر پیل سو. (رشاد: ص. ۷)

خرقه شریفه په بدخشان کي:

مخکي تردې چي د خرقې شریفي سفر وهندوستان ته پیل سي د بدخشان حکمران میریار بېگ خان په (۱۱۰۳) هجري قمري کال غوښتل چي د جوزگون کلا د جوزگون د درې په خوله کي جوړه کړي، مگر په خوب کي ئې حضرت رسول اکرم ﷺ ولیدئ، چي ده ته ئې وفرمایل

چې دغه ځای دي زما دخرقې لپاره پرېږدي او خپله کلا دي خواجه عبدالمعروف ته مخامخ جوړه کړي. د دې څخه څو ورځې وروسته میریار بېګ خان ته د سمرقند نه د(عیدي) زامنو یولیک راواستوه، چې سمرقندي خواجه ګان غواړي د حضرت سرورکائنات خرقه مبارکه هندوستان ته یوسي. نوځرنګه چې د بدخشان خلکو تاسو خپل امیر تاکلی یاست پرې نږدئ، چې خرقه شریفه هندوستان ته یوسي. اتفاقاً دغه خوب او دغه پېښه دواړه په یوه وخت کې رامنځ ته سول. سمرقندي خواجه ګان نژدې وه چې چترار (چترال) ته ورسیږي په دې وخت کې د بدخشان امیر میریاربېګ خان له دغې پېښې څخه خبر سو، هغوی ئې د۷۰ سپرو کسانو پواسطه د (درواز) له کوتل څخه جوزګون ته راوګرځول. په دې وخت کې د بدخشان او ختلان ترمنځ لارې د درواز، شغنان، غازان، اشکاشم او زېباک له لارې د چترال سره وصل کېدې. میریار بېګ خان وروسته د خرقې شریفې تر راګرځولو د جزون د درې په خوله کې په ښایسته ځای کې د خرقې مبارکې لپاره ځای جوړ کړ، چې تراوسه پورې دفیض آباد په ښارکې د خرقې شریفې د مسجد په نامه یادېږي. د دغې ورځې څخه وروسته شاه بېګ خان د میر یار بېګ خان پلار د خرقې شریفې متولي سو. میریار بېګ خان له هغو کسانو څخه چې دا خرقه مبارکه ئې بېله زور او جبر څخه د ده د امارت قلمروته رادننه کړې وه ډېرښه هرکلي وکړ، همدا ډول هغه خواجه ګانو، چې غوښتل ئې دغه خرقه شریفه هندوستان ته انتقال کړي هغوي ته ئې د جوزګون په سیمه کې ډېرې مځکې او زر ورکړل او هم ئې خپله دوی د خرقې شریفې دمتولیانو او مجاورینو په حیث وټاکل. خپل وزیر دین محمد دېوان بیګي ئې د هغوي د ژوندانه د مشکلاتو د حلولومسؤل وټاکه. خپله میریاربېګ خان دبدخشان د غنمو دحاصلاتو ٪ برخه د خرقې شریفې ګدام ته وسپارل. د دغې پیښې پراساس د چمخان پخواني ښار چې مأموریت ئې جوزګون ته سپارل سوی وو، دنبي کریمﷺ د مبارکې خرقې له برکته څخه د فیض آباد په نامه ونومول سو. (مرادي: ص.۷۹۹ـ۸۰۰)

دغه پېښه چې په ډېریزه کتیبه کې د شعر په شکل لیکل سوې ده، د فیض آباد دخرقې شریفې په مسجد کې شتون لري د خرقې مبارکې د داخلېدو د تاریخ په باره کې داسې ویل سوي دي:

خرقه پاک رسول عرب
میدهد از ریاض جنت یاد

در هزار و صد وسه از هجرت
محمل او به جوزگون افتاد

جوزگون گشت لایق این فیض
زان فیض نام گشت فیض آباد

خرقه شریفه دفیض آباد څخه دکابل تر علي آباد پورې:

لکه څنګه چې ذکرسوه، چې خرقه شریفه د(۱۱۰۹) هجري قمري کال څخه بیا تر (۱۱۸۱ هـ ق) کال پورې په بدخشان کې پرته وه، چې د دې د فیض او برکت له وجهي د جوزګون ښار چې د بدخشان مرکز وو په فیض آباد سره ونومول سو. خو د (۱۱۸۱هـ ق) کال په اخروکي د افغانستان لوي امپراتور احمد شاه بابا د خپل ښه نیت په خاطر د وزیر شاه ولي خان په مرسته وکابل ته انتقال کړه. (خرقه شریفه په څو ـ څو واره څو ځایو نو ته انتقال سوې ده، نو د احمد شاهي امپراتورۍ په دوره کې هم د دې احتمال موجود وو، چې خرقه شریفه و بل ځای ته انتقال سي) نو پدې صورت کې به بیا احمد شاه بابا خپله دیني وجیبه نه وي اداء کړې، چې خرقه شریفه بل طرف ته انتقال سي.

احمد شاه بابا چې دکندهار نوی ښار په (۱۱۶۹هـ ق) کال جوړ او د اشرف البلاد په نامه ئې ونوماوه، نو ئې دا مناسبه وبلل، چې د ښار د حرمت لپاره هغه خرقه مبارکه چې د انحضرت ﷺ مبارکې کورنۍ په خپلو مبارکو لاسونو ګنډلې او دژوند په ورستیو شپو او ورځو (حجة الوداع) کې اغوستې وه، چې وروسته د ده مبارک د وصیت سره سم د ده جلیل القدره یارانو (حضرت عمر او حضرت علي رضی الله عنهم) په یمن کې اویس بن العامرقرني ته وسپارل، چې د هغه ځخه وروسته لاس پر لاس بخارا ته او د هغه ځای ځخه د بدخشان فیض آباد ته، چې دمرحوم میر یار بیګ ولي خان د وخت څخه تر اوسه پورې هلته پرته وه، دامناسبه وبلل چې د امپراتورۍ نوي مرکز کندهار ته نقل سي.

د دې لپاره چې پدغه وخت کې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې حالات کړکیچن وه او د دې امکان موجود وو، چې خرقه شریفه به د فیض آباد څخه بلې خوا ته یووړل سي، له بلې خوا څخه د افغانستان نظامي قوواوې هم دهیواد په داخلي امنیت او هم د خارجي مداخلو په ممانعت کې سخت مصروف وې، نو احمد شاه غازي چې د ژمي په ورځو کې په کابل کې وو، نوئې په دغه وخت کې شهزاده سلیمان چې د ده زوی وو، دکندهار څخه کابل ته راوغوښتی، شهزاده سلیمان هم دثور په میاشت کې کابل ته ور ورسېد، غازي احمد شاه په دغه وخت کې شمالي ولایتونو ته د حرکت اراده درلوده، نوئې شهزاده سلیمان په کابل کې پرېښود او خپله ئې دچاریکار دلارې حرکت وکړ. سردار شاه ولي خان هم د جوزا په لسمه د (۶۰۰۰) فوج سره دافغانستان شمالي ولایتونوته واستول سو، چې دتګ څخه وروسته احمدشاه بابا د (۱۱۸۰هـ ق) کال د سرطان په میاشت کې فرمان ورواستوی، چې د حضرت محمد ﷺ هغه مبارکه خرقه

چې په فیض آباد کې پرته ده د ځان سره راوړه او هغه شپږ زره کسیز فوج، چې مخکې د قندهار څخه د هرات او فاریاب دلارې د سرحد د ټاکلو لپاره تعین سوی دئ، د مروې رود ته دې ځانونه ورسوي. البته دا ټوله سوقیات د دې لپاره وه، چې د افغانستان خاوره دخارجي مداخلاتو څخه وساتي. کله چې وزیرشاه ولي خان د قندوز محلي واکمن قباد خان ته د سولې پیغام واستوی هغه ومنې او د وزیر شاه ولي خان هرکلي ته راغی، نو کله چې وزیر شاه ولي خان ولیدئ، چې هغه یو روحاني شخصیت دئ نو دهغه سره ئې ډېره ښه رویه وکړه، مګر کله چې وزیر شاه ولي خان تالقان ته ورسېدئ دبدخشان محلي واکمن میرسلطان شاه خپلې لښکرې جنګ ته اماده کړې، چې په لومړي سر کې د دواړو خواوو ترمنځ ډېر شدید جنګ وسو. د جنګ په جریان کې میر سلطان شاه وایدل چې دپښتنو فوج دریکان تر کوتل ور واوښت او دټوله هزاره جات آمران او حکم کونکې، دبلخ سردار او قبادخان ټوله فوج د ده ملګرې دي نو ئې له جنګ څخه لاس واخیست او وتښتېدئ.

وزیر شاه ولي خان ته چې امر سوی وو، چې خرقه شریفه د ځان سره راوړي، نو پرته له انتظاره ئې د خرقې شریفي عمارت ته ځان ورساوه، هلته ئې افغانی حاکم وټاکئ. وزیر شاولي خان چې خرقه شریفه خپل هدف ګرځولې وه او په ډېره اساني سره ترخرقې شریفي پورې ورسېدئ، هلته ئې ځان د هغې په زیارت مشرفه کړ. وروسته ئې وویل: شکردئ خدایه چې په خپل دغه هدف کې کامیاب سوم.

وزیرشاه ولي خان خلکو ته په وینا کې وویل: چې د افغانستان امپراطور احمدشاه بابا امر کړی، چې خرقه شریفه د افغانستان په پاکه خاوره د سرحداتو په قلمرو په

کوچنۍ ښار کې پرته ده. چې د ښار د امپراطورۍ د مرکز (اشرف البلاد) څخه لیرې پروت دئ او هم هره ورځ داخلي او خارجي خطرونه د سرحدونو په شاوخوا کې موجود دي. نو د دې احتمال سته چې خرقه شریفه به د دغه کشمکش په جریان کې بل طرفته نقل سي. نو د دې لپاره دا مناسبه ده چې دغه محمدي لباس د خلکو دوړلو څخه وساتل سي او دعمومي ولاياتو دليدونكو لپاره په حفاظتي ځای کې وساتل سي. د دې لپاره کندهار او بالخصوص هغه نوی ښار چې (۱۲) دوولس کاله مخکې د اشرف البلاد په نامه نومول سوی او د امپراطورۍ مرکز دئ، نو په خرقه شریفه سره به هغه ښار لا برکتناکه سي او د زیارت کونکو لپاره چې له هر ولایت څخه پر دغه عمومي لار راځي ډېره آساني به وي. (وکیلي: ص. ۲۷)

مګر د تاریخ سلطاني په قول چې وایي: دغه مبارکه خرقه چې د حضرت محمد ﷺ څخه اویس قرني ته رسېدلې وه او د هغه څخه وروسته د وخت په تېرېدو سره بخاراته راوړل سوې وه، هلته پرته وه، چې شاه مراد بېګ د عزت په خاطر احمد شاه بابا ته ورکړه. په هر صورت مؤثق روایات دادي چې وزیر شاه ولي خان دي راوړې وي. ځکه د میر یار بېګ د تحفې خبره یوازې په تاریخ سلطانی کې راغلې ده.

کله چې وزیر شاه ولي خان و بدخشانیانو ته د خرقې شریفې دانتقال خبره وکړه، میرزا سنګ محمد د تاریخ سلطاني لیکوال چې دابدالي تاریخ رساله ئې رانقل کړېده وایي: چې کله په بدخشان کې د خرقې شریفې متولیانو دا خبري واورېدې نو په اخیره شپه ئې د هغه صندوق سر چې خرق شریفه پکښې پرته وه خلاص کړ او د خرقې شریفې لستوڼی ئې تر څنګلو کښته څني پرې کړه او هم یې هغه محمدي مهر چې د دوو اوږو په منځ کې وهل سوی وو پرې کړ، چې وروسته دغه متولیان د (آهن دره) له لارې بخارا ته وتښتېدل او هغه هیله او امید چې احمد شاه بابا دخرقې شریفي دمتولیانو لپاره دفیض آباد څخه وکندهار ته په نظر کې درلود عملي نه سو. وروسته دخرقې شریفي انتقال په ډېر عزت سره شروع سو. وزیر شاه ولي خان خرقه شریفه د خان سره راواخیستل چې د لارې په اوږدو کې احمدشاهي قوځ هم د دوی ملګری سو، د دوړو تولیو دیوځای کېدو څخه وروسته احمدشاه بابا د خپل ځان په موجودیت کې د اوښانو یولوی کاروان اماده کړ او خرقه شریفه ئې ښار پر ښار رانقلوله خو هر کله چې به په هر ځای کې تم کېدل، ستر امپراطور احمد شاه بابا به ئې د احترام او درنښت په خاطر دکښته کولواو پورته کولو پرمهال د یوچا په نوم ځانګړي فرمان صادراوه.


دخرقې شریفي انتقال دغوربند د درې له لارې پیل سو. هر کله چې به یو ښار ته را رسېدل د رسېدو څخه مخکې به ئې هغه ښار ته خبر ورکاوه، چې هغو خلکو به د احمد شاهي لښکر لپاره د خوراک انتظامات برابرول. او ښار ته تر رسېدو وروسته هر چاچې به هغه اوښ چې خرقه شریفه پر باروه له رسی (جلب) څخه ونیوي نو هغه به دخرقې شریفي داحترام لپاره ځانګړې ذبحه او قرباني هم کول. چې په دې ډول و شمالي کابل د(کوهستان) سیمې ته راورسېدل، چې د خلکو د ډېرښت او بېروبار په خاطر چې د خرقې شریفي دلیدلو لپاره راټول سوي وه. درې ورځي دلته پاته سول. پسله درې ورځو څخه د څلورمې ورځې په سهار کاروان د خرقې شریفي په موجودیت حرکت وکړ. د څه مزل وروسته کاروان د ښار شمال غربي سیمې ته ورسېد. خرقه شریفه ئې د علي آباد شرقي طرفته دکارته سخي په نوم ځای کې کښېښول.

د يادوني وړ ده هغه اوبښ چي خرقه شريفه به پر باروه، هر کله چي به د اوبښ دملا څخه کښته سوه نو دوهم واري به پر هغه اوبښ نه اېښودل کېدل. وروسته به احمد شاه بابا هم يو فرمان وليکي د اوبښ به ئي ور په غاړه کړ اوبښ به ئي ايله کړ، چي هري خواته به تلی. په فرمان کي به داسي ليکل سوي وه« پر دغه اوبښ خرقه مبارکه اېښودل سوې ده د احمد شاه د امر له مخي هيڅوک حق نلري چي پر دغه اوبښ بار يوسي او هرچاکه حلال کړ نوغوښه دې خيرات کړي خپله دې نه خوري.»

خرقه شريفه دعلي اباده تر کندهاره:

خرقه شريفه تر نهو مياشتو پوري په کابل کي دعلي اباد دغره په لمن کي دکار ته سخي په نوم ځای کي پرته وه. په دې جريان کي خلکو زيات زيارت ورڅخه وکړ. چون دلته د خلکو نفوس ډېر وو نو کله نا کله به د زيارت کوونکو د ډېربنت له امله خرقه مبارکه د خپل صندوق څخه د باندي را ايستل کېدل او پر هغه توره ډبره چي نن ورځ دخرقې شريفي دعمارت شمال شرقي طرف ته په پنځوس مترۍ کي پرته ده اېښوول کېدل، تر څو خلک وکولای سي د ليري څخه د خر قې شريفي په ديدن سترګي مړې کړي.

له نهو مياشتو تېرېدلو څخه وروسته د ستر امپراطور احمدشاه بابا په امر د خرقې شريفي سفر وکندهار ته شروع سو، کله چي احمد شاهي لښکر د وردګ ولايت ته راورسېد، نو په دغه ولايت کي د سيدآباد په (نوريو) کلي کي کاروان د استراحت په خاطر تم سو. وروسته د لږ استراحت څخه کاروان حرکت وکړ، خرقه شريفه ئې ښار پر ښار رانقلوله په همدې ترتيب سره د لرغوني او شهيد پرور ښار دخلورمي ناحيې په يوه نامداره او مشهوره جامع کي چي نن ورځ ئې هم دکندهار اولس زړه جامع بولي کښېښوول سول. په دغه جامع کي د ننه د محراب څنګ ته يو کوچنۍ کوټه چي د ميا عبدالحکيم صاحب خلوت خانه نومېږي (مياصاحب به همېشه د ذکر کولو په وخت کي په همدغه کوټه کي کښېنستئ.) د هغه وخت د خلکو په فکر دا ځای يو د فيض او برکت څخه ډک ځای وو. نو د ټولو په ګډ نظر سره د غه ځای د خرقې شريفي لپاره وټاکل سو. دغه ځای تر اوسه پوري هم شتون لري نو خرقه شريفه هم همدلته کښېښودل سول. چي بياوروسته د ستر احمد شاه بابا په امر دنن ورځي موجوده ځای ورته جوړ او دلته راوړل سول.



د يادوني وړ ده چي دکابل د علي اباد سيمه تر اوسه پوري خلک په ېېلا بېلو نومونو سره دهغه ځای د درنښت په خاطر کلنی. جنډی. پورته کوي او وايي: چي دلته حضرت علي رضی الله عنه ناسته کړېده. همدارنګه کله چي کاروان دلږ استراحت په منظور دوردګو دسيدآباد دنوريو کلي ته راورسېده د دغه لږ استراحت له کبله د دغه کلي دروازه چي مشهوره په دروازه نوري سره ده تر اوسه پوري دخرقې شريفي په زيارت ګاه سره شهرت لري.(رشيدي:ص.۹۷)

نور بيا...



واحد فقیري / واشنګټن

د مجروح ځانځاني ښامار ته یو سیاسي نظر

(د رېیمه برخه)

دلته لاروی یو لړ جدي سوالونه مطرح کوي. لاروی هغوی ته وایي، چې ستاسي دا کوښښ چې غواړی د نشو په واسطه اجتماعي مشکلات او دردونه هېر کړئ، دا یوه باطله هڅه ده. ځکه تاسي اصلي مرض چې عبارت د خودی او ځانځانی څخه دئ، په ځان کي نه وژنئ. له ایګو څخه ځان نه ازادوئ، بلکي صرف غواړئ چې خپله ایګو تسکین کړئ.

اې زما خوږو دوستانو!
دا ژوندون زما ژوندون خو بل څه نه دئ،
یوه تنده سراسر بې انتها ده
دا هستي زما هستي خو بل څه نه ده
دا یو شوق یو اشتیاق دئ نامحدوده
که شراب خورم نو پکار دي
چي دا هسک هسک اسمانونه
شي پیالې پیالې جامونه
که نشه کړم، که مستي کړم

نو زما هدف دا نه دئ چي خان هېر کړم جهان هیر کړم

یا ښادي یو څو شېبې لنډي شېبې کړم

ډېر وخت کیږي له دې هسي لنډو – لنډو

تېرېدونکو ښادی، ګانو څخه زه یم راتېر شوی

دا زما شراب خو هسي شان شراب دي

چي رانده – رانده چشمان پرې رڼا کیږي بینا کیږي

دا زما مستي خو هسي شان مستي ده

چي کاږه – کاږه غوږونه پرې خلاصیږي

نشه ستاسو خو زحمت لویه خواري ده

چي پرته ورته په مخکي هوښیاري ده

بد فرجامه، خاتمه ئې سر دردونه

او زما په بې هوشی، کي بېخودي، کي

د خودي، د ځانځانی رنځونه تللي تر شا پاتي

په پړاو – پړاو ترې دوري یم راغلی.

(۱۴۶-۱۴۴)

اګاه لاروی د ښار روشنفکرانو ته وایي چي تاسي نشې پدې منظور کوئ، چي واقعیت او حقیقت هېر کړئ. نشه پدې هدف کوئ، چي د ځانځانی او خودي، دردونه څه ارام کړئ. نه دا چي له ځانپالني او خودي، څخه ځانونه خلاص کړئ. له خپل ځانه را بهر سئ او خودپرستي په ځان کي ووژنئ. لاروی وایي: ما دا کار ډېر پخوا لا کړی دئ. ما خپل نفس پاک کړی دئ. ما خپله ایګو وژلې ده او زه لدې بنده ازاد سوی یم. زما مستي د عامو پرګنو پوهول او د خلګو خدمت دئ.

اې زما ګرانو دوستانو!

تاسو وایاست چي زه څنګه بې میو مست یم؟

خبر نه یاست

دا چي زه مستي – مستي تل دایمي کړم

د لیلی سترګي خماري زه پرې مست یم

ورشئ – ورشئ د لیلی سترګو ته خبر شئ!

هلته – هلته لیدل کېږي، د هستی، خمارستان لوی

خو ډار پرېږم چي به تاسو هلته هیڅ شی مو نده نه کړئ.

ځکه – ځکه د لیلی دیدار د پاره خو پکار ده

د دې لمر ځلانده سترګي په شان سترګه

نوراني لویه روښانه

د لیلي عشق دریاب دئ

ستاسو زړونه تش ځکونه

خالي تش – تش حبابونه

خبر نه دي له محیطه نه خبر له ژور تله

د لیلی د عشق د پاره

زړه په کار دئ ناپایانه نامحدوده

هسي زړه چي که ورتوی ستر اوقیانوس لوی سمندر شي

په کي ځای شي، په کي ورک شي څاڅکي – څاڅکي.

د مستانو مجلس چوپ وو

هرې خواته یو مطلق سکون – سکوت وو

همه واره سر تر پایه غوږ نیولی.

(۱۴۷-۱۴۶)

دلته لاروی د ښار منوري طبقې ته وايي چې تاسو اول باید خپل خان اصلاح کړئ. لومړی خپل اشتباهات او کمزوریاني اصلاح کړئ. د خپل زړه ښامار مړ کړئ. لاروی دلته پر داخلي عنصر باندي زیات ټینګار کوي. لومړی باید مشران خانونه اصلاح کړي. د ښار نخبه ګان او مخور باید خانونه سپېڅلي کړي، څو د ازادۍ د لیلی د لیدو جوګه سي، د ازادۍ له نعمته مستفید سي. دا کار هله کېدای سي چې زړونه پاک سي. لاروي بیا د دوستانو په محفل کې دا ناشنا خبري وکړې:

اې دوستانو!

لړ راپاڅئ را ولاړ شئ!

د دې دښت وچ – وچ ځنګلونه وچې ونې بې ثمره

واړه – واړه ماتي غوځي کړئ له بېخه له رېښې نه

بیا په اور باندي لمبه کړئ

اغزي غني د صحرا د بیانان خپل

هم مستان زنځیر تړلي په تورتمو تاخانو کې

را آزاد کړئ! زولنې کړئ ماتي – ماتي

هم د زړونو کنډوالې کړئ رنګي – رنګي

کوم ښامار چې په کې ناست دئ

دا ښامار ترې را بهر کړئ

بیا حلال دغه ښامار کړئ

د ښامار وینې بیا توی کړئ، په دې سیمه په دې خاورو.

ځکه ځکه:

طبیعت ستاسو نه غواړي قرباني اوس

لویه سخته قرباني هم

قرباني د تور ښامار مار

دا دښتونه، وچ ډاګونه، ځل وهلي ځنګلونه، خزان شوي چمنونه

واړه تندي دي ځپلي، سختي تندي

بس یوه تنده: د ښامار د وینو تنده

نو به هله د دې دښت زمکه لمده شي

ناشنا بوټي به له دې نمناکو خاورو کړي سر پورته

شین کمیس به ئې په تن وي

شور ماشور به شي راپورته په جهان کې

هنګامې د نوي ژوند به را پیدا شي

نو به هله د زړګي په نوی کور کې

نوي – نوي څراغونه رڼا وکړي

نو به هله د هستۍ خمارستان لوی

په هغو آبي چشمانو کي مونده کړئ

نو به هله در معلوم شي پټ رمزونه پټ رازونه

د مستۍ دایم مستۍ، د آزادۍ د لیونتوب تول. (۱۴۷-۱۴۸)

لاروی د خپلي وینا په دې برخه کې یو مطلق انقلابي دئ. د جیلخانو، زنځیرونو او زولنو د ماتولو امر کوي. د دیکتاتور قتل ته خلګ هڅوي. «دا ښامار ترې را بهر کړئ، بیا حلال دغه ښامار کړئ.» لاروی پدې برخه کي د ښار منورینو یو ټوټال بدلون او انقلاب ته رابولي. ځکه د دې ښار مځکه، دښت او بوټي د دیکتاتور «وینه» غواړي. کله چې تاسو دا کار وکړ، نو هله به تاسي د «دایمي مستۍ او ازادۍ د لیونتوب» په پټو اسرارو باندي خبر سئ.

دغه شپه عجیبه شپه وه

د لومړۍ کرت د پاره

د ناشنا خبرې ټولو اروېدلې د خپل زړونو په غوږونو

د لومړي کرت د پاره، چا خندا تمسخر نه کړو

خلګو نه وې: دا سړی خو لیونی دی.

دغه شپه عجیبه شپه وه

د لومړي کرت د پاره د دلبر مهرویانو شهلا سترګې،

ځلېدې لکه چینې رڼې رڼې د غرو رغونو،

هم د نجونو خورو زلفو پریشانو،

خورولو تازه عطر د صحرا وحشي ګلونو.

دغه شپه عجیبه شپه وه

هر – هر ګوټ د سرو شرابو سور انګار وو.

د ژوندون عجیبه اور تې په سینو کې بلولو

هر – هر څاڅکی د سرو میو یو مشعل وو

کنډوالې د زړونو یو دم څراغان شوې

او مستانو د لومړي کرت د پاره،

په مستي خپله نشه کې،

یوه ناشنا مزه موندله

دا لذت مرموزه خوند د آزادۍ وو.

(۱۴۹-۱۴۸)

دلته دا شپه څوواري (عجیبه) یادېږي، پدې شپه چا لاروی تمسخر نه کړ، چا ورته د مجنون خطاب و نه کړ. پدې شپه د صحرا وحشي ګلونو طراوت او عطر خوراوه. د ژوندون مست سیند په موج راغلی وو. په ماتو زړونو، په مایوسو پرګنو او په بندیانو کې یو دم د (آزادۍ) مرموزه هنګامه ګرمه سوه. یوه تاریخي شپه وه، اولسي انقلابي حالت او شرایطو یو صالح او متقي مشر پیدا کړ او یوې ماتې او بندي منوري طبقې خپل ایډیال قاید وموند. د دې وینا په جریان کې، د مجروح مبارز لاروی د انقلاب بې چون چرا لیډر سو. هغه پدې شپه د منوري طبقې حمایت تر لاسه کړ. که څه هم پدې شپه نوې انقلابي مشر وینا اورېده وه، خو د خوړمنو زړونو او مایوسو اولسونو د ټپونو لپاره مهلم او ټکور وه. د لاروي دا وینا د یوه نوي تاریخي او سیاسي پېر آغاز وو.

لدې وروسته لاروی د ښار له تل څخه راوځي او په عامو ښاریانو کې خپل دعوت او رسالت تبلیغوي. یوه ورځ د مازیګر مهال وي، لمر پر لوېدو وي لاروی ګوري چې د ښاریانو یوه غټه ډله روانه وي او یو تابوت د څو کسانو پر اوږو پروت وي. د ښار ستر راهب چې ژړ کمیس ئې اغوستی وي، په خورا وقار او تمکین پسې روان وي. کله چې جنازه لاروي ته ورسېږي. لاروي داسې ووایې:

اې ښاریانو راته وایاست!

دغه بار څرنګه دروند بار دئ

چې نې تاسې په اوږو وړئ؟

او دا ولې په خپل سیورو اوږدو سیورو پسې زغلئ؟

خبر نه یاست چې د سیورو سرعت زیات دئ چټک زغلي؟

پسې نه شئ رسېدلای

دا درانده – درانده ګامونه چې را اخلئ

ګومان نه کړم چې به ورسوی تاسې کوم منزل ته. (۱۵۰)

دلته لاروي غواړي چې ښاریانو ته ووایې چې دوی تل په مړو پسې روان وي، دوی ژوند خوشې کړی، واقعیتونه

ئې هېر کړي دي. د ژوند او مرګ په مانا ندي پوه سوي. دوی د مرګونو، جنازو او هديرو خلګ دي. خو راهب ئې نطق ژر ور قطع کوي او داسي ورته وايي:

ستر راهب ورته په قهر وکتلي

په ترخه ژبه ئې داسي جواب ورکړو

ستا هستي ده يوه ونه

بې ثمره وچ اغزنه

نه احساس د خوشحالۍ کړې نه د غم کړي

زړه دي تور لکه لوګی دئ هسي کلک کله دبره

نه د ژوند در سره سودا شته

نه د مرګ در سره پروا شته.

(۱۵۰)

راهب په طنز ورته وايي چي ستا ټوله هستي يوه بې ثمره، وچه او اغزنه (ونه) ده. مانا ته هيڅ ثروت او ملکيت نه لري. ته په ښار کي کاروان سرايونه، هوټلونه او جايدادونه نه لري. تامځکي او کورونه نه دي غضب کړي، تا بانکونه نه دي وهلي. ته يو مسکين او غريب سړی يې. بل دا چي ته يو بې احساسه کس يې. نه ښادي پېژنې او نه هم غم. ستا سره نه د ژوند او نه هم د مرګ پروا سته. مانا ته يو لومپن او بېغم باش سړی يې، يو مزاحم او بېکاره شخص يې. ته غواړې چي زموږ عادي ژوند را مختل کړې.

له راهب سره تر دې برخورد را وروسته، لاروی جنازه خوشي کوي. خلګ تابوت هديرې ته رسوي. هلته خلګ د مړي د ښخېدو مراسم اجرا کوي. راهب څو دعاوي وايي. پر قبر باندي پخپلي وينا کي د يو بل مرموز جهان په باب داسي وايي:

وې: د دې دنيا خواري څه خواري نه ده

همه واړه ګذري دي

رشتيني درد او عذاب دی بل جهان کي چي ثابت دی ابدي دئ.

وې: د دې دنيا عزت مال او دولت ته نظر مه کړئ

ځکه دا شان خاوري کيږي فناء کيږي.

بيا ئې ووې:

بس يوازي، ښه عمل د لاري مل دی بل جهان کي

ښه عمل بس قناعت دئ اطاعت دئ

دا خالي کالبد فاني دئ خاوري کيږي

مګر روح هيڅکله نه مري، کوي عمر جاويدانه

دغه روح يوه سپرغۍ ده

راوتلې د بقا د اور له زړه نه

بېرته ځي له هغه اور سره يو ځای کيږي

روح يو څاڅکی د باران دئ

ځي تويېږي په درياب کي

په درياب د سعادت او نيکمرغۍ کي تل تر تله.

(۱۵۲-۱۵۳)

راهب په ښار کي د دين نماينده دئ او هغه خلګ ها بلي دنيا ته ور بلي. هغه وايي دا دنيا فاني ده، په اخرت کي مو يوازي ښه عمل په درد خوري او ښه عمل (قناعت) دئ. او د امر (اطاعت) دئ. بس، د روح خيال ساتئ او روح دلته مېلمه ده او مدام غواړي چي بېرته د خپل اصل سره وصل سي،

کله چي راهب د جنازې په مراسمو کي خپل وعظ ختم کړ، د نيمو شپو لاروی يو پلا بيا پاڅېدی او خلګ ئې داسي مخاطب کړل:

اې ښاريانو!

سيوري مخکې تاسو ټول پسې روان وئ

دغه سيوري د مرګ سيوري تاسو ټول ور پسې زغلئ

ما خو تاسو ته ويلي: له دې منډو به هيڅ په لاس در نشي.

خبر نه یاست، ښکار د سيورو آسان نه دئ

سيوري چا نيولي نه دئ

لاروي د هغه قبر له سينې نه

د نمناکو تورو خاورو تازه خاورو

يو ښه موټی ډک راواخيست

دغه موټی نې د خاورو

د ماښام په نري باد کې په هوا کې

د مشرق په لور غوځار کړو

بيائې دا خبرې وکړې

موټی خاورې تاسو وليدی چې باد يوړې دورې دورې.

د دې خاورو هره ذره به بيا ژوندون کړې

مګر نه دا موټی خاورې چې باد يوړې

او نه دغه موټی خاورې به کوم ژوند دوباره وکړي

چې دا تاسو اوس – اوس کښېښود په دې ګور کې

خلګو پوه شئ!

نه قطره شته چې درياب کې چيرته توی شي

څکه – څکه:

نشته – نشته کوم درياب نه سمندر کوم.

نه سپرغۍ شته چې يو ځای شي د کوم اور د سرې لمبې سره

څکه – څکه:

لا تر اوسه اور بل شوی چيرته نه دئ

راته واياست: هغه موټی خاورې څه شوې؟

ستاسو پام کرخول شوی دی نيستی ته

دا خو څکه چې هستي شي در نه هېره

ستاسو زړونه هديرې دي

پکې ښخې د امواتو خاطرې دي

دا خو څکه:

چې په زړه کې مو پيدا هيڅکه نشي

د حيات سره ترون کوم

شوق آرزو د کوم ژوندون کوم.

(۱۵۴-۱۵۳)

دلته لاروی خلک د مرګ او تخريب له لمانځلو څخه ژوند او ابادۍ ته رابلي. ښاريانو ته وايي چې ستاسي فکر له اصلي ژوند څخه «نيستي» ته ګرځول سوی دئ. تاسي ته د ژوند مرګ مهم سوی دئ. تاسي ته پکار ده چې د ژوندون او حيات شوق په زړونو کي وپالئ. د جهان د ابادولو خيال او فکر په سر کي وروزئ. دلته لاروی يو رياليسټ مشر دئ. ټول ژوند – ژوند دئ. د ژوند او اقتصادي رشد خبري کوي. د اګاه لاروي د وينا د دې برخي مطلب دا دئ، چې دا دنيا آباده کړئ، د دې دنيا غم وخورئ، د خپل ځان او بچيانو د مستقبل يوه چاره وکړئ.

اې ښاريانو!

ولي دا پوښتنه نه کوئ له ځانه

که دا مړی نیکو کار وو، ولي مړ شو؟
نو پخپله به دا هسي خواب وایاست:
چي له مرګ سره د نیکۍ او بدۍ څه پروا نشته
ماوراء دئ هم له خیره هم له شره
مرګ نیستي ده د ښو بدو
مرګ عدم د خیر او شر دئ
د مرګی فکرونه څه دي؟
بس مرګونه د فکرونو
د مرګي هیله آرزو خو، مرګ د هیلي د آرزو دئ
که نیکي شته که بدي شته
بس په دې ژوند او جهان کي موندل کیږي
او پکار دی،
چي په دې ژوند او جهان کي
مکافات شي مجازات شي
څکه ـ څکه بل به نه وي کوم فرصت دا هسي هسي
هغه څوک چي قناعت کړي اطاعت کړي
غلامي ته غاړه ژر ږدي
دغه واړه مجازات کړي
هغه څوک چي شور ماشور کړي بغاوت کړي
دا انسان وړ د ستاینی مکافات دئ.

(۱۵۵-۱۵۴)

دلته لاروی ښاریانو ته وایي چي تاسو باید اول د ژوند او مرګ درست تعریف زده کړئ، د ژوندانه په اسرارو خان خبر کړئ او د دې جهان له ژونده خوند واخلئ. د مرګي فکرونه هېر کړئ، خپل اوسني ژوند ته ملتفت سئ، د ښو او بدو «مکافات او مجازات» باید دلته وسي.

لاروی هغه کوي چي په جامعه کي د خرافاتو سره مبارزه وکړي او د خلګو اذهان روښانه کړي، هغوی اصلي دوښمن ته متوجه کړي. لاروی د خپلي وینا پدې برخه کي یو ځل بیا ښاریان عمومي انقلاب او قیام ته رابلي، څکه لاروي ورته وایي هغه څوک چي قناعت او اطاعت کړي، هغوی تل غلامۍ ته ژر غاړه ږدي. لاوری ښاریانو ته وایي چي ظالم او مظلوم دواړه مجازات کړي، مګر هغه څوک چي جوړونکي اعتراضونه، انتقادونه او «بغاوت» کوي «دا انسان وړ د ستاینې مکافات دئ.»

اې ښاریانو!
خبر نه یاست تاسي مړه یاست
روح مو مړ دی فنا شوی
تاسو ټول خو بس یوازي
اشباحګاني بې ژوندونه خیال او خوب یاست
تاسو څه یاست؟
بس یوازي یوه هیله بې مفهومه
یوه تمه نامعلومه د یو بل موهوم ژوندون یاست
اې ښاریانو!
که اوس هم
څه در پاتي د ژوندون شوق او آرزو وي
نو دا مړي لږ څه هېر کړئ
په ژوندون پسې روان شئ
که لا اوس هم
که هوس د آزادۍ ستاسو په زړونو کي باقي وي

نو خپل ځانته هسې وایاست

چې تر ټولو زحمتونو عذابونو

په واقع کې.

لوی زحمت عذاب همدا دئ

چې دا اوس پکې اخته یاست

او تر ټولو درندو پېټو نه درونډ پېټی بل یو نشته

واقعې تر ټولو درونډ بار خو همدا دئ

چې دا اوس مو په شا پروت دی.

(۱۵۶–۱۵۷)

لاوري یو کرت بیا ښاریانو ته پېغور ورکوي او د هغوی احساسات راپاروي. هغوی پاڅون، ازادي، او انقلاب ته لمسوي. لاوری ښاریانو ته وایي چې تاسې په واقع کې «مړه» یاست، ستاسې هستي او ژوند «بې مفهومه» دي. ځکه تاسو د «موهوم ژوندون» په تمه یاست. لاروي ورته وایي چې ستاسو د نجات لاره دا ده چې خپل ورځني ژوند ته متلفت سئ. او د ژوندون په مست سیند پسې روان سئ، پخپلو زړونو کې د «آزادی» مشال بل وساتئ. ځکه ستاسو اوسنی ژوند «لوی عذاب» دئ، درونډ بار او بوج دئ، لدې حالته ستاسو د خلاصون یوازنی لاره ازادي او انقلاب دئ. مگر ښاریان یو وار بیا په لاروي ملنډې وهي او سمدستي ترې جلا کیږي. هغه هدېرې کې یوازې پرېږدي. نور نې خبرو او نطق ته غوږ نه ږدي.

دا سړی چور لیونی رشتیا مجنون دئ

یو په بل پسې روان شول. ستنېدل د ښار په لوري.

لاروی هلته هم هغسې ولاړ وو

هېڅوک نه وو پاتې شوي چې د ده خبرې واوري

پس یوازې هلته دوري

یو ډنگر کوڅه ډب سپی وو پروت په خاورو

لاروي ته نې کتلې چوپ خاموشه

لاروي خبرې کړلې

دا خبرې د ماښام نرۍ وږمې بیا

وړلې – وړلې د مشرق په لوري دوري

له کوم ځایه چې رڼا د سپین سبا را پورته کیږي

(۱۵۷–۱۵۸)

دلته مجروح د انسان په تاریخ کې د انقلاب د مشرانو مشکلات بیانوي. د بشر په تاریخ کې انقلابي مشران تل د خپل رسالت په اولو کلونو کې یوازې وي، خلک باندې خاندي او ملنډې باندې وهي، یاران نې کم وي، مخالفان نې زیات وي. مگر په آخر کې نه یوازې پرگنې د پاکو او متقي مشرانو سره یو موټی کیږي. بلکې طبیعت هم د هغوی ملگری کېږي. خبرې او پیغام نې د سحر نسیم پر خپلو پستو اوږو باندې د مشرق پر لوري وړي او هغه ځای ته نې رسوي چې روڼا او سپین سبا ترې راخېږي. امید او نور ترې راپورته کېږي. د لاروي شهرت په ښار خورېږي.

دوخت په تېرېدو سره اکثره ښاریان لاروی پېژني په تر او ښځو کې نې د شهرت اوازه هر خوا خوره کېږي. د ښار ځیني خلگ وایي چې لاروی په یو «لیونتوب» لگیا دئ. ځیني نې د توقیف او نظر بندۍ حمایت تجویز کوي.

په دې هسې شان بې قیده گرځېده نې ښه کار نه دئ.

څه تجویز ورته پکار دئ

ځیني نور بیا معتقد وو

چې دا شخص عادي شخص نه دئ

روحاني دی قلندر دئ

لوی خاوند د کراماتو مقاماتو

په کلام کې ئې پټ پروت غیبي پیغام دئ.

(۱۵۸)

د زمان په تېرولو سره، د لاروي د سیاسي فعالیتونو په هکله په ښاریانو کې مختلف نظرونه پیدا کیږي؛ خو د لومړي کلونو کړاوونه او یوازیتوب نور ختمیږي، د لاروي حضور په ښار کې منل کیږي، آن دا چې ځیني ښاریان د یو روحاني او قلندر په سترګه ورته ګوري، ځیني ئې په کرامات او بزرګي مني او ځیني ئې په کلام او وینا کې غیبي پیغام او دازادی الهام اوري.

د مجروح لاروی یو کرت زیات ښاریان «د باراز په ورځ» د ښار په یو ستر میدان کې یو ځای غونډ ویني، د خلګو ګڼه ګونه زیاته وي او لاوری له دې موقع څخه استفاده کوي او کوښښ کوي چي ښاریانو ته د خپل ښار تېر او لرغونی تاریخ داسي ور په یاد کړي:

اې ښاریانو!

په یو وخت کې دلته ښکلی ښایسته ښار وو

چمنونه شنه ځنګلونه ترې چاپېر وو

مست سیندونه ډک رودونه

په دې سیمه کې هره خوا روان وو

لویې لارې هر خوا تللې رسېدلې

ماشومان به لوبېدل د سیند په غاړه

ښه ځوانان وو ګرځېدل به

ښکلې پېغلې سینګار کړې نڅېدلې

هم د مینې راز او نیاز وو

ښکلول وو زغلول وو

محبت وو صفایي وه.

(۱۵۹)

پدې ورځ د لاروي د وینا متن او هدف تاریخي وي، خلګو ته تېر ښه او طلایي وختونه وریادوي، کله چي ښار ښایسته وو، چمنونه او ځنګلونه زرغونه ول، د ژوندون د مست سیند پر غاړه ابادي وه، لویې لارې خلاصې وې، تجارت روان وو، پدې وینا کې کلیدي کلمات هله «محبت وو صفایي وه.»

اې ښاریانو! راته وایاست!

ګڼ ځنګلونه شنه باغونه

واړه چا په اور لمبه خاوري ایرې کړل؟

دلته ښار وو اوسېدل پکې ښاریان آزاد سرمسته

نه بي بي وه، نه بادار نه فرماندار وو

نه نوکر وو نه مریان نه وینځې مینځې

دغه ښار یو هسې ښار وو

نه خندق ترې نه چاپېر نه کوم دیوار وو، نه حصار وو

اې ښاریانو راته وایاست!

هغه څه شو؟ چا ویران کړو، چا تباه کړو؟

څه بلا شوه پرې نازله؟

(۱۵۹-۱۶۰)

لاروی د ښار اوسنی بد حالت او پخوانی ښه وضع سره مقایسه کوي. پخوا ازادي وه، نوکر او بادار نه وو. دا ښار ښکلی ښار وو، نه خندق وو او نه هم کلا وه. او له خلګو څخه پوښتي چي دا چا وران کړل؟ لاروی غواړي چي د خلګو وجدان راویښ کړي.

د ښار خلکو دا خبري اور بدلې
په قاه – قاه به ئې خندلی او ویلی:
دا سړی رشتیا مجنون دئ
خکه – خکه:
چې پخپله دوی ته یاد وو
د دې سیمې حال احوال زوړ
هم پلرونو له نیکونو له اجدادو روایت کړو
چې همیش له ښاره تل پروت
دا خندق دا شان دیوال وو
بهر هلته تل تر تله دا ډاگونه وچ دښتونه سپېره غرونه
او دننه د ښار په مینځ کي
همیشه دا شان مانۍ ولاړه هسکه
پکې ناست تل زمامدار لوی قهرمان وو
هم پلرونو هم نیکونه ئې تېر شوي واکداران زمامداران د خپل زمان وو.

(۱۶۰)

د ښاریانو تاریخ هېر سوی دئ، تاریخ مسخ سوی دئ، د هغوی مغزونه پرېوټل سوي دي. ستر ټولواک نه یوازي دا چي نوی تاریخ جوړ کړی او له خپله خانه ئې نوي واقعیتونه ساز کړي دي، بلکې د خان او خاندان لپاره ئې جعلي شجره هم جوړه کړې ده.

لاروی هڅه کوي چي د خپلې وینا په ترځ کي ښاریانو ته د ښار واقعي سیاسي تاریخ بیان کړي، دوې متخلفي دورې سره مقایسه کړي، د خلگو شعور او احساس راژوندی کړي.

اې ښاریانو! راته وایاست!
د دې سیمې لویې لارې چا ویجاړې کړې نابوده؟
د دې لارو سمو لارو لوی – لوی پلونه
چا ویران کړل چا خراب کړل؟
تاسو نه گورئ، چې تاسو
ځان پخپله په خپل لاس قلا بند کړئ؟
په خپل لاس مو تور زندان ځانته جوړ کړئ.
که پوهېږئ
دغه کار ستاسو بې ځایه بېهوده دئ
ځکه هېڅ کوم غلیم نشته
چې حمله په تاسو وکړي له کوم بل غلیم هیواده
او نه بل کوم لوی خطر شته
کوم خطر چې ور سره واړه مخ یاست
هغه دلته په دې ښار کي دی دننه
کوم غلیم چې په رشتیا د ښار دښمن دئ
هغه هسې سړي خور دئ
چې خوراک ئې ستاسو زړه دئ
ستاسو وینې دماغونه
دا غلیم بل ځای کي نه دئ
د دې ښار په مینځ کي ناست دئ
اوس نو وایاست!
دا پاخه لوړ دیوالونه حصارونه
دا خندق ژور خندق د څه د پاره؟
اې ښاریانو دا زما خبرې واورئ!

زه يو ورځ د يو ښکلي ښايسته ښار نه بهر لاړم

چي اوس راغلم بيا راستون شوم

هغه ښار مي مونده نه کړو

د هغه په ځای څه وينم؟

کنډوالې ويران ويجاړې

او په دغو کنډوالو کي يو ښامار پروت

دا خبري چي ښاريانو واورېدلې

دا کرت چا نه خندله

خو بيا هم دوی يو له بله سره ويلې:

دا سړی رشتيا مجنون دی ليونی دئ.

(۱۶۰-۱۶۲)

دلته لاروی غواړي چي ښاريانو ته تاريخي او سياسي درسونه ورکړي، تېري خاطرې ور په ياد کړي، لاروي وايي يو وخت په ښار کي پاخه سړکان. پلونه او ابادي وه، نظم او اداره وه، ښاري خدمات ول، دا ټول چا خراب کړل؟ د وينا پدې برخه کي د لاروي هدف دا دئ، چي له ښاريانو څخه داسي سوالونه وکړي چي هغوی خپل اساسي فکري انحراف او غفلت ته متوجه کړي.

لاروی ښاريانو ته وايي په تاريخ کي د اولسونو د انحراف اصلي سبب داخلي وي. اصلي ملامتيا د بومي خلکو وي. لاروی ښاريانو ته وايي چي د خندقونو، حصارونو او جنګي کلاوو په جوړولو کي ئې سخته خطا کړې ده، ځکه هغه ور ته وايي چي ستاسو غليم د دننه او دورنې دئ، ستاسو مشکل خپل مشکل دئ، د نفس او شعور پرابلم دئ، په اخر کي لاروی ښاريانو ته وايي چي دا ښار زما په ياد دی، دا يو ښکلی ښار وو، خو اوس کله چي بېرته راستون سوم، يوازي کنډوالې او خرابي وينم.

له نېکه مرغه دا پلا ښاريانو د لاروي پر خبرو نه خندل، پدې برخه کي لاروي څه پرمختګ کړی وو، يوه بله ورځ لاروی يو ځل بيا د ښاريانو پر يو ستر جماعت ور برابر ېږي او د نيمو شپو لاروی هغوی داسي مخاطبه وي:

اې ښاريانو!

خبر نه ياست!

چي يو وخت خو د دې سيمي زمامداره

الهه د نو بهار وه؟

ټول عالم ئې پرستش کړو

نېکمرغي وه، خوشحالي وه

او اوس وينم چي هغه د ميني خدايه

تاسو ټولو هېره کړې ترکه کړې

په دردونو په رنځونو مو ځانونه اخته کړې

په اوهامو کی ډوب شوي

په غمو مصيبتونو ګرفتار ياست.

اې ښاريانو!

آيا تاسو احساس نه کړئ؟

خبر نه ياست له هغه زهر قاتله

چي دا ستاسو په رګو په شريانو کي جاري شوی؟

او په زړونو کي در تويېږي څاڅکی ـ څاڅکی

ايا تاسو په دې خپلو دواړو سترګو ګناه کارو

ليدلای نه شئ

چي رنځونه درې ساري رنځونه

درې افته تل په تاسو مسلط دي

قتلوي هلاکوي ستاسو واړه ستاسو زاړه ستاسو خوانان ټول

تاسو واړه د خپل سر په سترګو وينئ

چي د ښار ښايسته ښځي

ښکلي ـ ښکلي ماشومان او با تدبيره بوډايان خو

په نري رنځ د خپګان او غم اخته دي

رنځوران دي، د عدم په لور روان دي

او خوانان قوي خوانان مو
د غضب او قهر سخته تبه نیسي
یو بل وژني تویوي د یو بلویني
واهمه او ډار خو هغه بد مرض دئ
چې په ټولو باندي یو شان ګډ جاري دئ
رنګوي مو د زړه خوني
هر شپه مو خنکدن دئ
هره ورځ د مرګ په تمه.

(۱۶۲-۱۶۳)

پدې وینا کي اګاه لاروی خلګو ته وایي چې دلته یو وخت د ازادۍ او عشق الهه زمامداره وه، هله ښکمرغي وه، خوشحالي وهو هله یوه دیموکراتیکه او متقي الهه حاکمه وه، مګر اوس تاسو هغه هېره کړې ده او همدا سبب دئ چې په مصیبت ګرفتاره یاست.

لاروي خلګو ته وایي چې مشکل په تاسي کي دئ، ستاسو په نفسونو کي دئ، ستونزه ستاسو په زړونو، رګونو او شریانونو کي ده.

لاروی ورته وایي چې له یوې خوا مو د ښار ښځې، ماشومان او زاړه د غم او خپګان په رنځ رنځور سوي دي او له بلې خوا مو خوانان افراطي سوي دي، قهرېدلي دي او «یو بل وژني، تویوي د یو بل ویني.» ستاسي ټولو په زوړ نه کي د ډار او خوف ښامار ناست دی، تاسي هره ورځ د مرګ په تمه ناست یاست او تاسو هره ورځ مرئ.

لاروی تر یو حده زموږ نننی حالت بیانوي (۲۰۱۷)!

اې ښاریانو!
ډېري سترګي نابینا دي
ډېر غوږونه ټپ کاڼه دي
په دې ښار کي
نه رښا رشتیا – رشتیا دلته څوک ویني
نه آواز د حقیقت دلته څوک اوري
روغ غوږونه بینا سترګي که پیدا کړئ
نو به هله سرودونه د مستۍ د هستۍ واورئ
نو به هله رڼاګاني رنګارنګه د ژوندون خو
په نظر کي در ښکاره شئ
اې ښاریانو! تاسو خبر شئ!
تاسو واړه مبتلا یاست په دردونو په رنځونو
د دې هر څه علاج یو دئ درمان یو دی
د لیلی د پښو خاورو ته سر کښېږدئ
سجده وکړئ
د لیلی پرستش وکړئ

(۱۶۳-۱۶۵)

د وینا پدې برخه کي لاروی ښاریانو ته وایي، چې تاسو یوه بیده او غافل اولس یاست، تاسي بې سده یاست، تاسي نه غواړئ چې د حقیقت ږغ واورئ، ستاسي سترګي ړندې او ستاسي غوږونه کاڼه دي. مګر بیا هم تاسي د نجات لاره لرئ او هغه دا چې د آزادۍ الهی ته تسلیم سئ، ازادي خپله لیلی وګرځوئ او د ازادۍ پرستش وکړئ، همدا د خلاصون لاره ده، ازادي او حریت د انساني ژوندانه عالي هدف دی.

تر دې ویناوو راوروسته، د مجروح انقلابي لاروی د ښار لوی دیکتاتور پر ضد د نهایي تکر لپاره خلګ چمتو کوي، د ښار د مستبد حاکم سره جنګ اعلاموي، خلګو ته د انقلاب فرمان صادروي، خلګ د استبداد د ماڼۍ رنګولو ته رابولي. پدې دوره کي د نیمو شپو لاروی چې ګوارا دئ، یوه ټوټه انقلاب دئ.



محمد ابراهیم محتاج

د پښتو دېوانونو پېژندنه

(دوهمه برخه)

دمیرزاخان انصاري دېوان

دمېرزاخان انصاري د دېوان لومړی چاپ:

دمیرزاخان انصاري دېوان اول وار په (۱۳۳۴هـــق) کال دکندهار دکتاب فروشانو (ملا جان محمد او بسم الله) له خوا دلاهور په اسلامیه مطبعه کي د(میرزا زاهدافغاني محشي) په نامه چاپ سو. د دېوان متن دلومړي مخ څخه شروع کیږي اوټول دېوان (۱۷۲) مخه دئ. د میرزاخان د دېوان د غه متن دیوې خطي نسخې لمخي نقل اوتهیه سوی دئ، لیک دود یې روښاني دئ او دمولوي عبدالغفارهوتک کندهاري ځیني حاشیې پر سته، دغه متن یوبازاري متن دئ، کوم تحقیق، سریزه او د شاعر د ژوند په اړه مالومات نه لري. د دېوان نوم لاهم د (دمیرزاخان دېوان) پرځای (دېوان میرزا زاهد...) کښلی دئ. دېوان یوازي دسوداګریزو موخو لپاره چاپ سوی دئ.

دمیرزاخان د دېوان دوهم چاپ:

دمیرزاخان انصاري د ېوان دوهمه پلا په (۱۹۵۹م) کال په پېښور کي دهمېش خلیل له خوا دیوې نیمګړي خطي نسخې له مخي تهیه او چاپ سوی دئ. د دېوان په سر کي مرتب یوه اوږده مفصله سریزه پر کښلې ده، چي د دېوان خطي نسخه یې پکښي معرفي کړې او وروسته ئې د شاعر پر کور نۍ، ځیني تصوفي اصطلاحاتو او د میرزاخان پر شاعرۍ باندي ښه مغزن بحث کړی دئ. د دېوان متن بېله سریزي (۲۳۲) مخه دئ او په پای کي

نې د (۲۳۳ څخه تر۲۵۶) مخه پورې د د یوان د ګرانو لغاتو نو فرهنګ راوړی دی.

دمیرزاخان انصاري د دېوان دریم چاپ:

دمیرزاخان د دېوان دامتن داتوچاپي اوخطي نسخو له مخې تهیه سوی دئ. دغه دېوان دخېړنمل دوست (شینواري) په سریزه، سمون او لمنې دپښتو ټولنې له خواد پښتو دنړی وال مرکز دبین المللي سیمینار په مناسبت په (۱۳۵۴ش) کال دکابل په دولتي مطبعه کې د (۱۰۰۰) ټوکو په تېراژ خپور سوی دئ. داهتمام چارې ئې ښاغلي حبیب الله رفیع سرته رسولي اود وقایې (پښتې) اونورو پاڼو خطاطي اونقاشي ئې دنصیر هنر پښتون له خواترسره سوي دي.

دمتن په سر کې دمیرزاخان انصاري پر ژوند د خېړنمل دوست په قلم درې مخه محققانه خېړې لیکل سوي اوبیائې دېوان پر لاندې برخو وېشلی:

- الفنامه (۱۸) مخه.
- قصیدې (۳۳) مخه.
- غزلې (۱۹۹) مخه.
- وروسته متفرقه اشعار (۶) مخه او په پای کې لغات نامه (۴) مخه اته ستو نه. چې ټول کتاب دسریزې په ګډون (۲۶۸) مخه دئ.

دمیرزاخان انصاري د دېوان څلرم او وروستی چاپ:

په (۲۰۰۴م) کال د ډاکټر پرویز مهجور خپشکي له خوا تهیه سوی دئ او پښتواکاډمي پېښور یونیورسټي خپور کړی دئ.

د واصل روښاني دېوان

د واصل روښاني د دېوان څېړنیز متن په (۱۳۶۵ل) کال د سر محقق زلمي (هیوادمل) دسریزې، سمون ،څرګندونو، لمنو او نښلونو سره د افغانستان علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو دمرکز له خواچاپ سوی دئ او د هغې یوازینۍ خطي نسخې له مخې تهیه سوی. چې د هند داترا پردېش ایالت په رضا لائبریرې کې ساتله کیږي. دېوان ټوله (۱۴۰) مخونه لري اوپر څلورو برخو وېشل سوی دئ:

- لومړۍ برخه یې (۱۵۵) غزلې.
- دوهمه برخه یې (۱۷) قصیدې او قصیده وشمه غزلې.
- دریمه برخه یې (۹۳) رباعیات.
- څلرمه برخه یې متفرقات دي، چې یوه قطعه او درې مخمسه یکښې راغلي دي.

دعلي محمد مخلص دېوان

دعلي محمد مخلص د دېوان څېړنیز متن ډاکټر پرویز مهجور خپشکي، دبریټیش موزیم دیوازینۍ خطي نسخې له مخې تهیه کړی او په (۲۰۰۴م) کال پښتو اکاډمۍ پېښور یونیورسټي چاپ کړی. دېوان ټول (۸۰۷) مخه دئ په سر کې ئې دپښتو اکاډمۍ د ډائریکټر (پرویز راج ولي شاه خټک) پنځه مخه سریزه پر لیکلې ده او بیا په (۵۴) مخه کې د دېوان د مرتب اوڅېړونکي سریزه راغلې ده، چې هورې د دېوان مرتب پر حاضر دېوان، د علي محمد مخلص پر ژوند، فکر، فن اونورو اړخونو په تفصیل سره بحث کړی. د مخلص شعر که څه هم دنورو روښاني شاعرانو په څېر تصوفي مسائلو ته وقف دئ، خو پر ځنګ ئې دهنر یت پله هم خورا در نه ده. مخلص دغزل شاعر دئ او شاعرې ئې د یوڅو رباعیاتو پرته نوره ټوله غزلیزه شاعري ده اود نورو روښاني شاعرانو

پر خلاف د خپل هري غزلي لپاره یو سر خط ټاکي او دغه سر خطونه اکثره د وحدت الوجود دفلسفې په رڼا کي د قرانکریم ایتونه، حدیثونه او تصوفي مقولو لنډ ـــــ لنډ عبارتونه دي. د دې عبارتونو ژبه ډېره پارسي او کله ـ کله عربي وي.

دمخلص د دېوان وروستی څېړ نیز متن ښاغلي محمد هارون (خپل) هم برابر کړی دئ. دغه متن د ډاکټر مهجور خېشکي له متن سره شکلي او ماهوي توپیرونه لري. په دغه واحد متن کي د دېوان خطي نسخه (چي په بریټیس موزیم کي ساتله کېږي) د ډاکټر پروېز مهجور خېشکي له خوا برابر سوی متن او د هارون خپل له خوا کره سوی انتقادي متن خای لري، د مهجور خېشکي د متن پر خلاف ټول متن د الفبې د تورو په ترتیب اوډل سوی دئ. د مخلص پر ژوند، شاعرۍ، تاریخي حالاتو او خیني نورو برخو اوږده مقدمه، د دېوان بشپړه لغات نامه، دخطي نسخې پرلیک دود مفصلي خبري، دعناوینو فهرست او ډېر نورڅه د دې متن له خانګړو څخه دي.

دخوشال خټک مرغلري

دخوشال خټک دغه کلیات په څلورو برخو (غزلیات، قصائد، رباعیات، مقطعات او متفرقات) کي د اروانباد (عبدالحي حبیبي) په تصحیح او تحشیه ترتیب سوی دئ او په (۱۱۲۸) مخونو کي د (۵۰۰) ټوکو په تېراژ د (۱۳۱۷ش) کال دغوایي په میاشت کي دکندهار په مطبعه کي چاپ سوئ. دکتاب په سر کي نې (له ویونکو سره څو خبري) تر عنوان لاندي راوړي دي او د دغه کلیاتو دچاپ پر اړتیا هم په دغه برخه کي خبري سوي دي.

دعبدالقادر خان (خټک) دېوان

د عبدالقادر خان خټک دېوان د اول وارلپاره د فاضل استاد (عبدالحي حبیبي) په زیار، په (۱۳۱۷ش) کال ادبي نرۍ ته له کندهاره د (۵۰۰) ټوکو په تېراژ وړاندي سو. ټول دېوان له (۲۷) مخه مقدمې، تصحیح او نادرولغاتونو دلست سره یو خای (۲۳۷) مخه کیږي. ددېوان په مقدمه کي دعبدالقادر خان خټک پر ژوند، شاعرۍ او تالیفاتو باندي د هغه وخت دموجودو منابعو له مخي، تفصیلي خبري سوي دي.

په دېوان کي لومړی (بدلي، بیار باعیات او وروسته متفرقات او تر هغه وروسته دځینو کلماتو املا او دپښتو نادر لغات راغلي دي. د عبدالقادر خان دکندهار چاپ دېوان ارزښت په دې کي دئ چي دلومړي وارلپاره د دغه شیرین کلام شاعر دېوان وړاندي کړ.

لوی احمدشاه بابا

په دغه نوم دلوی (احمد شاه بابا) شعري مجموعه د اروانباد (عبدالحي حبیبي) په زیار دکابل پښتو ټولني له خوا په (۱۳۱۹ش) کال دکابل په عمومي مطبعه کي چاپ سوې ده. دکتاب قطعه جیبي ده او ټول مخونه ئې (۴۰۴) دي. په دې کي (۱۶۲) مخه د سر خبري (۲۱۸) مخه د احمدشاه باباوینا، (۷) مخه دماخذونو لست، (۵) مخه دسړو نومو نه، (۵) مخه فهرست، (۵) مخه تصحیح او سمون نیولي دي.

دپیرمحمد کاکړ دېوان

د پیر محمد کاکړ د دېوان لومړی چاپ:

دپیر محمد کاکړ دېوان په (۱۳۲۵ش) کال دکابل په عمومي مطبعه کي چاپ سوئ. دتدوین او مقابلې کار ئې اروانباد (استادعبدالروف بېنوا) کړی او مفصله سریزه ئې هم پر کښلې ده. د دغه کتاب دمخونو شمېر دسریزې په ګډون (۱۴۲) مخه دئ.

دپیر محمد کاکړ د دېوان دوهم وار چاپ:

دپیر محمد کاکړ دېوان دوهم وار په (۱۳۸۲ل) کال په صحاف نشراتي موسسه کې د(۱۰۰۰) ټوکو په تېراژ خپور سوی. د دېوان د تصحیح او مقابلې کار استاد عبدالروف بېنوا ترسره کړی. په سر کې د استاد حبیب الله رفیع په قلم (۲۰) مخه سریزه ور پسې د استاد عبدالروف بېنوا (۲۱) مخه سریزه راغلې ده. د دېوان متن له (۴۶) مخ څخه پیلېږي تر (۱۷۸) مخ پوري غزلیات، د (۱۷۹) مخ څخه تر (۱۹۴) مخ پوري رباعیات، د دېوان متفرقاتو برخه له (۱۹۵ تر ۲۰۴) مخ پوري ده.

درحمان بابادېوان

درحمان بابادېوان دکابل پښتو ټولني دوه واره چاپ کړی دئ. لومړی چاپ ئې داروانښاد عبدالروف (بېنوا) له خوا ترتیب او تدوین سوی، سریزه ئې هم پر کښلې ده، تر دغه چاپ (۲۸) کاله وروسته، دکابل پښتو ټولني د رحمان باباد دېوان انتقادي متن برابر کړی دئ، ښاغلي حبیب الله رفیع (۵۸) مخه سریزه پر کښلې او د پښتو ټولني رئیس (څېړنوال محمد صدیق روهي) په (۲) مخه کي یو یادابښت پر کښلی، (۲۱) مخه دپاړکو لاربښود هم حبیب الله رفیع ترتیب کړی. په پای کي(۱۳) مخه ویي پانګه لري چي څېړنیار (محمدعارف غروال) ترتیب کړې ده. ټول متن دضمیمې په ګډون (۲۹۴) مخه دئ، دچاپ کار ئې په (۱۳۵۶ش) کال دکابل په دولتي مطبعه کي د (۳۰۰۰) ټوکو په تېراژ بشپړ سوی دئ.

دکاظم خان شیدا دېوان

دکاظم خان شیدا دېوان اول وار داروانښاد (عبدالروف بېنوا) په تدوین، تصحیح او مقابله دکابل پښتو ټولني په (۱۳۳۳ش) د (۱۰۰۰) ټوکو په تېراژ چاپ کړ. په سر کي دمدون په قلم (۲۱) مخه سریزه لري، بیا (۲۲۱) مخونه متن او ورپسې (۴) مخه غلط نامه راغلې ده. د وقایې په دوهم مخ کي د هغه وخت دپښتو ټولني لوی مدیر (صدیق الله رښتین) یومخ یادونه کښلې ده. داکتاب دپښتو ټولني دخپرونو (۱۰۷) لمبر کتاب دئ. چي دچاپي تصحیح او کتني چاري ئې ښاغلو: (صدیق الله رښتین او حفیظ الله) سرته رسولي دي. د لازمو کلماتو، لغاتو، د سرو او خایو د نومونولنډه توضیح او معنا هم د دېوان په لمن لیکو نو کي راغلې ده.

د عبدالحمید دېوان

د عبدالحمید دېوان داروانښاد (صدیق الله رښتین) په مقدمه، تصحیح او اهتمام چاپ سوی دئ. د د ېوان اوله برخه، چي د (حمید پېژدګلوي او شاعري) نومېږي په (۱۳۲۰ش) کال در ښتین په قلم لیکل سوې او په همدغه کال ئې د مطبوعاتو ریاست له خوا د اقتصاد او له جایزه ګټلې ده.

وروسته ئې دعبد الحمید مومند دېوان هم ور سره یو ځای کړ او د (عبدالحمیدمومند دېوان) په نامه د (۱۳۳۱ش) کال په حمل کي دکابل پښتو ټولني له خواد (۱۰۰۰) ټوکو په تېراژ دکابل په عمومي مطبوعه کي چاپ سو.

لکه دمخه چي ذکر سول د دې کتاب اوله برخه (۲۸) مخه د حمید پر ژوند او شاعری بیانو نه لري او دوهمه برخه ئې داشعارو دېوان دئ چي (۱۲۶) مخه ئې نیولي دي.

پیر محمد کاکړ مزار د کندهار ښار ... د حضرت جي بابا په زیارت کي دننه ... طرف ته د یوې پنجرې په واسطه احاطه سوی دئ. چي تر اوسه (۱۳۹۳هـ ش) پوري کومه لوحه ... ده ... لیکل سوې

د شمس الدین کاکړ دیوان

د شمس الدین کاکړ دیوان وار د واره کابل پښتو ټولنې چاپ کړی دی. مقدمه ئې ښاغلي عزیز الله واصفي کښلې او د تصحیح چارې ئې هم د ده له خوا ترسره سوې، د اهتمام کار ئې د(عزیز الله) نومې له خوا بشپړ سوی دی. په (۱۳۳۳) کال د کابل په عمومي مطبعه کې د (۱۰۰۰) ټوکو په تیراژ خپور سوی دی.

د دیوان په سر کې دهغه وخت دپښتو ټولنې لوی مدیر ښاغلي(صدیق الله رښتین) په یوه مخ کې یوه یادونه پر کښلې. مقدمه ئې (۱۱) مخه د نورو دیوانونو پر خلاف دکتاب په پای کې راغلې ده. د دیوان ټول مخو نه (۱۶۹) دي دشمس الدین کاکړ د دغه دیوان تر چاپ (۳۴) کاله وروسته د ده دیوان د صحاف نشراتي موسسې له خوا په ښکلې قطعه اوصحافت بیا چاپ سوی دی. دتصحیح او ډیزاین چارې ئې صحاف نشراتي موسسې سرته رسولي دي، په دې چاپ کې ټایپي تیروتنې ښاغلي(محمد معصوم هوتک) اصلاح کړې اودوهمه لغات نامه ئې ورته کښلې ده. د شمس الدین کاکړ د دیوان دوې قلمي نسخې د افغانستان په ملي ارشیف کې سته، چې یوه نسخه د عبدالواحدبن فیض محمد قندهاري او دوهمه دمحمد ګل خوشکاوي په قلم لیکل سوې ده.

دحنان بارکزي دیوان

دحنان باکزي د دیوان لومړی چاپ:

دمیرزاحنان باکزي دیوان د اول وار لپاره دکابل پښتو ټولنې دکابل مجلې د څانګې له خوا په(۱۳۳۶ش)کال د(۱۰۰۰) ټوکو په تیراژ دکابل په دولتي مطبعه کې چاپ سوی دی. ټول دیوان (۲۴۴)مخه دی او په پای کې دوه مخه سمون لري، چې چاپي تیروتنې پکښې ښوول سوي دي. د دیوان په سر کې دحنان بارکزي تصویر هم وراچول سوی. په سر کې دهغه وخت د پښتو ټولنې رئیس(استادګل پاچا الفت) یومخ او د کابل مجلې دهغه وخت مدیر(محمد دین ژواک) درې مخه لیکنه کړې او په هغو کې د حنان د شعر پر اهمیت او یو څه هم د ده پر ژوند لیک رڼا اچولې دي.

د حنان باکزي د دیوان دوهم چاپ:

د حنان باکزي دیوان د دویم وار لپاره له کراچي څخه د (محمدمعصوم هوتک) په سریزه، سمون او لغات نامې سره د حمید الله (صحاف) لخوا په (۱۳۷۰ش)کال خپور سو.

تردې وروسته دبلوچستان پښتو اکاډمۍ په (۱۹۹۶ع)کال خپور کړ.

دځلورم وار لپاره بیا د ښاغلي(محمدمعصوم هوتک) په سریزه، سمون اولغات نامه په (۱۳۸۸ل) کال کې دصحاف نشراتي موسسې له خوا د(۱۰۰۰) ټوکو په تیراژ خپور سوی دی، چې تر پخوانیوچاپونودکلام د ډېروالي، صحت او دقت له رویه بشپړ دی. د دیوان دغزلیاتو برخه له(۳۵مخ څخه پیل تر۱۸۶مخ پوري)او بیا له(۱۸۹) مخ څخه تر(۲۱۰) مخه پوري) متفرقات اوپه پای کې(۱۳)مخه لغات نامه لري.

هنر او ادب

چلوونکی: م.ا. اميد

ګل رحمن رحماني

غزل

ورک لـه سـترګو، لـه نظره دومره نه يم
لـه خپـل ځانـه بې خبره دومره نـه يم

ستا د اوښکو او موسکا په راز پوهېږم
پـه زړه کـلک لکـه ډبره دومره نـه يم

د بېلتون شېبه شېبه ده لکـه زهر
انديښني څښم، بې ساغره دومره نه يم

اقتدا مـي خپـلو چيغو پسې کړې
بې امامه، بې رهبره دومره نه يم

څه خوی بوی به مي له ياره وي اخيستی
خو رقيبه! بې ضرره دومره نه يم

شاعري مي د فطرت سپېڅلی راز دئ
متاثر دي لـه نظره دومره نـه يم

جيلاني جيلان

غزل

ګرانـي! دومره ګران ګران راتـه مه وايه
سخت به کړي ګذران ګران راته مه وايه

جار دي لـه اخلاقو چي مي ځان بولي
خو د ځان په شان ګران راته مه وايه

درد ستا ګل وجود ته شبنمي اوربښت
زه ړلی، باران ګران راته مه وايه

ته رڼا وجود انسان ازاد انسان
زه تياره زندان ګران راته مه وايه

ډېري چي خوږې شي کيسې اور کوي
ښه به وي جلان ګران راته مه وايه
نه شوې وزګاري له دې کاره سترګي

عطامحمد بېباني

غزل

لکه زړه چي مي پرهرلري په پای کي
ژوند مي دغسي خطرلري په پای کي

تابېره به پټاولکه بوغی سي
خپټه مه موږه ضررلري په پای کي

طالب نلري ډالر په حجره کي
يوکتاب اوبل چای بر لري په پای کي

زه څوځله په خوسي يم تر او ښتی
لووالـه هم سپېره غرلري په پای کي

کلينيک مو د جمعې په ورځ رخصت وي
نه مريض اونه ډاکټر لري په پای کي

چي شاعر ته د الهام شاپېری راسي
زېرخانې ته ځي غمبر لري په پای کي

چي دبيارا ستنېدو امکان يې نسته
بيابانـي داسي سفرلري په پای کي

تمناحسرت

غزل

چي ستا پېغور راکوي خوند راکوي
زړه له ټکور راکوي خوند راکوي

لاس رانه خپل لاسو کي کلک ونيسي
ګوتو کي زور راکوي خوند راکوي

د ځانه مشر رورلـه ګرانه يمه
مينه دمور راکوي خو نـد راکوي

ياد دي زما د تنهايی ملګری
ښنګرو لـه شور راکوي خوند راکوي

تمنا پرېږده چي اوبه اوبه شم
واوره يم اور راکوي خوند راکوي

پوهیالی محب الله ترابي

غزل

زړه کي راسره اوبه ځي مي له لېمه اوبه
دا سیندونه وچ نشول وړي به مي نور څه اوبه

شابه تنده ماته کړه ځان دي کړه پرې ښه اوبه
مړ به شمه بې له تا راکه نشې ته اوبه

وبه خورم قسم درته نه څښمه نور زه اوبه
هاغه دېوالونو ته مه وړېرېږده مه اوبه

ځپل سیوري ته وواېه کړه دي راته زړه اوبه
پاتي دي ساقي ته شي ډک جام او ترخه اوبه

ما ته یې راوړي دي بیا له هغه غره اوبه
وه محبه څه کوې څښې په نیمه شپه اوبه

صدیق الله مین

غزل

لاس کړه هله کاږو ته سنګسار مي کړه
حق وایم سرزوره یم په دار مي کړه

نه مي دي د چل پستې خبري زده
سپین پښتون سړی یم ګرانه! یار مي کړه

چیري ولاړ شم څه وکړم حیران یمه؟
لاره راته ورکه ده پر لار مي کړه

تورلکه ماښام اوس راته ځان ښکاري
راشه! ته خولمر یې روڼ سهار مي کړه

رادي کړل جامونه ډېر نشه شومه
اې ساقي! اوس ژرکوه خمار مي کړه

پاتي چي له ستورو نه یوستوری یم
جار دي شم سپوږمۍ ګډ په کتار مي کړه

ژوند به په خوب - خوب لاتېروم ترڅو
ویښ مي کړه مینه! اودکار مي کړه

قیس هاشمي

غزل

ملا څه یې فرمایلي دې رندو ته
ته د خدای دا وینا وژباړه پښتو ته

نوراني پیر لکه خدای ورته ولاړ وو
مریدان یې په سجده شوله پښو ته

داسې ښکاري چې کوم ځای یې زړه بایللی
زاهد زیړ ځوندی ورواچاوه تسبو ته

چې اوبه وویم ته را په یادېږي
چې تا ووینمه تږی شم اوبو ته

په بګړیو یې نیولي وه لاسونه
دوو شپونکیانو پاس کتله طیارو ته

داسي بویه چي هغه محفل ته راشي
لکه شات چي څوک ورواچوي شیدو ته

هغه وخت تلم مېکدې ته چي د شپې به
د مسجد نه خلک تلل خپلو کورو ته

حلال چرګ یې پاکوه و پخېدو ته
سر پښې یې بام ته واچول پیشو ته

وې ته کله راځې ما ویل که خیر و
در رسېږم ماخستن نهه بجو ته

ماشوم چېغه کړله قیس کلي ته راغی
پېغلو منډي کړلې وختې بامو ته

حاجي غلام نبي سعید

غزل

څو د سترګو له مداره لکه اوښکه
راتوئیږو بې اختیاره لکه اوښکه

سم دلاسه نابودیو ته ځان سپارو
فارغ نه یو له دې کاره لکه اوښکه

چې بې آبي بې آبی ایشاره ولو
ترې راووته ابداره لکه اوښکه

پټ د زړه په کورکي نه سي پټېدلای
غم ښکاره سي وار د واره لکه اوښکه

که یاران دژوند پر مینه نه پاتېږي
موږ هم درومو له دې ښاره لکه اوښکه

خلیل احمد قیس

غزل

ستا د میني نوم به واخلم ستا پر پل چې زما پل دئ
ستا په ذکر کي لمبه ده زما وجود غزل غزل دئ

ټولي لاري سولې بندي د مرګ لاره نه بندېږي
زه تر تا پوري راغلی خوږې سترګي زما اجل دئ

چې هلک وم شرابي وم ته ماشومه وې خماري
اوس چې ځوان عقل ته راغلې واساقي سړی دي غل دئ

موږ د میني سوداګر یو په نظر کي مو لمبې دي
یا غي زړونه راسره دي په سکروټو کي مزل دئ

په وچ زور یمه راغلی څوک مي نیسي ګرځولای
اې کافره محبته ستا خو زړه راسره مل دئ

سید شاه سعود

غزل

داسي ورځ به راشي چې ستا شال به نوی شوی وي
شپه به تېره شوې وي او کال به نوی شوی وي

ما او تا په ګډه خپل وطن ته دعا کړې ده
اوس به سَر بدل شي د زړه تال به نوی شوی وي

بیا چې لس اته کاله پس کلي ته راوګرځو
بېره به همدا وي مګر ټال به نوی شوی وي

غم که د یاجوجو د ماجوجو غوندي وڅټي
بیرته چې راځې نو دا دېوال به نوی شوی وي

اوس به دي زما هغه وړې خبري هېري وي
ته به پېغله شوې یې ستا خال به نوی شوی وي

وخت سره سعوده د هر څه مانا بدله شي
خوښ به په ګل نه وي څوک، مثال به نوی شوی وي

یتیمه سلګۍ

غزل

تنهایي ده څه د ستـــــــــورو ډک اسمان دئ
دلته هـــــــــر سړی پردی دئ دلته هر سړی د ځان دئ
دلته مینه ده سور کفر محبت لویـــــــــه ګناه ده
دلته هر مین کافر دئ هر بـــــــــې میني مسلمان دئ
دلته هر قاتل سردار دئ دلته هر سردار بـــــــــې سره
دلته هر جانان رقیب دئ دلته هر رقیـــــــــب جانان دئ
دلته هر مظلوم یزید دئ دلته هر یزید حُســـــــــین دئ
دلته جوړه کربلا ده دلته جوړ هغه مـــــــــیدان دئ
دلته ویر دلته ژړا ده دلته اوښـــــــــکي دي یتیمي
دلته پټ دئ په وریښمو دلته څیري یې ګرېوان دئ

پروفیسر راز محمد راز

غزل

توري سترګي يې لږ څه په خندا ښکاري
مرور اشناء په زړه کې پخلا ښکاري

په وقار تر سروي زياته بالا ښکاري
پرڅېره يې دمريمي حيا ښکاري

د الفت دغوڅ رشتې لاڅه ريښه سته
دفراق دشب په شاکي سبا ښکاري

ستاپه مينه کي د خوف عنصر شامل سو
اوس دي مينه ګراني ماته ښرا ښکاري

يوه څپه رابان‌دي راسې، بيا کنار سي
په فطرت کې دي ګرېز دهوا ښکاري

چي يار ولاړسي ځان بې کوره راته ښکاري
حاضر يار راته وهلې کلا ښکاري

سرګردان د دښت سراب پښ کوڅو وينم
سياه چشمه يوه هوسۍ يې خطا ښکاري

تر افتاب لاندي اوار سمندر ښکاري
خوږ اشناء څومري شتمن او وسا ښکاري

زه او ژوند اشناء په يوه جمله بحال کړو
لويه خدايه دا سړی دي ديوتا ښکاري

دخپل لوړ قامت ريښې چي اشناء راکړې
خود به قد زما تر درختو بالا ښکاري

کوم جواز دخوابدی سته، ما و تاته؟
چي سايې مي بوختي سر په وينا ښکاري

يار سحاب مي له لمرو په ځان خوندي کړي
يار سحاب راته دسيوري قباء ښکاري

ژوند مي وژني خوږ اشناء مي ژوندی ساتي
خوږ اشناء د ژوند جواز او بقاء ښکاري

زه د لمر دبحر په څپر په يارکي تېر سوم
بند پر بند يې ځکه ورځ په خندا ښکاري

مقتصد ستړی

غزل

ليدلي، بلد خلک پکښي ښکاري نابلده
زموږ سترګي پردی سوې که هنداري نابلده

د دې کلي په سمه او نا سمه به څه پوه سم
يو سيمه وحشتناکه ده، بل لاري نابلده

دا خپل غږ مي را غبرګ نه شو په يوه لمنه غرو کي
ما چيغي کړې په ځان پسي څو واري نابلده

د نن او د پرون په سړيتوب کې څومره فرق دئ
له سمي خولې مي واورېدې مرداري نابلده

په لوڅ فکر د لوڅو پېغلو غېږي ته ځم ستړی
نڅېږي راته هــــرو ړ ګنهــــــګاري نابلده

مصطفی سالک

غزل

زه تش کالبوت يمه اروا مي ته يې
تشه فضا يمه دنيا مي ته يې

يو ډېرليک يم د لرغونو وختو
ته مي لوستی شې چي مانا مي ته يې

اوښکي مي ستا د شعر اميل شه جينۍ
اوربل دي ګل شه چي خندا مي ته يې

ستا په وتلو له دنيا نه وځم
د دغه مات زړګي درزا مي ته يې

دغه داغونه مي د قبر ډېوې
له ستورو جوړه يې رڼا مي ته يې

زه ما وجود کي بېله تا نو څه دي
سالک هم ته يې مصطفا مي ته يې



لیکوال: نثار احمد صمد واصفی

د افغان پوځ کافر قوماندان

بسم الله الرحمن الرحیم ـ دا زړه ور، غیرتي او مېړنی قوماندان مسلمان نه وو، خو د مسلمانانو خواخوږی وو، افغان نه وو خو د افغانانو ملګری وو او پښتون هم نه وو خو د پښتنو ملاتړی وو. دا پیاوړی او سرلوړی قوماندان نصرالله نومېدئ، چې د سیستان اوسېدونکی وو. دین ئې زردشتي یا اور لمانځونکی(یعني مجوسي، ګبر) وو. قوماندان نصرالله په اتلسمه پېړۍ کې ژوند کاوه. دی په سیمه او ایران کې د زردشتیانو مشر وو. نصرالله د ایران د صفوي متعصبو واکمنو سره په مسلسلو جګړو بوخت وو.

د ایران د صفوي شاهانو رسمي سیاست، په ټوله معنی یو مذهبي فاشیستي سیاست وو، چې د رسمي مذهب تر څنګ ئې د نورو مذهبي ډلو زغم نه درلود.

د صفوي واکمنی په موده کې شیعه مذهب د دولت د رسمي مذهب په توګه له توند سیاسي او مذهبي استبداد او هم د پراخو ټول وژنو سره مل وو. غیر شیعه قومي او مذهبي خلک به سپکېدل، خوروېدل آن په ډله ییزه توګه وژل کېدل. هغوی په جبر او وچ زور سره دې ته اړیستل کېدل، چې د خپل مذهب څخه واوړي او شیعه مذهب ومني. (د کندهار پاڅون ۱۰ـ۱۱ مخونه)

سُني مسلمانان؛ لکه: بلوڅان، کردان، ازبکان، عربان او آذران زردشتیان او یهودیان پرله پسې د صفوي دولت له خوا خورېدل او سپکېدل. د دوی مسجدونه او عبادت ځایونه ئې ورانول تر څو د خپل مذهب څخه واوړي. دغو ډلو هم تر خپله وسه د صفویانو په وړاندي مقاومت کاوه.

تر کومه ځایه چې په زردشتیانو اړه لري، هغوی د خپل (سپېڅلي اور) د ساتنې له پاره د اصفهان د حسن آباد سیمه پرېښوده او کرمان ته کډه سول. هلته هم سخت ظلم پر کېدی، چې کله شاه محمود هوتک په ۱۷۱۹ میلادي کې هغه سیمه ونیوله، نو دوی و دغو یرغلګرو افغانانو ته د خپلو آزادي غوښتونکو په توګه کتل. (همارغه: ۲۳، مخ)

اتل قوماندان نصرالله زردشتي هم د دغو ظلمونو ښکار وو، چې د مجبوریت له مخې ئې خپل زردشتیان وسلوال کړل او مقاومت ئې پیل کړ. کله چې د میرویس نیکه زوی شاه محمود هوتکي پر ایران برید وکړ، د غه پیاوړی قوماندان ئې مل او ملګری سو.

د کرمان زردشتیانو د شاه محمود هوتکي ټینګ ملاتړ وکړ، دا ځکه چې په دې ښار او د ایران په نورو برخو کې دوی د شیعه ملایانو او دیني مشرانو له خوا توهین او ترټل کېدل، چې ډېر ترې په تنګ وه. دوی مجبور وه چې د هر هغه پاڅون او هڅي ملاتړ وکړي چې صفوي څواک ختموي.

نو زردشتیانو ګام پر ګام د شاه محمود هوتکي ملاتړ کاوه. محمود هم له دې وضعې د خان په ګټه موقع حاصله کړه او د زردشتیانو هر کلی ئې وکړ. (همارغه: ۷۶، مخ)

د شاه محمود هوتکي د لښکر کښېو دغه بریالی مشر نصرالله په (رویند سلطان) سره مشهور وو. د ده دا عادت وو چې تل به ئې یوه ستر ګه پټه نیوله. له همدې کبله ئې په (رانده سلطان) سره شهرت موندلی وو.

د افغاني پوځیانو په مشرتابه کې د زردشتي قوماندان شتون په هغو مذهبي اختلافاتو کې له یوې خوا د شاه محمود هوتکي هوښیاري څرګندوله، له بل پلوه ئې په نظامي چارو کې د (رانده سلطان) د بې ساري مېړاني او وړتیا څرګندویې کول. کېدای سي یو بل دلیل ئې د شاه محمود سره د کرمان د زردشتیانو همږغي او د شاه محمود افغان شتون وي. (د کندهار پاڅون: ۷۶، مخ)

په هر صورت، شاه محمود هوتکي د ۱۷۲۲ په مارچ کې د ایران پر مرکز اصفهان باندې د برید په غرض هلته ورغی. ایراني پوځ د اصفهان څخه څو میله مخته راووت او په ګلناباد (ګلن آباد) کې مورچل بندي سو. د اصفهان په دې جګړه کې د افغاني او ایراني پوځیانو د تعداد فرق بېلا بېلو ماخذونو بېلا بېل ښودلی دئ. ټولو منابعو ایراني قواوې د افغاني قواوو درې یا څلور چنده بللي دي؛ مثلا اتیا زره د نهو زرو په مقابل کې؛ یا پنځوس زره د لس زره په مقابل کې؛ یا دوه پنځوس زره د څوارلس زره په مقابل کې؛ یا پنځوس زره د دوولس زره په مقابل کې او یا هم شپیته زره د شلو زرو په مقابل کې. (د خپلواکۍ لمر خرک: ۱۰۳، مخ)

د مارچ پر اتمه سهار مهال دواړو خواوو پوځیانو یو بل سره ولیدل، ایرانیانو نه یوازي پر افغانانو زیاتوالی درلود، بلکې متحده الشکله لباس (یونیفورم) ئې درلود. د دوی اردو ټوله په هر ډول ښو وسلو سمبال وو. اکثریت پوځیان ئې ډېر پرتمین ښکار بدل. خو د دې پر خلاف د افغانانو رنګونه الوتي، جامې ئې خیرني او څیري وې. په لښکر کې د بریښ شی نه وو، پر ته له تورې او نېزې څخه. حال دا چې د ایرانیانو د آسونو عراقونه لا د سرو زرو هم پکښې وه. پر چاغو او تازه دمو آسونو ئې دا سې سپرلي کوله لکه رسم ګذشت ته چې روان وي، خو افغاني آسونه ډنګر او زهیر ولاړ وه. (همارغه: ۱۰۴، مخ)

کله چې د ګلناباد جګړه پیل سوه، افغاني لښکري پر درو برخو ویشل سوي وې. پر ښي لاس امان الله خان، پر کیڼ لاس نصرالله خان او منځنۍ برخه شاه محمود پخپله قوماندې کوله. د ماځیګر څلور بجې وې، چې قطعي قدم

رستم خان ګرجي پورته کړ او د افغاني لښکرو پر کیڼ طرف ئې سخته حمله وکړه، چې قوماندان ئې نصرالله وو. هغوی د ده لښکر په بې نظمۍ سره شا تګ ته اړ کړ. دا وخت امان الله سلطان و شاه محمود ته وویل چې خپل مخ پر بېرده او پر رستم حمله وکړه. مؤرخین وایي چې شاه محمود دا هیڅ سپکه و نه بلله چې زما یو نوکر ما ته حکم کوي، بلکې د امان الله د وینا سره سم ئې پر دښمن دا سې حمله وکړه، چې تر خپل لښکر دو سوه متره مخکې د دښمن په لښکر ورګډ سو. د شاه محمود د حملې سره سم نصرالله هم بیرته مخ پر راوګرځاوه او په ګډه ئې ایرانیانو ته سخت ګوزارونه ورکړل او پسې مات ئې کړل. (د خپلواکۍ لمرځرک: ۱۰۵ـ۱۰۶ مخونه)

ځیني تاریخپوهان لیکي چې د ګلناباد جګړه دوه اتلان لري، چې لومړنی امان الله سلطان او دوهم نصرالله خان دئ. (افتخارات افغان: ۹۲، مخ)

په رښتیا هم نصرالله خان د افغان تاریخ یو اتل قوماندان ثابت سوی دئ.

د ایرانیانو تر ماتې وروسته تښتېدلي صفوي پوځیان اصفهان ته ولاړل او هلته مورچل بندي او اته میاشتي محاصره سول. د ۱۷۲۲ په مې کې د اصفهان د مسلسلې محاصرې او سختې لوږې له امله دروو ایراني خانانو د علي مردان خان په مشرۍ د څه خوړو او پنځو زرو سپرو پوځیانو سره د اصفهان مرستې ته راودانګل. کله چې شا محمود هوتکي له دې موضوع خبر سو نو نصرالله زردشتي ئې د سپرو پوځیانو سره مقابلې ته ورولېږئ. نصرالله اصفهان ته نږدې د دې پوځ مخه ونیوله او په خپل بریه سره ئې د هغوی ۱۵۰۰ پوځیان ووژل او متباقي وتښتېدل.

بیا د سپټمبر په وروستیو کې مرکز ته خبر راغی. چې د تون او طبس واکمن ملک محمود سیستاني د لس زره کسیز پوځ سره د اصفهان مرستې ته را روان دئ. کله چې شاه محمود هوتکي دا خبر واورېد نو ډېر ژر ئې د هغه خپل هیوادوال (نصرالله زردشتي) د خبرو اترو له پاره د هغه مخې ته ولېږئ. نصرالله په ګلناباد کې د ملک محمود سره ولیدل. د ګران بیه ډالیو تر ورکولو وروسته ئې ور ته وویل چې اصفهان د تسلیمۍ په درشل کې دئ او صفوي لړۍ د سقوط په حال کې ده. نو د شاه محمود افغان څخه دغه ګټل کېدونکي ویاړ مه اخله. نصرالله ټینګار وکړ چې د اصفهان د ژغورنې له پاره دې له هر ډول سوچ څخه لاس واخلي. د هغه څخه ئې وغوښته چې د افغانانو سره یو ځای سي او د هغوی په مرسته دې پر خراسان واکمني وکړي. پر ملک محمود سیستاني د نصرالله خبرو ډېر تاثیر وکړ، نو ډېر ژر خراسان ته ستون سو. (کندهار پاخون: ۸۵ـ۸۶. مخونه). له دې څخه د نصرالله لیاقت او درایت ښه ترا ثابتېږي.

د سختې لوږې له امله بالاخره د ایران واکمن شاه حسین صفوي تسلیم سو او د پارس د سلطنت تاج ئې په خپل لاس د شاه محمود هوتکي پر سر کښېښود، خپله لور ئې هغه ته په نکاح کړه او په دې ډول شاه محمود هوتکي رسماً د ایران د پاچا په توګه وپېژندل سو.

کله چې شاه محمود هوتکي د اصفهان ښار ته په مراسمو ننوتی نو معزول شاه حسین صفوي ئې پر چپه خوا روان وو. د دې دوو امیرانو تر شا درې سوه غلام بچه ګان سپاره روان وه. وروسته د شاه محمود هوتکي مفتي اعظم ملا زعفران، نصرالله زردشتي، ملا موسی خزانه دار، محمد اغا د البساطو ناظر، وروسته له دوی ایراني معزول صدراعظم محمد قلی خان او د دواړو هیوادو لوړ رتبه صاحب منصبان سپاره روان وه. (د خپلواکۍ لمرځرک ۱۲۷

مخ). له دې معلومېږي چې نصرالله زردشتي د یو قهرمان په حیث څونده قدر، عزت او اهمیت درلود.

شاه محمود هوتکي پر اصفهان باندې د قبضې او تصرف څخه وروسته په ۱۷۲۴ کې یو پوځ د نصرالله په قومانده د ایران د هغو ښارونو او ولایتونو د بیرته نیولو له پاره مؤظف کړ چې عثماني ترکانو د موقع څخه په استفاده نیولي وه. نصرالله د اوسني عراق زیاتي سیمې بیرته د ترکانو څخه ونیولې او هم ئې مهم ایراني ښارونه لکه گلپایکان، خوانسار، کاشان او قزوین ونیول. (هوتکي ها: ۱۳۶، مخ)

خو اصفهان یو ځل بیا د لوږي او قحطي سره مخامخ سو، که نصرالله زردشتي د اصفهان له شاوخوا سیمو خوراکي توکي نه وای تهیه کړي، له شکه پرته به ډېر خلک له لوږي مړه سوي وای. نصرالله د درې زره کسیز سپاره پوځ په ملګرتیا د اصفهان په شمال لوېدیځ کې د خوږو په برابرولو پیل وکړ، چې دا کار ئې په ښه توګه تر سره کړ او په خوږو پنځوس زره بار اوښان ئې پلازمېني ته ولېږل. (د کندهار پاځون: ۹۷ـ۹۸، مخونه) ښایي پنځوس زره بار اوښان مبالغه یا چاپي تېروتنه وي.

دا لا څه، د همدان له شاوخوا، ختیځ او شمالي سیمو څخه ئې څلور زره سني مذهبه خانان اړ کړل چې اصفهان ته کډه سي او هورې استوګنه وکړي. (همانه: ۹۸، مخ)

د نصرالله زامن د اصفهان تر نیول کېدو وروسته سیستان ته ولاړل او د ۲۰۰ افغان او زردشتي خانانو سره د سیستان څخه اصفهان ته کډه سول.

پولینډی کشیش (کروسینسکی) په خپلو خاطراتو کې لیکي چې نصرالله زردشتي یو متواضع او زغم لرونکی انسان وو. کله چې ئې ولیدل خیني ګرجیان (د ګرجستان عیسویان) د شاه حسین صفوي له خوا د خدمت پر وخت د اسلام منلو ته اړ یستل کېدل. نو اجازه ئې ورکړه چې بیرته خپل پخواني مذهب ته واوړي. آن د اصفهان څخه ئې ګرجي کشیش ور ولیږئ. کروسینسکی زیاتوي چې ده دا کار د عیسویت سره د مینې له کبله نه، بلکې د شیعه مذهب څخه د کرکې له امله کاوه. (د کندهار پاځون: ۹۹، مخ)

کله چې اصفهان په بشپړ توګه کنټرول او امن سو، نو شاه محمود هوتکي د نورو ښارونو او ولایتونو د نیولو چمتوینه ونیوله. شاه محمود په افغاني قوماندانانو کې نصرالله ته د درو زرو افغانانو او شپږو زرو درګزینانو (غیر افغاني پوځیانو) سره د شیراز د نیولو ماموریت ورکړ. کروسنسکی دا نقل داسي کوي: «د اصفهان او شیراز تر منځ د لاري پر اوږدو پر تو خلکو ئې اطاعت وکړ. نصرالله په طایفه د کعب هندوستاني او په عجم کې، چې مطلب ایراني دئ، ډېر معتبر وو. په بهادرۍ، دلاورۍ او شجاعت ئې شهرت پیدا کړ. په افغانانو کې ئې پراخ بخت درلود. افغانانو به ایلدرم خان باله. د اصفهان په جګړو کې چې به هر چیرې افغانانو د عجمو څخه ماتې وکړه، دی به ور رسېدئ او عجمو ته به ئې شکست ورکاوه او دی په هیڅ جنګ کې نه دئ مغلوب سوئ. افغانانو ده ته ډېره عقیده درلوده او قزلباش سخت ځني بېرېدل.

په دې سفر کې دی ډېر مغروره سوی وو او فکر ئې کاوه چې په محض رسېدو سره به شیراز قبضه کړم، خو برعکس نتیجه ئې ورکړه. نصرالله خان په ډېر غیرت او زړه ورتوب پر شیراز حمله وروړه او دی د خپل پوځ په مخکې ولاړ وو، چې د توپ ګولۍ راغله او پر ده ولګېده او دی ئې ووژی. افغانان د ده له مړیني دومره متأثیره سول چې له محاصرې ئې لاس واخیست.

دا خبر شاه محمود ته ورسېدئ او هغه سخت خوابدی سو. نو ئې د ده پر ځای زبردست خان د لښکر په

سرداري مقرر کړ.» (د زماني پلونه: ۲۱۷مخ: د خپلواکۍ لمرځرک: ۱۴۹مخ)

ښه! د پورته ټول بیان څخه ښکاري چي نصرالله زردشتي د شاه محمود هوتکي په اطاعت کي څه نا څه پنځه کاله تېر کړي دي، خو په دې لنډه موده کي ئې هغه ته خورا زیات خدمتونه او سربښندني کړي دي، چي هیڅ ساری نلري.

شاه محمود هوتکي ته چي د نصرالله خان د مړيني خبر ورسېدئ ډېر خواشیني سو. څنګه چي هغه ډېر ننګیالی او توریالی قوماندان او ډېر وفادار شخص وو، نو شاه محمود پخپله د هغه د جنازې مراسمو ته ورغی او پکښې برخمن سو او د هغه جنازه ئې په خورا پرتمینو مراسمو سره پر خاې کړه. شاه محمود دا پېښه نه جبرانېدونکې ضایعه وګڼله، ځکه چي هغه د ده د لښکر د خورا بریالیو او جنګیالیو قوماندانانو څخه وو.

وروسته د شاه محمود په امر د نصرالله پر قبر یوه ډېره ښه ګنبده جوړه سوه. څنګه چي نصرالله ګبر یعني اور لمانځونکی وو، نو دوه مجوسیان ئې مؤظف کړل چي د ده قبر ته نږدې دوامداره اور بل کړي. (هوتکي ها: ۲۲۰مخ)

نصرالله ګبر په ایران کي په (سلطان کور) سره مشهور وو، ځکه چي ده به تل یوه سترګه ځنه نیوله. ده په لږ موده کي د شاه محمود هوتکي په دربار کي ستر مقام پیدا کړ. په ایران کي ئې ډېري سیمي فتح کړې او شاه محمود ته ئې ستر خدمتونه وکړل. بد نفسه سړی نه وو.

ایرانیان هم څېداني شکایت نه ځني لري. کروسنسکی لیکي چي د ډېري بهادرۍ له کبله به افغانانو ایلدرم باله. (د خپلواکۍ لمرځرک: ۳۰۰مخ)

خو هر څه چي وو، نصرالله د یو غیر مسلمان یعني کافر په توګه د افغانانو ټینګ پلوی، د افغان پوخ لایق او مجرب قوماندان او د افغان سلطنت یو مخلص او وفاداره تبعه وو، چي په همدې لاره کي ئې ځان تر افغانانو قربان هم کړ. د ده دا وینا باید د افغانستان په تاریخ کي په زرین خط ولیکل سي چي ویل یې: «د افغانانو سره یو ځای سي!» نو ویاړ په دغسی ویاړمن، پتمن او بریمن قوماندان باندي. والسلام

اروندہ اخځونه:

۱ – د زماني پلونه: څېړندوی حبیب الله رفیع، میهن څېړندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۳ میلادي.

۲ – د کندهار پاځون او د ایران صفوي دولت رنګېدل؛ کاندیدا کادمیسین محمد اعظم سیستاني؛ ژباړن: صالح محمد صالح، د افغانستان د کلتوري ودي ټولنه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۵ میلادي.

۳ – هوتکي ها: عبدالرؤف بېنوا، مؤسسه انتشارات الازهر، پشاور، ۱۳۷۹ شمسي.

۴ – افتخارات افغان: دکتور عبدالحکیم طبیبي، انتشارات بیهقي، کابل، ۱۳۵۲ شمسي.

۵ – د خپلواکۍ لمرځرک، د هوتکو د افغاني دولت عروج او نزول: الحاج امان الله هوتک، دانش کتاب پلورنځی، پېښور، ۱۹۸۹ میلادي.



ډاکتر عبدالروف رفیقي

دګوره زامن

په افغانستان کي په لومړي، دوهم او درېیم افغان انګلیس جنګونو کي د وژل شوو انګرېزانو احوال

(دوهمه برخه)

مستریک: ددې سړي نور تفصیل نه سو رامعلوم فقط د موهن لال په یادابښتونو کي ئې یادو نه راغلې ده. کله چي دی په لومړي ځل د الیګذ نډر برنس سره په جاسوسي افغانستان ته راغلی وو دی لیکي: «مور په ۹جون ۱۸۳۲م دچمن داس دراکړل شو سپرو سره دخلم ځخه را روان شو په دابله ورځ مزار ته راورسېدو پر هغه خای مو پړاو واچاوه چیري چي مستریک په تبه کي مړ شوی وو. (افغانستان او موهن لال: ۶۳، مخ)

لیفټینټ کرنل فریډرک میکسن: فریډرک میکسن په ۱۸۰۷ م کي زېږېدلی، په بریتانوي فوځ کي لیفټیننټ کرنل وو، د پېښور کمشنر تېر شوی دئ، په ۱۹۲۵ م کي څورلسم بنګال انفنټري کي د علمبردار په رتبه وټاکل شو . په ۱۸۲۸ م کي لفټیننټ په ۱۸۴۳ م کي کپتان جوړشو. په ۱۸۳۱ م کي دی په لدهیانه کي مامور وو. د رنجیت سنګهـ زیاتره دباندني ملازمان سر سي ایم ویډ لره د ملازمت د پاره راتله. پر داسي مواقعو باندي د میکسن د فرانسیسي ژبي پوهنه زیاته په کار ورتله. په ۱۸۳۷ م کي دی د سرالیګز نډرپرنس سره ملګری پېښور ته تللی وو. په ۱۸۳۸ ـ ۱۸۳۹ م کي ئې د سندهـ ځخه د عسکرو د تېریدلو مراعات ترلاسه کړه او د دغه خدمتونو په صله کي ئې په ۱۸۴۲ م کي د سي جي خطاب ورکړ. په ۱۸۳۵ م کي په پېښور کي یوه پښتانه ووژئ. (افغانستان او موهن لال: ۹۵، مخ)

جنرل جین فرینکو الارډ: په ۱۸۰۳م کې په فرانسوي فوځ کې داخل شو. د ۱۸۰۴م څخه تر ۱۸۱۰م پوري ئې په اټالیا او سپین کې خدمتونه وکړه، د هغه په انعام کې ده ته رائل سپینش آرډر او لجن آف آنر لمانځنې ورکړل شوې. دی په ۱۸۲۲م د رنجیت سنگهه سره ملازم شو او د سکهانو د رسالې عمومي کارگزاري ئې تر ډېره حده سمه کړې ده، د ډېرو غورو اخلاقو څښتن وو او پنجاب ته راتلونکي هر ناولده اروپایي ته به ئې ښې مېلمستاوي ورکولې. ده ښځي غټه ړیره او اوږده برېتونه پرې ایښي وه، دی په ۱۸۳۹ کې په پېښور کې مړ شو. (د جی ایل چوپړه د کتاب PUNJAB AS A SOUEREIGN STATE ۱۸۳ – ۱۸۴ مخونه. دافغانستان او موهن لال د۴۷ مخ لمن لیک)

کرنل کیتهـ(*Colonel Keith*): د بریتانوي نظامي قواوو دغه سړی کرنل وو او له بریتانوي قواو سره افغانستان ته رالېږل شوی وو. دی هم په لومړي افغان انگلیس جنګ کې په ۱۸۳۹م کې په افغانستان کې ووژل شو. دا ډول د ده له لور له خوا لمسی دوهم لیفټیننټ ایچ جېمز اوتهم بیا په دوهم افغان انگلیس جنګ کې په ۲۷ جولایي ۱۸۸۰م د مېوند په جنګ کې له پښتنو له خوا ووژل شو. (The Afghan Campaigns of 1878- 1880 Vol.2 p. ۱)

ډاکټر لارډ: د لومړي افغان انگلیس دبریتانوي فوځ دبنګال د رسالې و دو ټولیو ته چې د برید امر وشو، نو پر ځای د دې چې دوی امر منلی وای هغوي خپل ماموران پرېښوول او ډېر په سپیتانه وتښتېدل په دغه موقع ډاکټر لارډ، پولیټکل ایجنټ لیفټیننټ براوفټ اوید جوټنټ کرسپن ووژل شوه او دا پاته ماموران ښځي زیات ژوبل شوه. (تهارنټن دوهم ټوک ۱۴۴ – ۱۴۵ مخونه. سائیکس دوهم ټوک: ۲۰، مخ. افغانستان او موهن لال: ۱۶۰، مخ)

پولیټکل ایجنټ لفټیننټ براوفټ: دبنګال د رسالې و دوو ټولیو ته چې د برید امر وشو. نو پر ځای د دې چې دوی امر منلی وای هغوي خپل ماموران پرېښوول او ډېر په سپیتانه وتښتېدل په دغه موقع ډاکټر لارډ، پولیټکل ایجنټ لفټیننټ براوفټ اوید جوټنټ کرسپن ووژل شوه او دا پاته ماموران ښځي زیات وژوبل شوه. (تهارنټن دوهم ټوک: ۱۴۴ – ۱۴۵ مخونه. سائیکس دوهم ټوک: ۲۰، مخ. افغانستان او موهن لال: ۱۶۰)

ید جوټنټ کرسپن: دبنګال د رسالې و دو ټولیو ته چې د برید امر وشو. نو پر ځای د دې چې دوی امر منلی وای هغوي خپل ماموران پرېښوول او ډېر په سپیتانه وتښتېدل په دغه موقع ډاکټر لارډ، پولیټکل ایجنټ لفټیننټ براوفټ اوید جوټنټ کر سپن ووژل شوه او دا پاته ماموران ښځي زیات وژوبل شوه. (تهارنټن دوهم ټوک: ۱۴۴ – ۱۴۵ مخونه. سائیکس دوهم ټوک: ۲۰، مخ. افغانستان او موهن لال: ۱۶۰)

کپتان ویلیم براډفټ: دبرطانوي فوځ مامور وو د لومړي افغان انگلیس جګړې پر وخت کابل ته دخپلي وظیفي د پوره کولو لپاره راغلی وو، چې ۲ نومبر ۱۸۴۲ په سهار د انگریزانو پر ضد په مشهوره بلوا کې ووژل شو. (ماخذ افغانستان او موهن لال: ۲۰۵، مخ)

لفټیننټ چارلس: دبرطانوي فوځ مامور وو د لومړي افغان انگلیس جګړې پر وخت کابل ته د خپلي وظیفي د پوره کولو لپاره راغلی وو، چې ۲ نوامبر ۱۸۴۲ په سهار چې د انگریزانو پر ضد کومه مشهوره بلوا وشوه، دی د برنس په باغ کې د مقاومت څه وروسته ووژل شو. (ماخذ افغانستان او موهن لال: ۲۰۵، مخ)

الیگزندر برنس (لاټ برنس) سکندر خان(Alexander burns):



زوکړه: ۱۶می ۱۸۰۵م برطانیا، د جیمز زوی، وژنه په کابل کې ۲نومبر ۱۸۴۱م.

۱۸۲۱م هند ته راتګ او د بمبۍ د بري فوځ په نیوانفنټري کې شاملیدل. ده هندوستان دژبو به زدکولو کې توان په کار واچاوه له دغه سوبه دی د خپل رجمنټ د ترجمان دوظیفې لپاره انتخاب شو. لږ وخت پس ئې خپل رجمنټ ایډجوټنټ (اجټن) مقرر کړ. ۱۸۲۵م خارجه وزارت ته تبدیلي دوزیر خارجه مرستیال ۱۸۲۹م کې ئې دی په سیاسي ځانګه کې د پولیټکل ریذیډنټ کوچ د معاون په توګه تبدیل کړ، په ۱۸۳۰م کې ئې دی درنجیت سنګهه و دربار ته په یوه اعزازي پلاوي کې ولېږئ.

۱۸۳۲م کل افغانستان او منځني اسیایي سیمو ته تګ او د هغو د تفصیلي رپورټ لیکلو زمه واري.

۱۸۳۴م د برطانیا سفر (دده د کارونو په ستاینه د انګلستان د جغرافیایي ټولني له خوا د سرو زرو او د فرانس جغرافیائي ټولني له خوا د سپینو زرو تمغې ورکول سوې.

آثار: د بخارا سفر (دافغانستان اومنځني آسیایي هیوادونو راپور) درې ټوکه ۱۸۳۴م، دوهم خل: لندن اکسفورډ یونیورسټي ۱۹۷۳م . کابل(یو بل اثر چې د خپل دوهم سفر خاطري ئې پکښې راوړي). داباسیند سفر(چاپ) مخونه ۳۲۳ . (د مشرق په اسمان کې د مغرب ستوري ۶۸- ۸۶ پښتو او مستشرقین ۶۲- ۶۶.افغانستان او موهن لال)

رټیري: داسړی هم د برطانوي فوځ مامور وو. دلومړي افغان انګلیس جګړې پر وخت کابل ته د خپلې وظیفې د پوره کولو لپاره راغلی وو. میر مسجدي خان د اکتوبر ۱۸۴۱ په بغاوت کې وړاندي وو. ده په ډاګه دا بغاوت بیرغ پورته کړی وو. خلګ په ډلو - ډلو ورسره ملګري کېده." (کې دوهم ۱۵۷ -۱۵۸) یو څه وخت پس ده په چاریکار کې بغاوت وکړی دلته دګور که رجمنټ یوې ټولۍ وظیفه درلوده ایلډرډ پاټنجر او رټیر د دوی مشران وه میر مسجدي خان رټیري ټوټه - ټوټه کړی وو. او دغه دستدي د چوکۍ پر خالي کولو یې ګمارلی وو. فقط دوه افسران پاټنجر او هاوتین په ۱۵ نوامبر ۱۸۴۱ په زخمي حالت کې و کابل ته په رارسېدو کې بریالي شوي وه. (افغانستان او موهن لال، ۲۱۴مخ)

حاسد:

حاسد د مظلوم په جامه کې ظالم او د دوست په جامه کې دوښمن دئ.

حاسد د تور مار په ډول دئ، تر څو خپل زهر ئې په یو بې ګناه جسم کې نه وي پرې ایښې نه ارامېږي.

هر رنځ او هره ناروغي درمل لري خو حسد درمل نه لري.

هره ناروغي او رنځ ثواب لري خو د حسد په رنځ اخته د اجر او ثواب څه بې برخي دئ.

حسد د انسان زور ختموي او وینه ئې وچوي.

حاسد د الله جل جلاله سره په ټکر کې دئ

ليکنه: تازه ګل ريشا

دپښتو قاموس ليکنې لنډه تاريخچه

(درېيمه او وروستۍ برخه)

دکارکوونکو دځرنګوالي له پلوه دقاموسونو ډولونه:

دکارکوونکو دځرنګوالي له پلوه قاموسونه پر درو ډولونو وېشل کيږي:

الف –ايا قاموس دهغو کسانو له پاره ليکل سوی دئ، چې ټوله په يوه ژبه خبري کوي.

ب–اياقاموس دهغو خانګړو ډلو ويونکو له پاره کښل سوی دئ، چې په دوو ژبو خبري کوي.

ج–ايا قاموس په نړۍ کې دژبي د ټولو ويونکو د استفادې له پاره ليکل سوی دئ.

لس زره پښتو لغاتونه ديادو ځانګړتياوو پراساس دهغو قاموسونو په ډله کې راځي، چې د هغوځانګړو ويونکو ډلو له پاره کښل سوي وي، چې په دووژبو خبري کوي.

دپښتو دغه لس زره لغاتونه دهغو پارسي ژبو زده کوونکو له پاره، چې غوښتل ئې پښتو زده کړي ليکل سوی دئ، چې ددوژبو(پښتواو پارسي) ويونکو له پاره يو ارزښتمن اثردئ.

داستفاده کوونکو دزده کړي او مهارت له پلوه دقاموس ډولونه:

داستفاده کوونکو دزده کړي له پلوه قاموسونه پر پنځوډولونو وېشل کيږي:

الف–ژبپوهان او دژبي نور ماهران.

ب– په ليک لوست پوه کسان.

ج–دښوونځيو زده کوونکي.

د– کوچني هلکان.

هـ– دژبي نور زده کوونکي.

(لس زره پښتو لغتو نه) نومي قاموس دپور ته ذکر سوو ډولونو په پنځم ډول کي شمارل کیږي.

پنځم ډول هغه ډول قاموسونه دي، چي ديوې ژبي دنورو زده کوونکو داستفادې له پاره ليکل سوي وي.

لس زره پښتولغتو نه لکه څنګه چي مخکي يادونه وسوه دپارسي ژبي د ويونکو له پاره ليکل سوی قاموس دئ.

که څه هم دا قاموس دژبي دنورو زده کوونکو له پاره ليکل سوی دئ، خو يوه بله ښېګڼه ئې داده؛ هغه لغتونه چي په هغه وخت کي د پښتو ژبي سوچه لغاتونه بلل سوي دي په نوموړي قاموس کي راټول او خوندي سوي دي.

دکاروني له پلوه دقاموسونوډولونه:

د استعمال له پلوه قاموسونه پردوو برخو ویشل کيږي:

الف– د ډيکوډينګ (decoding) په بڼه ليکل سوي قاموسونه، چي په خپله ژبه دبهرنۍ ژبي ديو لغت ياکلمې په مانا پوهېدل او ژباړل دي.

ب– داينکوډينګ(encoding): په بڼه ليکل سوي قاموسونه دي چي بهرنۍ ژبي ته د خپلي ژبي ديوه متن ژباړل دي.

لس زره پښتو لغاتو نه داينکو ډينګ په بڼه ليکل سوی قاموس دئ. که څه هم په دغه قاموس کي دپښتو ژبي لغاتونه په بهرنۍ ژبه نه، بلکي دهيواد په يوه رسمي او علمي ژبه ژباړل سوي دي.

که چيري ديوه قوم دژبي لغاتونه ديوه قاموس په بڼه راټول سي او په نوموړي قاموس کي په پردۍ ژبه ياد بل قوم په ژبه وژباړل سي نوموړی قاموس داينکوډينګ په ډله کي راځي ځکه چي د هر قوم ژبه دبل قوم په ژبه وژباړل سي ژباړلې ژبه بلل کيږي. (که نوموړې ژبه بهرنۍ وي که داخلي، کوم توپير په کښي نه سته.)

دپښتوقاموسودوې نه بېلېدونکي زېرمي:

الف – دخيل لغاتونه.

ب – مفغن لغاتونه.

الف– د نړۍ ژبي تل دسياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي بدلونونو په جريان کي يو پر بل ډول – ډول اغېزې ښندي. په دغه جريان کي هره ژبه له اړتيا سره سم له نورو ژبو څخه ځيني لغاتونه، ترکيبونه او اصطلاحات اخلي او ورکوي ئې. څرنګه چي انسان ټولنيز موجود دئ او ژ به هم ټولنيزه پديده ده نو د مليتونو ترمنځ ټولنيزي اړيکي يو د بل پر ژبه ډول – ډول تاثيرات ښندي. پښتو ژبي هم په دغه ډول اړيکو کي دنورو څخه ځيني لغاتونه، ترکيبات او اصطلاحات خپل کړي دي، چي اوس په پښتو ژبه کي دخيل لغاتونه بلل کيږي او د پښتو ژبي په لغوي زېرمه کي مهم ارزښت لري.

دا لغاتونه پښتو ژبي په بېلابيلو وختونو کي له سانسکرېټ، اويستا، هندي، پهلوي، هيندوکو، پارسي، تورکي، عربي او نورو... ژبو څخه اخيستي دي، لکه: دين، جهاد، ايمان، حکومت، ډول، وجار اوداسي نور چي دغه لغاتونه اوس دپښتوژبي يوه نه بېلېدونکې برخه ګڼل کيږي.

دپښتوژبي قاموس ليکونکو ته داخبره ډېره اړينه ده چي نوموړي لغاتونه راټول او په قاموسونو کي ئې ثبت کړي.

لس زره پښتو لغاتونه يوازي هغه لغاتونه سره راغوندسوي، چي د پښتو ژبي سوچه لغاتونه بلل سوي

دي. دخیلولغاتونوته په کښې ځای نه دی ورکول سوئ، که څه هم خیني لغاتونه پکښې راغلي دي؛ لکه: (ډول، ۳۷۸، مخ) او (وجاړ، ۷۳۳، مخ) کي خو دا یادونه نه ده سوې، چي نوموړي لغاتونه د پښتو ژبي خپل لغاتونه، نه بلکي دا داردو ژبي څخه پښتوژبي ته رانوتلي (دخیل) لغاتونه دي.

پښتوقاموس لیکونکي په دې مکلف دي کوم دخیل لغتونه، چي زموږ ژبي ته په رسمي او غیري رسمي یعني عادي ویناوو کي ډېر زیات استعمالیږي په قاموسونو کي راټول او تشریح کړ او دا وښیي، چي نوموړي لغاتونه د نورو ژبو دخیلي کلیمې دي.

ب – مفغنات:

په پښتوقاموسونو کي تر دخیلو ټکوورو سته نورهغه لغاتونه دي، چي پښتوسوي دي، دغولغاتونو ته مغعن لغاتونه ویل کیږي او پر دري ډوله دي:

الف – مانوي مفغنات.

ب – اوښتي مفغنات.

ج – منقلب مفغنات.

مانوي مفغنات هغه لغاتونه دي چي خپل اصلي شکل او بڼه ئې لږ وډېره ساتلې وي خوماناني او ښتې وي؛ لکه: دبشر کلمه چي په عربي ژبه کي دانسان دظاهري پوست مانا لري او په پښتو ژبه کي دټول بدن مانا افاده کوي. زموږ په ټولنه کي چي څوک وچاته ډېر ګران يي نو دهمدې ګرانښت پر اساس ورته وایي چي ته زما بشر يې. (ته دخپل ځان په شان راته ګران يې.) نودلته موږ پوهېږو، چي د بشر کلیمه په پښتو ژبه کي د ټول بدن مانا افاده کوي.

د بشر کلیمه د (لس زره پښتولغاتو) نومي قاموس په (۳۸) کي دټول بدن په مانا راغلې ده. خو دانه دي په ډاګه سوي، چي نوموړی لغات دعربي ژبي څخه پښتو ژبي ته رانوتلی او یو مانوي مفغن لغات دئ.

هر قاموس لیکونکی باید د قاموس لیکنې پر مهال داجو ته کړي، چي کوم – کوم لغاتونه دپښتو ژبي خپل سپېڅلي لغاتونه دي او کوم – کوم دخیل اومفغن لغاتونه دي.

ب – اوښتي مفغنات:

داوښتو مفغناتو په ډله کي هغه مفغنات راځي چي یوازي ئې ظاهري بڼه لږ وډېره اوښتې یي او خپله اصلي مانائې خوندي ساتلې وي؛ لکه:

آبدس	اودس
اشک	اوښکي
اطاق	هوتاک،اوتاک
افعي	اپي
پشت	پښت
بهشت	بهښت
خرج – خرچ	خرڅ
شاد	ښاد
شادی	ښادي
شهر	ښار

او داسي نور.

په نوموړو مفغناتو کي اکثره (ش) په (ښ)، (د) په (ل)، (چ) په (څ)، (ن) په (ڼ) د (چ) او (د) توری په (ځ) او خپل اصلي مخرجونو په داسي نورو تورو بدلیږي.

په لس زره پښتو لغاتونه، نومي قاموس کي پښت دبشت، نژاد په مانا په (۱۴۴، مخ) کي، ښاد په شاد په

(۵۱۰، مخ) کې، خرڅ په خرڅ په (۳۱۹، مخ) کې، ښار په ښهر په (۵۱۱، مخ) کې او افعي په اپې په (۲، مخ) کې راغلي دي. لیکوال دانه دي په ډاګه کړي چې نوموړي کلمې دپښتو ژبې خپلې اصلي کلمې نه، بلکې پردۍ کلمې دي په پښتنې رنګ رنګېدلي او پښتنې سوي دي.

دغه ډول کلیموته اوښتي مفغنات وایي، چې د قاموس لیکني پرمهال باید قاموس لیکونکی د غه ډول کلیمې په قاموسونو کې په یوه خاصه نښه وښیي او د دوی دپېژندنې له پاره خاص تشریحات ورکړي.

ج ـ منقلب مفغنات:

داهغه مفغن لغاتونه دي، چې په ترتیب او اوډ نه کې ئې ډېر بدلون راغلی وي او خپل اصلي شکل ئې له لاسه ورکړی وي؛ لکه منخوی چې دمیان اومنځ له کلیموڅخه راپیداسوی دئ.

د(لس زره پښتولغاتونه) نومي قاموس کې هم دغه ډول کلیمې؛ لکه: ازمایښت ـ ازمایش په (۱۸-۱۹ مخونوکې)، سهار، سحر، صبح په (۴۸۵مخ) کې. سبا، صبح په (۴۴۵مخ) کې او همدارنګه کاهښت، کاهشت په (۵۵۳مخ) کې راغلي دي. خودانه دي په ګوته سوي، چې نوموړي لغاتونه منقلب مفغنات دي.

دمفغناتو راټولول په قاموس کې یوګټور ګام دئ، خو په دې شرط چې نوموړي مفغنات په قاموسونو کې به نښه او تشریح سي.

په پښتو ژبه کې د دخیلو اومفغنو لغاتونو ترڅنګ دپښتو ژبې دسپېڅلو لغاتونو د پېژندنې اړتیا:

په قاموسونو کې دمفغنواو دخیلو لغاتونو ترپېژندنې وروسته دپښتو دسپېڅلو لغاتونو پېژندنه هم اړینه او لازمي خبره ده.

خیني مفغنات په پښتو ژبه کې خپل اصلي بدیلونه لري؛ لکه د سهار لغات چې دعربي دسحر څخه یوپښتو سوی مفغن دئ، خو د دې اصل پښتون لغات په پښتو ژبه کې ګهیځ دئ، چې په (لس زره پښتو لغتونه) نومي قاموس کې دسهار لغات راړل سوی دئ، خو د دې لغات اصل په پښتو ژبه کې نه دی ښودل سوئ.

هغه مفغنات چې د نوروژبو څخه زموږ ژبې ته راننوتلي دي اوزموږ په خپله ژبه کې اصل پښتانه بدیلونه لري باید دقاموس لیکني پرمهال ئې قاموس لیکو نکې په نښه او خاص تشریحات ورکړي.

په قاموسونو کې دراټولو سووکلیمو دسم تلفظ ښکاریلي لاري:

د قاموس لیکني پرمهال قاموس لیکونکي بایدراټولو سووکلیمو سم او کره تلفظ وښیي. که چیري په قاموسونو کې د راټولو سوو لغاتونو سم او کره تلفظ و نه ښودل سي نو ویونکي له ډېرو ستونزو سره په شخړه کې اچوي، د سم او کره تلفظ د نه موجودیت له امله دلغاتونو سمه او مناسبه مانا نه جوتیږي او لوستونکي له معنوي ګډوډۍ سره مخامخ کوي.

په (لس زره پښتو لغتونو) نومي قاموس کې د هر لغات سم او کره تلفظ ترلغات وروسته وړاندي سوی دئ، ور پسې د هغه لغات مانا او جمع سوی شکل وړاندي سوی دئ. دمثال په ډول هرتوری، چې زور (فتحه) لري هغه په (ف) هغه توری چې زېر (کسره) لري هغه په (ک) هغه توری چې دزورکي حرکت ولري په (ز) هغه توری چې ساکن وي په (س) مجهول (و) او مجهوله (ې) په (مج) او معروف (و)، معروفه (ی) په (مع) سره ښودل سوي دي او د هرلغات جمع سوی شکل په (ج) ښودل سوی دئ. نارینه په (مذ)، ښځینه (مو) او که چیري دلغات جمع

شکل وړاندي سوی وي او نوموړی لغات ښځينه وي هغه په (مو – ج) سره ښودل سوی دئ او د نارينه جمع سوي شکل له پاره يوازې د (ج) نښه کارول سوې، همدارنګه هغه توري، چي پېښ (ضمه) لري په (ض) ښودل سوي دي، هغه کليمې چي په وروستي برخه کي ئې د(والی) وروستاړی راغلی وي د (و) په زور، دالف په(ساکنوالي)، د (ل) په زوره کي کله چي د نوموړي کليمې څخه د(والی) وروستاړی راجلا کړو نو دپاته سوي کليمې مانا او حرکتونه په خپل ځای معلومېدلای سي.

په دغه قاموس کي که پر ځينو کليمو باندي خج راغلی وي هغه هم داړتيا سره په دغه ډول (ايکسنت بر – ...) ښودل سوي دي. هغه کليمې چي د دوو کليمو څخه جوړي سوي دي يعني مرکبي کليمې دي، د اول جزء حرکات ئې په هغه پسې راغلي دي او د دوهمي برخي حرکات ئې په خپل رديف کي راغلي دي. هغه کليمې چي د هغه وروستي حرف ته ايشاره نه وي سوې ساکن ګڼل سوی دئ. ځيني کليمې چي د صرف د علم په اصطلاح حرف ګڼل کيږي د(ح) په توري ښودل سوي دي او په ګرامري اصطلاح دا معنا افاده کي چي داکليمه حرف دئ. د فاعلي اسمونو په پای کي د(ونی) او (ونکی) وروستاړي راغلي دي.

په قاموسونو کي د راغونډوسوو کليمو ګرامري وېش:

قاموس ليکونکي بايد د قاموس ليکني پرمهال په قاموس کي د راټولو سوو کليمو ګرامري وېش ته پاملرنه وکړي.

او ټولي راغونډي سوي کليمې د خپلو ځانګړتياوو له مخي ډله بندي کړي. دا په ډاګه کړي، چي کومه کليمه صفت، ضمير، فعل، مصدر، قيد او نوم په ډول راغلې ده.

ساده کليمه ده او که مرکبه. په (لس زره پښتو لغتونو) نومي قاموس کي دا کار نه دی سوی.

د کليمو نارينه والی، ښځينه والی، مفرد او جمع حالت ښودل سوی دئ، خو دا نه دي په ډاګه سوي، چي داکليمه صفت، ضمير، قيد، نوم او يا مصدر ده. د نوموړو راغونډوسوو ډلو لنډون هم نه دئ ښودل سوی.

ماخذونه:

۱-نيازی، رفيع الله، په پښتو کي د ګرامر ليکني تاريخي بهير، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۰ لمريز کال.

۲-لس زره پښتو لغتونه. ايازی، محمدعظم، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ه.ل.

۳- شعشي چپل. محمد هارون، دنوي قاموس ليکني مېتودولوژۍ ته يوه کتنه. د اطلاعاتو او فرهنګ رياست، کندهار، ۱۳۹۰ ش.

۴-اثر، عبدالحليم، شاعمت سرحد، قصه خواني بازار پېښور ښار.

۵-کاکړ، لعل محمد او حبيبي، عبدالحی: سپېڅلې پښتو، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹ش.

۶-زيار، پوهاند دوکتور م.ا: پښتو وېپوهنه او وييرغاونه، مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳ لمريز کال.

۷-خويشکی، پوهنوال محمد صابر، پښتو غږپوهنه او وېپوهنه. ضميم ادبي ټولنه. ۱۳۸۶ ل.

۸-سرمحقق، لودين، قاموس پوهنه.

۹-هلالي، عبدالحکيم، پښتوقاموی ليکنه. پښتوټولنه، ۱۳۵۴، هش.



لیکوال: نجیب الله هوتکي

زما د دین او ایمان ورونو!

را ځئ چې تر هر څه د مخه خپل ملامت لاسونه په ملامتۍ، په دوعا پورته کړو او دا دوعا وکړو چې:

اللهي! ستا د رحمتي دریابونو په دریاب موږ ملامت، ناولې، د پاکېدو په لمبېدو، پاک ولمبوه، څو اول ځان او بیا وبل ته د رحمتونو په رحمت بدل سو.

الهي! موږ د ګناهونو په عمل، سترو سره، زموږ د عمل پر بنیاد معامله مکوه، بلکې د خپل فضل په فضل مو فضلي لره.

اللهي! زموږ د وجود هره ذره د قرآن په مفاهیمو بې واسطې په پوهېدلو پوه کړه او یا د قرانې پوهانو قرآني زړونه زموږ په پوهېدو، په زړه سوي مجبور کړه، څو د هر مسجد محراب د ننه د حکمت، فلسفې او منطقو پر ځای قرآنونه له بنده خلاص او د هر مؤمن د کور د ننه په سبق بدل سي. آمېن

را ځئ چې د انسانیت هغو عظېمو انسانانو ته هم لاس د مغفرت په دوعا پورته کړو او ووایو چې اللهي د جنتونو لوی درجې ئې د نصېب ـ نصېب وګرځوه او هم ئې د احسانونو په احسان ځانونه ترابده په پور ـ پوروړي وبولو.

هو کې! دا هغه څوک دربښیم کوم چې حدیث ئې راجمع، صحیح، ضعیف او موضوعي ئې سره جلا کړل. خو دا خبره هم باید په یاد کې وساتو، چې د پیغمبر ﷺ ټول احادیث په بشپړه توګه ندي نقل سوي خو دا خبره هم ومنئ، چې دا ویل یوازې هغه څوک کولای سي، چې له غلوي (افراط او تفریط) څه وېره نلري، تا سو د خپل زړه په سترګو زړه وروګورئ، چې د مدینې منورې په لسو

کلو نو کې پیغمبر ﷺ څو مره د جمعې او اختر لمونځو نه کړي، چې په هريوه کې ئې دوې خطبې ورکړي؟ د څونده جنګونو په اړه ئې خبري او لارښوونې کړي؟ د څونده مهمو پېښو او مسئلو په اړه ئې وخت په وخت خطبې ورکړي؟ يوازې له دغو خطبو او لارښوونو څخه لوی – لوی کتابونه جوړېدل، خو په دې خاطر چې پيغمبر ﷺ په خپل ژوند کې د احاديثو دليکلو اجازه نه وه ورکړې، نن ئې داحاديثو په کتابو کې نه سو موندلای، خو د پيغمبر ﷺ د تو لو خطبو نچوړ او خلاصه زموږ په واک کې ده، هغه مبارک، چې څه ويلي خلاصه ئې د غه قرآن دئ. د ده وينا وې د دغه قرآن شرحه او تفصيل وو، د دغه قرآن په رڼا کې ې پر په اسانۍ سره قضاوت کولای سو، چې پيغمبر ﷺ به کومه خبره کړې وي او کومه به ئې نه وي کړې، تردې د مخه چې ديو روايت د اسنادو په هکله غور وکړو، بايد پردې غور وکړو، چې دا روايت له قرآن سره سمون خوري اوکه نه، پر اسنادو به ئې تردې وروسته بحث کوو.

هو کې: الله دې د همداسې کولو توفيق رانصيب کړي څو دېبو سره افغانانو هغه نوی راټوکېدلی نسل، چې د جهاد په غېږ کې، په ځوانۍ، خوان سوی، دقرآن د مفاهيمو هر فهم د دوی د مخونو مخ ته په امانت کېښېږدو. داهغه نسل دئ، چې په خبرې دپوهېدو له ورځې، ترځوانۍ پورې ئې تل دقرآن، جهاد، شهادت او هجرت په څېر شعارونه اورېدلي، په خپلو وينو سره زخميان ئې لېدلي، دمهاجرينو هجرتي قافلې ئې ترسترګو سوې، پر کليو ئې وحشي بمبارۍ ليدلې، هره ورځ دټوپونو او ټانکونو بېرحمه ږغونه ئې تر غوږ سوي، په کور کې خپل پلار او مشر ورور، په مسجد کې امام او خطيب او په سنګر کې مجاهد ليدلی، چې د قرآن اياتونه په چيغو – چيغو لولي او نورو ته د صبر او جهاد، توصيه او وصيتونه کوي.

هوکې! همداسې وه او اوس هم همداسې ده، د دې غازي ملک د غازيانو، غازي بچيان غواړي چې په قرآن پوه سي، له قرآن سره ئې مينه او الفت پيدا سوئ، دا الفت او پوهه د دې مقصد لپاره نه، چې د يو جومات امامت ترلاسه کړي او دائې د معاش وسيله سي، بلکې د دې لپاره چې قرآن ئې لارښود سي، په قرآن د پوهېدو تنده ئې ماته سي، مسلمان دئ، د مسلمان بچي دئ، له اسلام سره ئې مينه ده، له اسلامه په کلکه د فاع کوي. د اسلام لپاره هري قربانۍ ته چمتو دئ، په عربي نه پوهېږي، صرفي او نحوي تحقيق ته ضرورت نلري، په ديني مدرسو کې ئې سبق نه دئ ويلی، زده کړې ئې په مکتب او پوهنتون کې کړې، ساينس، فزيک او کميائې لوستي دي، خاصه ژبه، خاصه سليقه او خانګړې پوښتنې لري، د هر ايت مطلب په پښتو کې اورېدل غواړي. دې ته تږي دي چې پوه سي قرآن د هغو شيانو په باب څه ويلي چې د فزيک او کيميا په کتابو کې ئې لوستي. دائې په مکتب کې له مخاليفينو هم اورېدلي، چې د قرآن ډېري وينا وې له ساينس سره تعارض لري او هم ئې له خطيب او امامه اورېدلي، چې د معاصرو علومو ادعا ګانو ته اعتناء مه کوئ، دا د قرآن خلاف دي. غواړي پوه سي، چې د قرآن او ساينس ترمنځ تعارض او توپير سته او که نه؟.

دوی د انسان، نبات، حيوان، مځکي، اسمان او غرونو د پېدايښت په اړه ډېر څه په خپلو درسي کتابونو کې په لوستلو لوستي، غواړي چې پدې پوه سي چې قرآن پدې باره کې څه ويلي؟ کله ئې له کمونستيانو سره مناقشه راسي او کله ئې هم د غربي لااباليي عناصرو سره، چې د غه دواړه ئې د مقابلې په مقابله ولاړدي، دغه دواړه له اخلاقي او فکري لحاظه يو او بل ته ورته دي، د شوروي اتحاد له زوال څخه وروسته، خو اوس کمونست ديموکراتان، غربپاله ديمکراتان سوي او د هغو نورو ناولو

سره ئې د اسلام پر ضد لاس ورکړی او دغږ بیالو تر قومندې لاندې د اسلام پر ضد جنګېږي، غربي استعماري خواکونه، د اسلام پر ضد په خپل، سیاسي او فکري تهاجم کي څو مره چي په کمو نستیانو او نیشنلستیانو، تر کیز کوي او مفیده وسېله ئې ګڼي. له غرب پالو دیمکراتانو هو مره طمعه نلري، د غربي فرهنګ په ډنډ کي لوېدلي لاآبالي عناصر نه خاص فکر لري او نه هم مسئولیت قبلولو ته غاړه ږدي او نه هم د کوم هدف لپاره زیار او رحمت استلو ته تیاردي، یوازي او یوازي د اخلاقي فساد په خپر ولو کي له دوی څه ډېر استفاده کولای سي. خو د اسلام پر ضد په فکري مبارزه کي باید له هغو څه کارو اخلي، چي دیوې مفکورې په نسبت، د التزام دعوه کوي او پر اسلام باندي د اعتراض مواد په واک کي لري.

آه د اسلام دردمنو! مسلمان خوانان له دې مبارزې سره مخامخ دي، دمدرسو په کتابو کي د مخالیفینو داعتراضاتو جوابونه نسي موندلای، د دغو مبارزو خوانانو لپاره د قرآن داسي ترجمه او شرحه ضروري ده، چي د دوی تنده په ماته سي. خو کاش زموږ مضبوطو لیکوالانو د ضرورت دا ضرورت درک کړی وای او دقرآن د پښتو ترجمې او تشریح په ته ترجمه ئې خانونه دستړیا په خولو په غرقېدلو غرق کړي وای، څو دپښتانه قام د هر پښتانه پر پښتنه ژبه قرآن غزل – غزل جاري وای او د مفاهیمو په معنا ئې هم زوړ او هم ووړ پوهېدلای، خو افسوس – افسوس! دوی دخپل خواړه او خوان عمر په غېږکي د سوما، اویستا، سانسکریټ، پروشاپوه او بودا د تحقیق په

شننه په زړېدو زاړه او د سر له پاسه تک تور ورېښتان ئې په سپینو وړیو الیش سوه، خو هم زه او هم دوی باید دا وېره ولرو، چي خدای مکړه د اخرت په ورځ، دګیلې په ګیله د ګیلمن رسول پر ژبه زموږ پر لوري په اشاره د (إنَّ قومي اتَّخَذُوا هَذا القُرآن مهْجُورا[*]) قول په جاري کېدلو جاري نسي.

هو کې! اوس هم وختي دئ راځئ د دې یوویشتم قرن دتوفاني توفان ومخته د غرونو په څېر، د قرآن په پوهېدو، په غرونو – غرونو الیش سو او د قرآن په برکت خپله توفاني کښتی د امن او امان تر ساحله د الله جل جلاله په نصرت په رسېدو، ورسوو.

هغه مسلمان لیکوال، خطیب، داعي او مدرس ډېره لویه اشتباه او جفا کوي، چي درسونه، لیکني، خطبې او موعظې ئې له قرآن پر ته، له بلي چینې څه اوبېري او له قرآن پرته بل څه ته بلنه ورکوي.

اسلامي امت تر هر څه دمخه قرآن ته د راګرځېدو یو تونداو څپاند حرکت ته ضرورت لري. راځئ، چي د دې مقدس ارمان په تحقق او پلي کولو کي برخه واخلو، په بل څه هغه وخت مصروف سو چي له قرانه فارغ سو، که ممکنه وي په مدرسه کي باید لو مړی او اساسي مضمون قرآن وي او نور ئې ټول ضمني او ممد مضامین، نه دا چي قرآن ورستی مضمون او صرف، نحوه، فقه، حدیث، منطق او فلسفه اول او اساسي مضامین سي. دا سي نه چي قرآن هم د صرف او نحوي د تمرین لپاره ولوستل سي. د نشراتي

---

*-ژباړه: یقیناً چي زما قوم دا قرآن د یوه متروک شي په توګه نیولی.
تشریح: د قیامت په ورځ به پیغمبر د الله تعالی په وړاندي دا شکایت کوي چي امت ئې قرآن ته اعتنا، و نه کړه، هغه ئې شا ته وغور ځاوو، داسي لکه کوم متروک شی. کوم قوم چي د الله په کتاب د پوهېدا هڅه ونه کړي، په لارښوونو ئې عمل ونه کړي، خپلي شخړي او منازعات د هغه په رڼا کي حل نه کړي، د هر اختلاف د حل لپاره هغه ته رجوع ونه کړي، د الله کتاب د هر اختلاف د حل وروستی مرجع ونه ګڼي، د حق او باطل پېژندو لپاره ئې وروستی معیار او ملاک ونه نیسي؛ هغه په حقیقت کي د الله کتاب مهجور او متروک پرې ایښی که څه هم د ایمان دعوی کوي او هره ورځ ئې د تبرک لپاره لولي او په خپلو منځونو کي د ښه قرائت مسابقې کوي!! (د قرآن پلوشې ۵ جلد، سوره الفرقان، آیت ۳۰)

نشراتو اساسي برخه باید، د قرآن په رڼا کي دهري تبصرې او څېړني مبحث جوړ سي، نه دا چي په یوه ګوښه کي ئې د څو آیتو نو تحت لفظي ترجمه د تبرک لپاره، پیل او پای سي او یا پدې غرض او مطلب د څو ایتو نو تلاوت راسي، چي وښیي دا نشریه اسلامي ده او بس.

د خطیب او واعظ وینا باید د قیصو او ضعیفو روایاتو پر ځای په قراني ایتونو مستنده وي او خلګو ته د ورځنیو مطرحو قضایاوو په اړه د قران په استناد لارښوونه وکړي، ځکه دا هغه کار دئ، چي پیغمبر ﷺ او صحابوو رضی الله عنهم کاوه او په همدې کار دوی اسلام د نړۍ ګوټ ـ ګوټ ته ورساوه.

راځئ! چي د قران په ژبه قراني خبري وکړو، څو د هر منکر انکار په قناعت بدل سي. دا ځکه قران له هره اړخه مکمل دئ، وینا ئې ترهري وینا موثره، استدلال ئې ترهر استدلال قوي، نصیحت او وعظ ئې ترهر وعظ اغېزناک دئ.

راځئ چي لاس په دوعا پورته کړو او ووایو چي:

اللهي! ته رحیم یې موږ ستړو ته د رحمت په نظر دکتو کاته وکړه، زموږ د اختلا فاتو او بې خبرۍ له وجهي دین په کوڅو بدل سوی او د کوڅو د ننه هر لاروی مو د ستړیا په خولو په ځغاسته مات سرونه ځغلي، خو یو مو هم دخپل مقصد تر منزله په رسیدو نه رسیږي.

اللهي! ته رحمن یې زموږ د زړونو د کربلا په دښتو نو کي دمینې او محبت تخمو نه په شنه کېدلو راشنه کړه، څو هر یو مو، یو او بل ته دا صحابو په څېر په اصحاب بدل سي او د یوسف غوندي د هر یوه ـ یوه او بل ته پر ژبه د (لا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ) توري آیت ـ آیت جاري سي.

دمیږي ژوند

میږۍ یوه وړه حشره ده، چي ژوندې و موږ ته د توحید او خدای پېژندني درس راکوي.

د دې وړو کي ژوی ژوند، پر ګڼ ژوند. ګڼ کوښښ او له یو د بل سره پر ملګرتیا ولاړ دئ او د یو د بل په مرسته خپل کارونه کوي. دا ګڼه ملګرتیا د میږتون په جوړولو او د دانو او خوړو د راغونډولو پر وخت لیدل کېږي.

دا حشره پرته له دې، چي پوهنتون ته تللې وي او بېله دې، چي د کرهنې پوهنځی ئې ویلې وي په خدای ورکړي پوهي، فطري غریزې او احساس سره په دې پوهېږي، چي غله دانه په سوري کي خوسا او خرابه نه سي. نو پکار ده، چي نیمه ئې کړي.

میږۍ که محسوس کړي، چي دانه لنده سوې، نو سمدستي ئې له سوري څخه راباسي او لمر ته ئې ږدي، چي وچه سي او اصولاً دوی خپلي سوړي او میږتون په لوړ او وچ ځای کي جوړوي، چي او به ورته ونه رسیږي.

نو آیا ویلای سو، چي دا حیرانوونکي کارونه له لارښوونکي پرته کېدای سي؟!

د دې وړې حشرې استاد او لارښوونکی څوک دئ؟ او له کومه ئې دا دومره ستري خبري (چي انسان پرې د زده کړي له لاري پوهېدای سي) زده کړي او د ژوند بنیاد ئې پرې ولاړ دئ؟.



لیکوال: استاد نوراحمد قران مل

د هوتکي دورې اسلاف

کله چي د افغانستان دمعاصروتاریخي دورو په لړ کي د(نوښت، تمدن، ژبنی پیاوړ تیا، ملي فرهنگ، ملي ژبي او ملي خپلواکی) په اړو ند خبري کېږي افغا نان په دې باوردي، چي دملت په ټولو تاریخي پېړونو کي دوی د خپلو ټولو یادو سوو نواموسو څخه دوس تر بریده د ساتني کوښښ کړی، چي خپلي ملي وثقې د هغوی د در نښت او پایښت په مو خه ژوندی وساتي او دتاریخ له تورو تمنو ئې را وباسي.

په دې اړوند سره تر دې چي هره تاریخي دوره خانته ویاړ ني او ژغورني لري، خو په تېرو دورو کي دنورو دورو په پر تله دهوتکي دورې ویاړ ني په ډېلا ډېلو عرصو کي دیادوني ور دي، چي د هوتکي دورې د منظم ژوندانه، دولتي استحکام او فرهنگي خوځښتونو بریالی ډگرله یاده نه وزي هغه په دې معني چي ددې دورې په ډېره نژدې ماضي کي که له یوې خوا افغاني استقلال تر سوال لاندې وو چي کله – کله به د مغلو او صفویانو تر نظامي بریدونو لاندي راتله. په بل اړخ کي ور سره جوخت به دکلتوري یرغل ډېر نېرونگونه دلې پلي کېدل او د افغاني اصیل پښتني فرهنگ دله منځه وړلو جریان ته به ئې لاره پرانستله. ولي د دې دورې په رامنځته کېدو سره د نورو فرهنگونو تر څنگ افغاني فرهنگ له ځانه سره د پام وړ لاسته راوړني درلودې، چي یو په بله د هغوی څخه په

دربار کي دتيت او پرک پښتني فرهنګ بيايو خای والی او رسمي رنګ ورکول دي.

نه يوازي په هوتکي دربار کي پښتني قصيده سرايان وروزل سول ور سره تر څنګ دډېرو نايابو تېرو پښتني اثارو او دهغوی دناپېژندل سويو مؤلفينو اوليکوالانو راپېژندل دپټي خزانې په تاثقي رواياتو سره راوړاندي سول او تر ننه ئې پښتني اصيل فرهنګ ته دپاته والي زمينه برابره کړه.

ددې ټولګي مولف چي پخپله دده په وينا په دربار کي کاتب الحروف يا فرهنګي سرغنه پاته سوی دئ دنومړي کا تب الحروف او دپټي خزانې دمولف محمد هو تک پلار محمد داؤد ددې قول پر بنسټ يو اصيل کندهاري دئ. چي په ۱۰۲۹ هجري قمري کال دکندهار په کوهکران کي زوکړی دئ.

په هغه وخت کي يوازي دهوتکي دورې کندهاري ښاري استوګنان په کوهکران او زاړه ښار ياپخوانی اسکندريه کي اوسېدل چي د موجوده اوسني احمد شاهي ښار يوازي داو سنی څلرمي ناحيې دباميزو کوڅې پرچاپير، چي دنومړي دورې پر مهال داسيمه دنادرشا افشار منشي محمود الحسيني په (ده خواجه) ياده کړې ده. دسنځر خيلو کاکړو د حمزه زيو دقبيلې يوه کورنی دلته استوګنه وه او يو ووړ مسجدئې درلود، چي وروسته د احمد شاهي دورې په لړکي تريادي سوي کورنی وروسته د سردار شاولي خان باميزي، دقاضي عبدالصمد دکورنۍ مشر نيکه (سيف الله اخندزاده) او د استاد ناشناس دوی دکورنی لوي نيکه (فيض الله اخندزاده) کورنياني دلته استوګني سوې.

پر دې بنسټ چي محمد داؤد د محمد هو تک پلار هم کندهاری دئ د نومړي دزوکړي سنې ته که مونږ له سبزنی قمري سنې سره واټن ور کړو، نو څرګندېږي چي محمد داؤد هو تک پوره څلور سوه کاله له نن څخه په کندهار کي زوکړی.(ياد دي يې تل وي)

دوهمه خبره د دې مقالې پر هغه محور را چورلي چي د نومړي دورې په لړکي محمد هوتک بن داؤد د پټي خزانې په لړ کي چي د علامه استاد عبدالحي حبيبي لخوا په کره او سو چه ډول خپره سوې له سر څخه پوره شپږ سلنې مخکي ئې دتائيد او تنثيق ليکني دنورو پښتني او نړی والو واقعبينو ليکوالانو تر څنګ په نسخ ليک د اروانښاد مولنا عبدالاحد غريبک په قلم خا که ئې ډول ليکلې او نيمګړی کتاب ئې اوس هم زما سره خوندي دئ له يو لړ معاصرو او کتابتي مهارت او وړ تياو په لړکي د هغې دوهم پړاوو هغه اسلافو او مېړنو ته ځانګړی کړی، چي دنومړي دورې په لړ کي په، عقيدتي. سياسي، نظامي او فرهنګي خلګو کي مطرح کسان وه يات کړي دي د نومړو شمېر چي نژدې(۷۷ تنو ته رسېږي)په مختصر ډول درانه استاد اروا ښاد عبدالرؤف بېنوا پخپل اثر (هو تکيان) کي په لنډ ډول تعريف کړي دي، چي دپټې خزانې څخه په مستقيم روايت دوه يادرې کسان او له هغوی سره هغه وخت هغه کسان چي په نومړي کتاب کي ئې يادو نه نه ده سوې دلته دېلګي په توګه په لنډ ډول بيانېږي:

۱ ـ دهو تکي دورې يوتن معاصر چي په پټه خزانه کي او نور پاته سوو تاريخي اثارو کي ئې يادو نه نه ده سوې ابوعبدالرزاق ابن عطاالله دئ، نومړی دفردوسي شهنامه تر پنځو زرو په زياتو بيتونو کي ليکلې ده. دنومړي په لاس ليکله سوې شهنامه دليک تر څنګ زړه وړونکې ميناتوريانو هم لري چي اوس دافغانستان په ملي ارشيف کابل کي ساتل کېږي او ما له تن څخه دوې مياشتې مخکي ليدلې ده.

۲-ریدي خان مومند دئ، چې په اړه ئې دپټې خزانې مولف لیکي: «ریدي خان زوی دغیاث خان او د مسعود خان مومند لمسی دئ چې په کلي د مومند یې نامه باله سي »نوموړی دشهنشاه محمود په ویاړ پښتو (محمود نامه) وویله چې دوه بیتونه یې دادي:

بل یحی خان وبل یې زوی محمدخان
ټول سره یو سول چې کړي مړ گورگین خان

یو نس کاکړ وکا یر غل پر گور گین
پښتنو جوړ کړ پر گرجیانو ناورین

۳ـ بابو جان بابی: نوموړی دهوتکي دورې معاصر او د نوموړي دورې په رسمي چارو کې یومطرح کس وو، چې په اړ وند ئې محمد هو تک لیکلي دي: « بابوجان بابی د میاجي صاحب شاگرد اومرید وو او په سنه (۱۱۲۹) هجري ئې په مثنوي د((شها او گلان)) قصه نظم کړه.»

۴ـ ددوی په لړ کې یو دکاکړو دسنټیا قبیلې پانیزی میا عبدالحکیم (رحمت الله علیه) دئ، چې په ناناصاحب سره شهرت لري. نوموړی چې په هوتکي دوره کې دکندهار زاړه ښار په دننه دنارنج کلا ته څېرمه په جنوب اړخ کې یو خانقا درلوده چې دنقشبندیې طریقې موریدان په کښې استېدل. ناناصاحب چې ددې دربار په لړکې دیوه روحاني مقتدا په توگه دتصوفو مخکښې پر غاړه لرل په زرگونو مور یدان لرل، چې همدلته دزاړه ښار په دننه او دنارنج مانۍ ته څېرمه بهٔ ئې له نوموړي ناناصاحب څخه دتصوفو او روحانیت درس اخیسته، ولي پردې اساس چې صاحب الحال خلک دنورو انسانانو غوندې دنفسي غوښتنو تر تاثراتو لاندې کم راځي، ځکه نو هغوی ته ځای او مهال مطرح نه وي چیري چې یې زړه غواړي همهلته استوگنه لري.

میاعبدالحکیم (رحمت الله علیه) هم له دې سیمې څخه تلوچټیالیۍ ته کوچ کړی، ځیني خلک په دې باوردي چې په نوموړي پوري اړوند دزرگونو مریدانو نفوس او په هغوی کې دنوموړي نفوذ د دې لامل وه، چې د میرویس خان نیکه زوی شاحسین هوتک د هغه څخه اقتداردنیولو په عرض اړخ په هوا وو، ځکه ئې نو هغه دې ته اړیست چې سیمه پرېږدي. په دې اړوندترهغه زمان وروسته ځیني شعراوو شعرونه وویل چې یوئې دساري په ډول دادئ:

میاصاحب چې وایست شاحسین له دې ښاره
غرقه یې پا چهي سوه د ولیا نوله گفتاره

ولي کله چې موږ دپټې خزانې متن ته گورو هلته داخبره واقعیت نه مومي هغه په دې معني چې پخپله د نوموړي خزانې مؤلف محمد هو تک لیکي:

«میاعبدالحکیم قدس سره العزیزکه څه هم په اصل دکندهار ښار ساکن دئ، مگرپه میاشتو ورک وي له کوره او سیاحت کا او په حضور دبزرگانو(دطریقت دمر شدانو) حاضریږي او په گوښو کې په عبادت بوخت وي.» په کندهار کې دنانا صاحب دا ستوگنې وخت اروا ښاد استاد بېنوا له (۱۱۴۰ تر ۱۱۵۰) تخمین کړی دئ. دنانا صاحب مر حوم دیوه مرید په قصیده کې چې نوموړي دمخمس نوم ورکړی او د مر حوم ملاعبدالاحد اخندزاده (غریبک) اثر(خطوط واقلام اعلي متقدمین) کې ئې یوه برخه خپره سوې ده دا سي لیکي:

چونکه مهجور از وطن شد پیر کامل کاکري
در فرافش ریشه کن شد کشنه درختان بري

سره تر دې چې میا عبدالحکیم صاحب د دې سیمې څخه کوچېدلی، بیا هم دنوموړي ځای ناستو نقشبندیې

طریقې لري، نه ده پرېکړې او د ده پاته موریدان او خلیفه ګان پاته سوي دي.

د ناصاحب دخلیفه ګانو یادونه او درک مور له یادي سوي قصیدې څخه کولای سو:

سه خلیفه ماند نورین وحمید ذاکري

ګفت نور ونورزي بیزارم او چشم سري

ددې قصیدې په لړکي دهغه د نورو موربدانو او خلیفه ګانو یادونه نوره هم سوې خو پردې بنسټ چي د دې مقالې لیکنه مختصره سي، ځکه نو پر لاندي څلورو خلیفه ګانو باندي خبره کوو:

الف: (نورین) له نورینو مراد یومیا نور محمد نورزی دئ، چي د کندهار ښار جنوب پلو ته په ماله جات کي د ده باغ فرقي ته څېرمه ئې زیارت دئ، د نوموړي زیارت څخه ما خو خلي لیدنه کړېده چي وروستنۍ لیدنه مي له سږ څخه لس کاله پخوا هغه وخت کړې، چي د کندهار دیوه صوفي ژوندي شاعر حاجي بهاؤالدین الهام، استاد حاجي احمد صمیم، قاري محمد طاهر ناتوان، استاد نثار احمد، ډاکتر عبدالواحد منیب راسره وه، دهغه په زیارت کي مویوه صوفیانه مشاعره وکړه چي ثبت کست ئې اوس هم په (غریبک کتابتون) کي قرار لري د نوموړي میا نورمحمد نورزي وقبر ته دوختنو را په دې خوا یوه مناره موجوده وه، چي درواني شلمي پېړۍ په شپېرمه لسیزه کي دشوروي یرغل پر مهال د ماله جات په لویه قوه کي د ذاکر شریف له غونډي څخه دزریدار په مرمۍ وویشتل او نړول سوه.

ب: له نورینو څخه دوهم نور میانور محمد داوي چي دکندهار ښار په شرقي پلوکي د ډامبر پرغاړه د مانجې سیمي ته څېرمه پروت زیارت لري.

نوموړي هم د ناناصاحب دمخلصانو څخه دئ. د نوموړي پرمزار مخکي یوه پخوانۍ تاریخي ودانۍ ودانه وه، چي په موجوده وختونو کي د نوموړي دکورنۍ پاتو کسانو څخه د افغانستان دیوه دیني او فرهنګي شخصیت اروابناد عبدالهادي داوي زوی انجنیر عبدالغفار داوي لخوا د ۱۳۷۷ لمریز کال دجدي پر ۴ نېټه په نوي او اساسي ډول ورغول سوه.

د نوموړي میا نور محمد داوي دمړیني نېټه ما قرانمل هغه وخت له خانه سره ثبت کړې چي په زابل ولایت کي وسږنۍ بادام ګل مشاعري ته پر لاره د نوموړي له زیارته مو لیدنه کول. د دې یادابنت اخیستني پر مهال ځوان شاعر عبدالقیوم مینه وال او ځوان شاعر خلیل احمد څارن راسره مله وه.

د نوموړي دمړیني نېټه دقبر وسرته پرولاړه شناخته داسي لیکلې ده «وفات مرحوم ملانور محمد اخند داوي ولدشهاب الدین في سنه (۱۲۰۷) هجري قمري.»

ج: حمید ذاکري: عبدالحمید ذاکري دکندهار ښار جنوب شرق پلو ته په لس کلومترۍ کي د ذاکر شریف په کلي کي د صاحبزاده خیلو هوتکو دهدیرې په ماجرکي پروت دئ.

د دې قصیدي له لیکو ښکاري چي تر نورینو وروسته ئې د نقشبندیې طریقې دخلافت چاري تر غاړه وې.

د ذاکري دکورنۍ درخصت سوو اسلافو په باره کي د دې کورنۍ ځوانمرګ شاعر عبیدالله ځګرخون یوه وېرنه لري چي ددې کورنۍ ډېرنیکه ګان ئې په کښې یاد کړي دي.

د: سلیمان اخندزاده:

دهوتکي دورې د پای په وختونو او د احمد شـاهي دورې په ټوله دوره کې یو بل کس سـلیمان اخنـدزاده ۱۲۱۱هجري قمري کې مړدئ، چې په تاریخي روایاتو کې د (اسـتاد کل بلاد احمد شـاهي) په نوم یادسـوی د عبدالرب اخندزاده کاکړ زوی او د عبدالله اخندزاده کاکړ لمسی دئ.

سره تر دې چې لاس نیوی ئې په نقشـبندیه طریقه کې د میا عبدالحکیم (رح) له ښاخ سره کړی د نورو اړوندو طریقو (قادریې، چشـتیې) خلیفه توب ئې هم در لودلی دئ، چې د خلیفه توب اثار ئې د احمد شـاهي او تیمور شاهي دورو په لړ کې د نستعلیق لیک د خطاط مرزا گل محمد (زمینداوري) په لاس نسخ او نسـتعلیق لیک زماقران مل سره په کور نې خطي موزیم کې ساتله کېږي.

۵ــ د هو تکي دورې بل کس میا شېر محمد(ولي) د میاعبدالحکیم رحمت الله علیه ورور دئ، چې نوموړی په هغه دوره کې د کنـدهار اسـتو گن دئ، کلـه چې میـا عبدالحکیم رحمت الله علیه له کندهار کوچېدلی نوموړی له هغه سـره نه دی تللی، بلکي دلې په کندهار کې پاته سـوی، د نوموړي مقبره په کندهار کې د خیبري غونډۍ ته څېرمه پرته ده.

د نوموړي له اولادې اوس هم ملا عبدالرحمن او دهغـه زوی حضـرت شـاه دي چې پـه ده مراسـي ((ده مرزي))کې اوسي.

د سروزرو کربښي

د مور او پلار احترام کوئ: مور تا سي نهه میاشتي په گېډه کي دوه کاله په غېږه کي او څلور کاله په ځنګ کي سـاتلي او روزلي یاسـت او همدارنګه پلار مو سـتاسـو لـه پـاره هر ډول احتیـاجونـه، تکلیفونـه او مسافرت پر ځان اخیستی تر څو اولاد مو په اینده کي د دنیا او اخرت عزت او ارامي تر لاسه کړي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو حدیث مفهوم دئ چي د مور او پلار مخ ته په خوشحالۍ کتل د حج او عمرې برابر ثواب لري.

د ژبي هلاکت: که خپلي ژبي په واک کي و نه لرو، نو کېدای سي چي د خپلي ژبي په وجه جهنم ته ولاړ سو، ځکه د یو حدیث شریف مفهوم دئ: جهنم ته به ډېر خلک د ژبي د لاسه داخلېږي.

اې ځوانانو! د الله تعالی له لوري پر در کړل سوي ښایست قناعت او اکتفاء و کړئ، یوازي دونه تصرف وکړئ، چي په فطري ښایست کي د تغیر په معنی نه وي، مه د ښځو په څېر جامې اغوندئ، مه د ښځو په څېر سینګار کوئ.

اصلي هدف: یوازي د مال راغونډول په هغه پسې هڅه او تلاښ کول د یوسـو چه او باد یانته مسـلمان د ژوند اسـاسـي تګ لوری نه دئ، مسـلمان باید هر څه د خپل پیدا ینښت په علت او هدف کي د ننه ولټوي.

ژر گڼه: له وخت څخه ژر ګټه واخله او د هغه له تېرېدو څخه وېرېږه، ځکه چي عزت او شرف له وخت څخه په سمه ګټه اخیستنه کي دئ.

حبیب الله قلم مل

آیا شعر خیال دئ او که دروغ؟

د لوی کندهار ادبي بهیر په غونډه کي یوه ورځ د کره کتني په برخه کي پر دې بحث وسو چي ایا شعر دروغ دئ او که خیال؟ یو کس د خپلي خبري د اثبات لپاره، چي ویل ئې شعر دروغ دئ دا وویل: «اکذب شعر احسن شعر» خو یو بل کس ئې د خبري رد وکړ او وې ویل: «که شعر دروغ وي نو زه به هیڅکله شعر و نه لیکم ځکه دروغجن د الله جل جلاله دښمن دئ او زه په هیڅ صورت نه غواړم چي د الله جل جلاله دوښمني په غاړه واخلم.» کله چي په حاضرینو کي نوبت ماته ورسید، ما ورته وویل: چي نه د (اکذب) لفظ معنی فحش یا غلیظ دروغ نه دي، بلکي د خیال او یا مخیل کلام په معنی دئ، نه د دروغو په معنی. ولي د شعر (پېژندنه) کتاب لیکوال وایي: «شعر د تخیل او عاطفې بچي دئ.» (شعر پېژندنه، روهی صدیق، ۴۳ مخ، صمیم خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۸۵ هـ ش)

شعر د الله جل جلاله رسول خوښ کړی دئ که داسي وای نو د الله رسول نه خوښوئ، بلکي د شعر بدي ئې ویل. موږ الله جل جلاله د دروغو ویلو څخه منعه کړي یو الله په قران کریم کي فرمایي:

وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ. (الحج، ایت، ۳۰)

ژباړه: د دروغو له خبرو څخه ځان وساتئ.

لَعْنَةَ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ. (ال عمران، ایت، ۶۱)

ژباړه: د الله جل جلاله لعنت پر دروغجنانو وي.

دروغ پر څو ډولونو ویشل سوي دي، موږ د هغوی له جملې څخه پر دوو ډولونو بحث کوو یو دروغ غلطه دي او بل دروغ خفیفه دي. غلظ دروغ هغه دي، چي پر الله جل جلاله او د هغه پر رسول ﷺ او همدارنګه په معصومو خلګو پوري وتړل سي او خفیفه هغه دي چي په چا پوري نه وي تړل سوي، خو دروغ وي چي مراد ور څخه خیالي دروغ وي؛ لکه خیني شاعران چي ئې په شعر کي کاروي؛ لکه د حمید بابا دا شعر:

واسمان ته به د شعر زینې کښېښېږدي
که حمید د غم له سره ځنګون و کیښ

که دې بیت ته وګورو نو هیڅ حقیقت نه لري، کله کېدای سي، چي واسمان ته زینې کښېښودل سي او بیا د شعر زینې. دا یو شاعرانه خیال دئ. دلته هغه خبره صدق کوي چي وایي: «احسن الشعر اکذبه» یعني د شعر چي خیال څونده زیات وي په هغه اندازه ښه شعر دئ، نه دا چي څومره دروغ په کښې وي هغه ښه شعر دئ.

خو خلاصه د خبرو دا ده که د شعر محتوا غلطه دروغ وه نو شعر دروغ دي او که ئې محتوا خفیفه دروغ یا خیالي

موضوع وه نو شعر خیال یا تخیل دئ، درواغ نه. په موضوع دښه پوهېدني لپاره به د درواغو، خیال او تخیل تعریفونه وګورو .

درواغو تعریف: د حقیقت او واقیعت خلاف خبرو او ناحقه قول ته ویل کیږي او پر دوه ډوله دي:

اول: پر الله جل جلاله او پر رسول ﷺ درواغ ویل .

دوهم: پر خلګو درواغ ویل .

د خیال تعریف: خیال هغه قوه ده چي غیر مريي شیان چي مشاهده ئې نه سو کولای زموږ له نظره تېروي. (ادبي بحثونه ۵۰. مخ، الفت ګل پاچا، دانش خپروندوي ټولنه، چاپ کال(۱۳۸۰هـ ش)

د تخیل تعریف: هغه استعداد یا قابلیت دئ، چي د واقعیت نه د لاس ته راغلو انطباعاتو پر اساس به بشري شعور کي کي نوي حسي یا فکري ایماژو نه(انځورو نه) تخلیق کړي، هغه چي په ټاکلې شیبه کي واقعي موجود یت و نه لري. (شعر پېژندنه، روهي صدیق، ۴۳ مخ، صمیم خپر ندویه ټولنه، چاپ کال(۱۳۸۵ هـ ش)

عزیز التفاسیر هم دې موضوع ته اشاره کړې ده او لیکي:

« دشاعرانو کلام پر حقایقو باندي نه بلکي پر تخیلاتو ولاړ وي؛ لکه چي وایي: (احسن الشعر اکذ به) یعني ډېر ښایسته شعر هغه دئ کوم چي ډېر درواغجن وي.» (عزیز التفاسیر، ۹ جلد، ۱۶۴ صفحه)

یوه بله خبره چي د لوستونکو له ذهنه و نه وزي هغه دا چي په شعر کي مبالغه کول د شاعر لپاره روا ده، وایي هغه څه چي شاعر ته روا دي نورو خلګو ته ئې کول ناروا او یا کفر دئ، چي د هغه له جملې څخه یوه هم مبالغه ده چي شاعر ئې په شعر کي کوي.

مبالغه: که چیري یو شاعر د یوه شي صفت تر اندازې زیات بیان کي او د هغه د ښه والي او بدوالي تصدیق یا تکذیب ته شدت یا قوت ور کړي، مبالغه بلل کیږي او پر درې ډوله ده: تبلیغ، اغراق او غلو.

۱ـ تبلیغ: دا دمبالغې هغه شکل دئ، چي مدعائې هم د عقل او هم د عادت له مخي امکان ولري؛ لکه: خوشحال خان خټک چي وايي:

د خوشحال سره که کښېني یو څو کاله
دا د غره خټک به واړه شاعران سي

۲ـ اغراق: د مبالغې هغه شکل ته وايي، چي مدعائې د عقل له مخي امکان ولري مګر د عادت له مخي غیر ممکن وي:

زړه مي داسي ا ندېښنو د هجران ډک کئ
ځای د وصل پکښي نسته یو خاشخاش

۳ غلو: د مبالغې هغه شکل ته ویل کیږي، چي مدعا ئې هم د عقل او هم د عادت له مخي غیر ممکن وي:

چي بلیږي پکښي اور زما د اه
څه وي نه وي د فلک ماني سیاه

تنګه خوله يې په مثال د میږي ستر ګه
نه غلط سوم چي مثال يې نا پیدا دئ

(پنهان، فضل محمد، ادبي ارمغان، هیواد کلتوري ادبي ټولنه، چاپ کال(۱۳۸۳ هـ ش)

که چیري د شعر په فورم یا شکل کي محتوا د شعر د هغه تعریف مطابق وي کوم چي پور ته ذکر سو، نو شعر درواغ نه بلکي خیال دئ او که د تعریف مطابق نه وي کېدای سي درواغ یا هم کوم بل څه وي.

حاجي نذیر احمد تائي

کندهار پېژندنه

(۲)

د کندهار د منډیګک په هکله علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور (رشاد) پخپل چاپي اثر (دکندرهار یاد داښتو نه) کي یوازي یوه ډېره لنډه او د پوره معنا او مطلب څخه ډکه یا دونه کوي او لیکي: «منډیګک دکندهار ښار د شمال لو بدیځ په(۳۰) کیلو مترۍ کي واقع دئ. د ۱۹۵۱ او ۱۹۵۸ کلونو ترمنځ دلته یوه فرانسوي او ماندیني ئې حفریات وکړل او په دغه ځای کي تر میلادزر (۱۰۰۰) کاله وړاندي دانسانانو دژوند نښانې و موندل سوې. په منډیګک کي موندل سوي شواهد پر دې دلالت کوي، چي دا ځای دي د پښتنو اصلي مسکن وي.» (دکندهار یاد داښتو نه: ۷۲، مخ)

و ګورئ د پورته جملې (کرښي) څخه داسي ځر ګندېږي، چي خدای بخښلي علامه (رشاد) صاحب د خپل ژوند په اوږدو کي د ډېرو مطالعاتو او پلټنو وروسته دې نتیجې ته رسېدلی دئ، چي دکندهار پر منډیګک باندي دپښتنو د اصلي مسکن حکم صادروي. دا پدې معنا چي منډیګک دپښتنو اصلي مسکن بللای سو، همدا شان دکندهار د اطلاعاتو او کلتور محترم ریاست په ۱۳۸۴ لمریز کال د کندهار د تاریخ په اوږدو کښې تر سر لیک لاندي یو پراخ سیمینار دکندهار ولایت مقام په انګړ کي دننه دمنډیګک په نوم په نوې جوړه سوې مانۍ کي دایر کړ، چي پدې سیمینار کښې د اطلاعاتو او کلتور وزیر، سپین ږیري مؤرخ، تاریخ لیکونکي او خطاط ښاغلي عزیزالدین (وکیلی پوپلزي) بر سېره د هیواد تکړه پښتنو او دري ویوونکو لیکوالانو او تاریخ پوهانو د کندهار د یاداښت په هکله هراړخیزي او دپام وړ مقالې لیکلي وې، چي په دې ټل کي د هیواد تکړه لیکوال، ادیب او تاریخ پوه (ښاغلي محمد نبي تدبیر) هم خپله مقاله (د کندهار تاریخي آبدات او اثار) تر سرلیک لاندي لیکلې وه، زه دلته د نوموړي مقالې یوه لنډکۍ برخه، چي د منډیګک یادونه پکښې سوې ده د دې پخواني ښار په باب دمضمون څو کرښي ستاسو محترمو لوستونکو دلازیاتو معلوماتو په عرض ټکي په ټکي رانقلوم:

«لوی کندهار د افغانستان یوه داسي لرغونې او تاریخي سیمه ده، چي له ډېرو اوږدو زمانو نه انسانانو ژوند پکښي کړی، کار ئې پکښي کړی او د وخت له

غوښتونو سره سم ئې دا ړتیا وړ ابزار او سامان الات پکښې جوړ کړي، و دانۍ او یادګارونه ئې پکښې جوړ ګړي او د خپل هنر، فن، مدنیت نمونې ئې موږ ته راپرې ایښې دي. د لوی کندهار په منډیګک کې، چې دکندهار ښار د شمال لوېدیځ په (۲۶) کیلومترۍ کې پرته غونډۍ او دیمراسي غونډۍ او نادلي (نادعلي) دکندهار هغه لرغوني سیمي دي، چې ترې تر لاسه سوی آثار ئې نهه زره (۹۰۰۰) کاله وړاندي د دې ځای داوسېدونکو په لاسو جوړ سوي دي.

د منډیګک غونډۍ: دمنډیګک غونډۍ په دې (۹۰۰۰) نهه زره کلونو کي لس (۱۰) خله ورانه سوې او د بېلا بیلو وختونو ودانۍ او اثار سر پر سر پکښې خوندي دي. داغونډۍ (۳۱) متره لوړه ده، چې دکندهار کشک نخود سره نښتې او دارغنداو هلمند د سیندونو تر منځ پر ته ده. په حقیقت کي دغو نډۍ (۳۱) متر لوړ والی د هغو سر پر سر جوړ سوو و دانیو ځخه رامنځته سوې، چې د زمانې پېښو زرګونه کلونه وړاندي په خپل – خپل وار نړولي او د دې غونډۍ برخه ئې ورکړې ده. دا غونډۍ له دوو (۲۰۰۰) زرو کلونو راهیسي متروکه او د ورانۍ په حال کي پرته ده.

د منډیګک د لومړنۍ ودانۍ چې عمر ئې (۵۰۰۰) کاله کیږي د انسان دلاس ډېري لومړنۍ نښې؛ لکه: ځیني توږل سوي تیږي او د ځاروی یو تېره سوي هډوکي ورځه ترلاسه سوي. خو له لومړي پړاونه تر پنځلسم (۱۵) پړاو پوري د دې غونډۍ د بېلا بیلو اوسېدو نکو د ژوند بشپړ تیایي ګامونه راڅر ګندېږي، چې ورو ستی پړاو ئې له ژړو ځخه جوړ سوي لوښي هم لري. دوی په هغو وختو کي لکه دنورو پخوانیو غار میشتو انسانانو غوندي غاري ډېرین سامان الات جوړ کړي، چې به پنځلس ګونو

دورو کي ئې ورو – ورو وده کړې او له تیږو نه دکورونو او ابزارو پوري را رسېدلي دي.

دافغانستان د پنځه زره (۵۰۰۰) کلن تاریخ سر لیک (منډیګک): په زیاتو رسمي او اولسي غونډوکي دخبرو پیل (ویاړلی سړی) جمله غالباً دافغانستان دپنځه زره (۵۰۰۰) کلن تاریخ یادونه ده. په هر ناستون، میلمستون او یادزده ګړي په ټولګیو کي دافغانستان د پنځه زره کلن تاریخ په ویاړ یادونه کوي.

دا سر لیک دکومه راپیدا سوی؟ آیا په رښتیا هم افغانستان پنځه زره کلن تاریخ لري؟ کوم اسناد او شواهد د دې سر لیک د تائید او بنست لپاره سته؟.

په دې لیکنه کي نو موږو پوښتنو ته په لنډه تو ګه جواب لیکل سوی دئ.

دهغو ځېړنو پر بنسټ چي دافغانستان په بېلا بیلو سیمو کي تر سره سوي، د دې هیواد لرغوني جرړي ئې وړاندي او پخوانۍ ښو دلي دي.

... هغه سند، چي دافغانستان پنځه زره کلن د روښانه تاریخ وینا ثابتوي، دکندهار ښار شمال لوېدیځ لوري ته پر ته یوه لرغونې غونډۍ ده، چي د منډیګک په نوم یادیږي، دا لرغونې غونډۍ دفرانسوي لرغونپوهانو له خوا، چي مشري ئې د (ملیسوکزل) پر غاړه وه د (۱۹۵۱، میلادي) کال ځخه بیا تر (۱۹۵۷) میلادي کال پوري وسپړل سوه. د دې غونډۍ د لرغوني په لاس راغلو اثارو ځخه په ډاګه سوه، چي د منډیګک دسیمې پخوانیو اوسېدونکو خپل کلتور د مدنیت لوړو پوړو ته رسولی وو، پدې سیمه کي دکرهنې منظم سیستم، دیو ټاکلي جمعیت یو ځای اوسېدل، دمیسي او برونزي وسایلو ځخه کار اخیستنه او د لومړنیو مدنیتونو داسې نوري نښې نښانې تر لاسه سوي، چي لرغونتوب ئې د درې زره

پنځه سوه (۳۵۰۰) څخه بياتر درې زره (۳۰۰۰) کاله پخوا تر ميلاد کلونه پاکل سوی دئ.

د منډيګک د سيمي څخه څوارلس (۱۴) کلتوري دورې، چي هره يوه ئې ديوې اوږدې کلتوري دورې استازيتوب کوي، سپړل سوي او څېړل سوی دي.

د فرانسوي هيئت لرغونپوهانو (ډافا) چي مشري ئې (کزل) کول، د منډيګک د لاندني کلتوري طبعي څخه دنوي ډبري دورې يا (نيوليک) او د مسو ډبري دورې يا (اينيوليتيک) پوری اړوند و سايل او آثار تر لا سه کړل. په دې وسايلو کي دکرنيزو چارو وسايل، داوبه ولو وسايل، دښځو په ډول جوړي سوي ډبريني مجسمې، داوزانو په ډول کاڼي، دغلو دانو علايم، خاورين لوښي، چي د څرخ په وسيله جوړ سوي ول، د مسو څخه جوړسوي زينتي ګاڼې او پسولو نه او يو زيات شمېر داسي آ ثار، چي د پرمختللي کلتور او لومړني مدنيت ښکارندويي کوي کشف او تر لاسه سوی دي.»

ښاغلی (تدبير) صاحب پخپله مقاله کي د منډيګک او د کندهار د نورو لرغونو سيمو په هکله ښه پراخ معلومات وړاندي کوي او ليکي: ...په هر صورت د منډيګک د لرغوني سيمي څخه په لاس راغلي آثار چي د بېلا بيلو کورنيو او بهرنيو پوهانو او څېړونکو په وسيله مطالعه سوي، دائې څرګنده کړې، چي د افغانستان لومړنی څرګند مدنيت له منډيګک څخه پيل کيږي، چي زموږ دګران هيواد دلرغوني تاريخ د لومړي باب سرليک ګڼل کيږي.

ښاغلی محمد نبي تدبير د منډيګک څخه دلاسته راغلو لرغونو آثارو په هکله زياتوي:

دمنډګک څخه پلاس راغلي آثار په پرله پسې توګه د افغانستان ملي موزيم ته درسمي پروتوکولونو په ښه ورکول کېدل، چي له بده مرغه د افغانستان د نورو وياړنو ترڅنګ د ملي موزيم څخه دمنډيګک لرغوني آثار، چي زموږ د هيواد د پنځه زره کلن تاريخ شاهدان وه، په (۱۳۷۲ لمريز) کال د خپل منځي جګړو په ترڅ کي په داسي بې شرمۍ لوټ او تالان سول، چي د لومړۍ سقاوۍ غلو خپلي ګوتي په غاښ و نيولې. (کندهار دتاريخ په اوږدوکي: ۲۶۷، ۲۶۸، ۲۶۹، ۲۷۰، ۲۷۱ او ۲۷۲ مخونه)

که څه هم ښاغلي (تدبير) صاحب دکندهار دمنډيګک برسيره دکندهار د نورو تاريخي ځايونو څخه ښه او په زړه پوري او هر اړخيز معلومات پخپله مقاله کي وړاندي کوي، خو موږ دلته د سرليک او موضوع په تړاو پر همدې بسنه کوو، ولی دا د (کندهار پېژندني لړۍ) به نور هم دوام ولري انشا الله.

نور بيا...

د قلم درنښت وکړئ! ځکه قلم حقيقتونه ثبتوي. علمونه او فکرونه د تاريخ په اوږدو کي له يو نسل څخه بل نسل ته نقلوي.

که قلم نه وي نو د تېرو سوو نسلونو تاريخ به تر موږ نه وای رارسېدلی.

که قلم نه وای نو د اسلام سپېڅلي ارشادات او لارښوني به تر موږ نه وای را رسېدلي.

که قلم نه وای نو د رسول الله صلی عليه وسلم سيرت او سپېڅلي اقوال به تر موږ نه وای را رسېدلي.



عبدالکریم عامر / لورلایي

د نجیب ثاني شاعرۍ ته یو نظر

(د ړیمه او وروستۍ برخه)

حمید بابا (۱۱۴۸ق) وایي:

چي په مخ دي د خط لیکه دوتا راغله
ګویا مخ لره دي توره بلا راغله

صبوري به دي په عشق کي را ونه شي
هر چي وشوه یاالله یاالله راغله

چي راغلې په مجنون نه وه هیڅري
هسي سخته ستا له غمه په ما راغله

که صبا راځي په خلقو ورځ د حشر
په ما نن له ډېره غمه داستا راغله

چي مي هیڅري په خوا په خاطر نه وو
هسي لویه اندېښنه مي په خوا راغله

د رقیب له لاسه ډک له غرېوه ناست یم
چي مي حال وایه و یار ته ژړا راغله

لکه سر د پسه په اور غاښو نه سپین کا
ما له نن له ډېره غمه خندا راغله

که دي بیا د تلو رموز وکړه دلبره!
په هغه ساعت مي مرګ شو قضاء راغله

چي موقوف یې خپل ژوندون د یار په مخ کړه
د حمید په خوله عجبه وینا راغله

(درومرجان ۹۹)

دینو کي لیدل کیږي. په قرآن کریم کي د حضرت ابراهیم علیه السلام د ستوري، سپوږمۍ او لمر څخه د واحد الله جل جلاله و خدایي ته رجوع هم دغسې یو داستان لري[1].

یوه بله ډله بیا په دې عقیده دي چي اولیه انسانان وار د واره مؤحدین وه او یو داسي خدای ته ئې عقیده درلوده، چي هغه د ټولو شیانو د خلقت مُسَبِب وو. د دی خدای تمثال نه په تصویرو او مجسمو کي راتلای سوای او نه ئې د ذات تصور د چا په خیال کي. دې خدای کم معبد یا امام ته هم ضرورت نه درلود. خو کرار ـ کرار دا واحد خدای د خلکو د یاده ووتی او ځای یې نورو "خدا یانو" او "نیم خدایا نو"[2] و نیوی. انګریزه تاریخ پوهه کرَن آرمسترانګ[3] او ویلهِلم شمیت ([4]) د دې آخري نظر په پالونکي دي. زما په دې لیکنه کي هم کوښښ سوی دئ، چي د دې آخري نظر مثالونه وښیم.

سماوي کتابونه (تورات، انجیل او فرقان) درې سره داسي وايي چي دانسانانو اولي ډلي چي ئې د خدای تعالی د امره سر غړونه وکړه، د نوح علیه السلام قوم وو. سر بېره پر دوی، په قرآن کریم کي د نورو قومو د ګمراهۍ حکایتونه هم ذکر سوي دي. لکه د حضرت موسی علیه السلام قوم چي د ده په غیاب کي ئې د یو ګیلګي عبادت ته غاړه کښېښوول[5]. یا اوسني نصرانیان چي حضرت عیسی علیه السلام خدای او د هغه زوی بولي[6] یا د قرآني د صریحو آیاتو پر خلاف د هغه علیه السلام و قتل و تصلیب ته عقیده من دي[7].

کنستانتین دشرقی روم امپراتور هغه وخت چي ده خپأ جهاد د حضرت عیسی علیه السلام په نامه د روم امپر توری د دواړو برخو اتحاد لپاره په کامیابۍ تر سره کی، نو ئې په ۳۲۵ میلادي کال کي په عیسوي دین کي د عیسی علیه السلام د موقف د ټاکلو لپاره یو خورا لویه غونډه، چي استانبول ته نژدې د (نیقیا) په ښار کي د ټوله امپراتورۍ څخه څو سوه کشیشانو ګډون پکښي بر خه اخیستې وه، دایره کړه. کنستانتین د غونډې په دریمه ورځ د غونډې مشري په لاس کي واخیسته او حاضرین ئې دې پرېکړې ته مجبوره کړه، چي عیسی علیه السلام چي د خدای زوی دئ، په عین حال کي د خپل پلاره سره هم جوهر او هم عمره هم دئ. دغه د هم جوهرۍ خاصیت ته (هوموا وزیون یا Homo-ousion) وایي.

هیرودوت د یونان نامتو مؤرخ (چي د تاریخ د پلار لقب لري)، پخپل تاریخ[8] کي لیکي چي د جزیرةُ العرب اوسېدونکي د (الایلات) او (آروتال) په نومو د خدا یانو پرستش کاوه. بیا د (مکي د زمامداران) د کتاب به روایت د (الایلات) نوم د زمانې په تېرېدو سره د (اللات) او (اروتال) هم د (الله تعالی) بڼه اختیار کړه[9]. (العیاذا بالله). خو دا آخري ادعاء زه په دې دلیل ردوم چي د (الله تعالی) صفت یو مرکب نوم دئ، چي دوهمه برخه ئې (تعالی) په عربي ژبه کي د (ع . ل . و) درې حرفي ریښه لري او د تصریف وړ کلمه ده. د دې ریښې مشتقات

---

[1] ګورئ د (الانعام) د سورت ۷۶ د څخه تر ۷۸ آیاتو پوري.

[2] د "نیم خدایانو" د لفظ څخه مطلب هغه ارباب الانواع دي چي په یوه حوزه کي قدرت لری. لکه چي په یونان کي (ونوی) د میني خدایه او (اپولو) په روم کي د مسافرانو او غلو خدای وو. د هندوانو په دین کي هم تر دی یوه مغلقه سلسله روانه ده.

[3] د کتاب نوم "A History of God" یا تفحص چهار هزار ساله یهود، مسیحیت و اسلام برای درک حقیقت. منتشر د .Harper Co نیویارک.

[4] د کتاب نوم (The Origin and Growth of Religion د Wythe North Publishing) انتشار او د کانګرس د کتاب خانب نمبر ئې ISBU 10- 0990738604 دئ.

[5] د البقرې سورت: ۹۲ . آیت.

[6] او یهودانو وویل: عزیر د خدای زوی دئ او مسیحیانو وویل: مسیح د خدای زوی دئ، دا هسي د دوی د خولو خبري دي، له هغو کافرانو سره خپله خبره ورته کوي چي (تر دوی) مخکي ول. الله دي دوی هلاک کړي، څنګه دوکه کیږي. (د سورت التوبه: أیت ۳۰)

[7] او د دې خبري په وجه چي موږ د الله پیغمبر مسیح د مریمي زوی ووژو، حال دا چي نه ئې وژلی دئ او نه ئې په صلیب خږولی. (د النساء سورت 157 أیت)

[8] د کتاب نوم "The History of Herodotus" او ټولونکی ئې (G. Rawlinson) دئ. دریم کتاب، اتم فصل. ۲۰ مخ.

[9] د کتاب نوم "The History of Herodotus" او ټولونکی ئې (G. Rawlinson) دئ. دریم کتاب، اتم فصل. ۲۰ مخ.

آخری نامه یاد کی چي د زمانې په مرور سره ئې د (الله) بڼه اختیار کړې ده.

د بشر د ژبو د استحالي په تاریخ کي داسي پېښي ډېري لیدل کیږي، چي یو لفظ د زمانې د تېرېدو سره په مختلفو ځایو کي مختلف شکلونه اختیار کړي وي. د یوه مثال په توګه به د (دیوتا) لفظ را واخلو چي په هندي ژبه کي د خدای په معنی دئ. د دی کلمی مؤنث بیا (دیوې) دئ، چي محترمي ښځي ته هم وایي. بل شکل ئې د رڼا په معنی دئ لکه چي د (دیوالي) په لفظ کي د رڼا د اختر نوم دئ. او هم دا رنګه (دیا) او (ډیوا) هم څراغ ته وایي، چي په پښتو کي د (ډېوې) په بڼه راغلی ده. یا (دیوا دارو Divadaru) د "خدای د درختي" په معنی[1]. د دغي کلمې سره څه ارتباط لري. په پښتو او فارسي کي د (دیو) کلمه په منفي صبغه رېښې ته ورته والی لري چي بیا د دې څخه د (دیوانه) کلمه اخیستل سوې ده.

نو هغه مهال چي دې کلمې د آریایانو سره اروپا ته هجرت وکی، په یونان کي په (تیو Theo) بدله سوه او د خدای په معنی. د (تیو) د کلمي مشتقات (تیولوژي) یا د الهیات علم، (تیو کراسي) یا د روحانیونو حکومت او بعضي اعلام لکه (تیودور) یعني د خدای تحفه، (تیو بالد) یعني د خدای مخلوق او (تیودوسا) دئ. د (دیو Deo) لفظ هم د همدې ریښې څخه راځي او مشتقات ئې لکه (دیودوتس) چي یو باختري یوناني پاچا وو. (دیو جانس کلبي) یو مشهور یوناني فیلسوف تېر سوی دئ، چي د ثروت او اجتماعي رسمونو مخالف وو. د (زیوس Zeus) نوم چي د یونانیانو د خدایانو خدای وو، هم د دې کلمې د مشتقاتو څخه دئ. د مسیحیت تر ظهور د مخه د جرمنانو د یوه نیمه خدای نوم (Tiu) وو، چي د سې شنبې یا (Teusday) نوم د ده په احترام تر اوسه پاته سوی دئ. سربېره پر دې په لاتیني ژبه کي خدای ته (دي یوس Deos) وایي او مؤنث ئې (دیوا Diva) کیږي چي د محترمي ښځي معنی هم لري. په بل حساب بیرته راغلو عیني د هندي ژبي د (دیوی) کلمې ته چي هغه هم د محترمي ښځي په معنی وه.

په پای کي غواړم چي د البقر د سورت د هغو مبارکو آیتو په باره کي چي د دې مضمون په سر کي وښوول سوه، یوه تبصره وکم.

موږ داسي وو یل چي خدای تعالی خپلو ملائکو ته خبر ورکی، چي غواړي د ځمکي واک انسان ته ورکي، خو ملائکو په دې دلیل چي دوی پخپله تل د خدای جل جلاله ستاینه کوي او د ده نوم په پاکی یادوی، د انسان د خپل واکي څخه تشویش ښکاره کړی، نو په ځواب کي حق تعالی آدم علیه السلام ته علم او پوهه ورکړه. بیا ئې د فرمان منونکو، عبادت کاره او ثنا ویونکو ملائکو پر ځای نه یوازي دا واکمني هغه ادم ته، چي غیر له علمه ئې بل هیڅ کمال نه درلود، ورکړه، بلکي ملائکو ته ئې امر وکئ، چي آدم ته سجده وکي. زه پخپله اقلاً د دې مبارکو آیتو څخه داسي نتیجه اخلم چي حق تعالی د علم فضیلت د ثقلینو پر نورو ټولو صفتونو ښیي.

---

[1] په اصل کي د (دیو) لفظ د خدای په معنی او (دار) لرګي ته وایي. داسي معلومیږي، چي دغه د (دار) کلمه به زموږ د ژبو د (سپېدار او سفېدار) سره هم ارتباط ولري.

لیکوال: سرور شاکر

ناهیلی ژوند

(لنډه کیسه)

د ژمي اوږدې سړې شپې او ورځې وې، هوا به ډېره سړه وه، ما به هر سهار وختي خپل زوړ بای سیکل تر ښکرو ونیوی او په دې نیت به د کوره راوتلم چې ګوندي د خپلې کورنۍ لپاره یو ځای کار پیداکړم. نو د ښار هغه څلورلارې ته تلم چیري، چې زما په څېر ډېر بېوسه او بېچاره کسان د کار د پیدا کولو لپاره سره راټولېدل، چې په ساعتو ـ ساعتو به د کار په لټه کي انتظار ول په دې ورځو کي د کار خوند هم نه وو، یو مخ په ټپه ولاړ وو.

د دې کسانو د څېرو څخه به له ورا یه د غربت او بېچارګی علامې معلومېدې، ما هیڅ کله په خپل ژوند کي دا فکر نه وو کړی چې غریبي به دونده لوی عیب وي. دوی به په خپلو منځو کي د خپل ژوند د بېوسۍ قیصې کولې. د دې قیصو په اورېدو سره زه د ژوند څخه بلکل نا امیده سوی وم ډېرو دغو کسانو به د خپل ژوند شپې او ورځې پر همدغه پیاده رو سبا کولې د دوی په لیدو به زه هره ورځ ډېر زور بدم او د ځان سره به مي ویل چې خدایه داسې ځنګه ازمایښت او امتحان دئ.

ایا انسانیت ختم سوی او که دا خلک رانده دي. زه هره ورځ د دغسې یو صحنې سره مخامخ کېدم، چې خپل ضمیر او وجدان به راته ملامت ښکارېده ماته به د خپل ورور (مومبین) هغه خبره، چې څو کاله وړاندي د قاچاقي لارو د لاییی څخه ئې غوښتل چې ځان اروپایي هیوادو ته ورسوي راپیاد سول، چې ویل به ئې «وروره دلته څوک د چا په غم کي نه دي چې د لوږي مړ سې څوک دی ولا که پوښتنه وکړي، دلته غریبي لوی عیب ګڼل کیږي» ما به ور ته ویل چې وروره! هغه لاري د خطرونو ډکي دي، ستا په څېر ډېر ښائسته ځوانانو په دې سختو لاروکي خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی، چې د مدیتراني د تورو اوبو د نهنګانو خوراک سوي دي. ده به دا نه راسره منل هغه وو چې مومبین یوه ورځ ولاړه، چې بیا ئې نه د ژوند او نه د مرګ احوال راغی. یوه شپه ډېر ناوخته ستړی ستومانه کورته راغلم یو څوشېبې مي د راډیو موجونه واړول راوړول، پرېشانۍ وړی وم چې یو دم د سرای دروازه په زور سره وټکېدل د دروازې په ټکېدو سره په ځای کي په وارخطائي سره کښناستم د خوني د ساعت ثانیه ګر په بېړه ګرځېدی د ځان سره می وویل خدایه فضل کوي، چې په دا نیمه شپه به څوک وي، په تلوار سره مي د سرای دروازې ته ځان ورساوه او ږغ مي کړ څوک یاست! چا ځواب را نه کړ، بیا مي ور درسته کړه چا ځواب را نه کړ، یو څو دقیقې د سرای د دروازې وشاته و درېدم خو د باندی په کوڅه کي چوپتیا خوره وه.

اسمان تورو وریځو پوښلی، ترورمی وه زه څوشېبې چار چاپیره د سرای په غولي کي ګرځېدم راګرځېدم چي د دروازې د باندي د توت د درختي پر وچو پاڼو د قدم وهلو کربښهاری سو. ما په ځغاسته ځان د سرای دروازې ته راور ساوه او د غوږ شپېلی مي دروازې ته ښه ورنژدې کړ، د یو کس د ساه ایستلو ږغ مي وار ېدی، چي یو بل ته ئې په ټیټ اواز ویل مور به غلط سوي یو دا به هغه کور نه وي ؟

دوهم کس وویل نه پوهېږم!

ما ته په زړه کي ډېر وهم او ترس راولوېد، چي دا به څوک وي. دوی یوې اوبلي خوا ته قدم واهه چي ز نګ ور ته راغلی. د زنګ تر راتلو وروسته خلک د سترګو په رپ کي ورک سول. یو ګړی وروسته چي زه لادېر ندې پر سوفه ناست وم، چي په رېږدېدلي اواز سره ږغ سو صمیمه زویه دروازه خلاصه که. زه موسی جان اکا یم. موسی جان اکا زموږ د مسجد او محل مشر وو. د دې اواز په اورېدو مي پښې سستي سوې او ځان مي ژر د سرای دروازې ته راورساوه. د دروازې په خلاصېدو سره زموږ د کوڅې څو ګاو ندیان ما ته په راوتلو په رډو سترګو کتل او پر ما راوګرځېدل. د دوی په لیدو زه ډېر حیران او په فکر کي سوم چي ناڅاپه مي سترګی پر یو اوږد تابوت ولګېدې، چي د سرک پر غاړه پروت وو. ما هڅه وکړل چي ځان ورنژدې کړم چي زموږ یو ګاو ندي را ږغ کړل صبر ولره دادخدای کارونه دي ټول مرو. د دې په اورېدو سره مي پر سترګو توره تیاره سول او پر مځکه ولوېدم. څو شېبې وروسته چي کله په سد کي راغلم په هغه تابوت کي زما مسافر ورور ک او دزړه ټوټه په ابدي خوب بیده وو.

ژباړن : جاوید افتاب

تنهایي پټ قاتل

تاسي خپل وخت څنګه تېروئ؟ د خپلي کورنی له غړو او دوستانو سره او یا هم یوازي او سېدل تاسو ته ښه ښکاري؟ که چیري تاسي ته یوازیتوب غوره ښکاري. نو ډېر ژر د دې عادت پرېښودلو په فکر کي شئ ځکه چې په یوه نوې څېړنه کي جوته شوې، چي یوازیتوب ستاسي له ژوند څخه میاشتي او کلونه غلا کوي. هغه څوک چي یوازي ژوند تېروي، د هغه عمر تر هغو کسانو کم وي چي له دوستانو سره وخت تېروي.
په یوازي توګه ژوند تېرولو کي له وخت څخه مخکي (۵۰) سلنه د مرګ د راتلو امکان شته. د امریکا د یوټا او شمالي کارولینا په پوهنتونو کي د ترسره شوو پلټنو له مخي، چي د (۳) لکه کسانو د ژوند حالات او عادات ئې مطالعه کړي او د دې په اړه معلومات له دې څېړني څخه پخوا (۳۰) کلونو په دوران کي (۱۴۸) مطالعاتي څېړنو څخه لاس ته راغلي، چي هغه کسان چي نوي دوستان پیدا کوي او نورو سره تګ راتګ خوښوي. عمر ئې نسبت هغه چا ته چي یوازي وي (۳،۹) کاله زیات وي. د ملګرو پیدا کول او له هغو سره وخت تېرول د صحت لپاره دومره ګټور دئ لکه یو څوک چي د تمباکو څکول پرېږي دي. په دې اړوند د څېړنیزي ډلي مشر پروفیسر برټ یوچینو داسي وایي: « د ملګرتوب جوړول او له خلکو سره تګ راتګ په ورځني ژوند کي اسانتیاوي پیدا کوي او د ستونزو په له منځه وړلو کي مرسته کوي او د انسان پر ذهن فشار او پراعصابو باندي د زیات بوج په راتلو کي کموالی راځي. چي صحت ته ډېره ګټه رسوي. انسان اکثرا د دوستانو لخوا د ډاډ په ورکولو زړه ته تسکین ورکوي: مثلا: که یو انسان یوازي وي او مریض شي، نو هغه ډاکټر ته ځي او د دوا په اخستلو سره ځان ته ډاډ ورکوي، خو که چیري ستاسو د خپلوانو او دوستانو له جملې څخه وي نو تاسي به هر وخت پر هغه پام کوئ او هر ځل به ډاډ ګیرنه ورکوئ. له همدې سره هغه په اروایي توګه ځان ارام او خوندي احساس وي چي د خوشحالی لپاره ښه موقع ده. کولی شي چي خپلي ستونزي له خپلو دوستانو سره شریکي کړي او د خپل زړه بوج سپک کړي او دا عوامل د هغه سره د سکون په راوستلو کي مرسته کوي.» د مطالعاتي ټیم د ماهرینو وینا ده چي لدې څېړني دا هم ښکاره شوې ده، چي د یوازیتوب او مرګ ترمنځ اړیکه د هر عمر ښځي او سړي لپاره یو شان ده.



عبدالناصر هیواد

ځوانان چې د هیواد بهیر بدلوي

خوانان د یوې جامعې نوي او تازه غوړېدلي ګلان دي، کوم چې تر مخکېني غوړېدلو ګلانو ښکلي او جزاب وي. ځوانان د هیواد د ملا د تیر حیثیت لري. ځوانان د هیواد نوی نسل دئ او نوی نسل د یوه هیواد سرمایه ده. ځوانان د ټولني هغه قشر دئ، کوم چې د ټولني د ټولو خلکو له لوري ور با ندي حساب کیږي او ځوانان دي، چې د یو ملک د حرکت مسیر بدلولای سي، که ملک تباه کیږي؛ هم به د دغو ځوانانو له لوري تباه کیږي او که ملک ودانیږي؛ هم به په کښې زیاته ونډه د ځوانانو وي.

په یو هیواد او یوه ټولنه کي اساسي مشترک ارکان، کوم چې د ثبات، سوکالۍ او با امنه ژوندانه ضمانت کوي؛ عبارت له علمیت او اقتصاد څخه دي. نو له دې جهته په علم سمبال ځوانان ښه ښکاري، په ښو اخلاقو سمبال ځوانان ښه ښکاري، با فهمه، ځیرک او هوښیار ځوانان ښه ښکاري. هغه ځوانان ښه ښکاري کوم چې د خپل مور، پلار، خور، ورور، مشرانو او ټولني عزت او پت ئې خوندي ساتلی وي، هغه ځوانان ښه ښکاري کوم چې دا ارزښتناکه د ځوانۍ عمر چټي او عبث ور باندي نه تېرېږي او هغه ځوانان ښه ښکاري کوم چې ملګر تیا او په څنګ کي اوسېدنه ئې نورو خلکو ته ویاړ وي، نه د مادیاتو په لحاظ بلکي په علمي او معنوي لحاظ.

په نړۍ واله کچه د نن ورځي تر ټولو ستر پوځي او اقتصادي ځواک آمریکا په ۱۴۹۱ میلادي کال د کرستوف کولومب له لوري کشف سوې ده، هلته داسي کوم تاریخي

او فرهنګي میراثو نه وجود نه لري، کوم چي له ۵۰۰ کاله څخه زیات تاریخي قدامت ولري او نه د کوم تمدن آثار او نښــي وجود لري، کوم چي د دوی د مدني او ښــاري ژوند ښــکار ندوېي وکړي. خو زموږ ګران هیواد افغانســتان د ۵۰۰۰ کلونو څخه زیات لرغونی او باستاني دئ. په شلمه پېړۍ کي اروپایي لرغونپوهانو په افغانســتان کي د زیاتو هڅو او څېړونو وروســته ادعا وکړه چي د بلخ په ولایت کي د بخدي د لرغوني تمدن آثار ښیي تقریبا ۵۰۰۰ کاله پخوا دلته خلک ګډ او په جمعي شــکل اوســېدل. د کندهار ولایت په خاکرېز ولســوالۍ کي د منډیګک د تمدن آثار ښــیي تقریبا د ۴۵۰۰ کاله څخه زیات پخوا دلته خلکو په مدني ډول هســتوګنه کول او داســي نوري زیاتي بېلګي او نمونې سته. کوم چي ډېر پخوا زموږ د ښاري ژوند او مدني توب اثبات کوي. له بده مرغه زموږ د خلکو په زیاته کچه د خوانانو د بدبختۍ، بې سوادۍ، او بې اتفاقۍ د لاملونو په وجه نن ورځ د نړۍ نور قومو نه موږ ته د ګډ ژوند کولو، ښــاري ژوند کولو، د تمدن د پرمختګ، فرهنګي چارو او د ژوند کولو د اصولو په اړه تشـریح او ښـودنه کوي، ولي موږ په لسګونو پېړیو مخکي هم د مدني ژوند سره اشنا او یو د بل په څنګ کي اسېدلو.

په ۱۴ پېړۍ کي د شــاهرخ د واکمنۍ پر مهال هرات د ســیمي په کچه د هنر، علم او ادب مرکز و، زیات آثار ئې تر ډېره وخته په نړۍ والو موزیمونو کي وجود درلود او شــاید تر اوســه موزیمونه په ښــایســته وي. همدار نګه د تاریخ په اوږدو د اتلسمي پېړۍ په اوایلو کي د شاه حسین هوتک د واکمنۍ پر مهال کندهار د آسیا په سطحه علمي مرکز تېر سوی دئ.

په تېرو وختونو کي افغانان په علمیت، مېړانه او بهادرۍ سره مشــهور ول، خو بدبختانه نن سـبا یو شــمېر افغان خوانان د پردیو د توطیو او دسیسو ښکار ګرځیدلي دي، د پردیو د فرهنګونو د ترویج کولو په حالت کي دي، د خپلو نیکونو علمیت، مېړانه، شهامت او قربانۍ ئې هېري کړي دي، ټوله ژوند او ارزښــتناکه وخت ئې د یو او بل د تخریب کولو، توهین کولو او خپل منځي جګړو ته خانګړی کړی، او په نړۍ واله کچه په جګړه مارانو او ترهګرو مشهور سوي دي. خو زموږ نیکونه داسي نه ول، هغوی یو د بل په څنګ کي اوسېدل، ژوند ئې په میني او عاطفې سره مخته وړی، تل په ســوله کي اوســېدل، د علم او ادب په برخه کي ئې زیات مهارت درلودی او تل ئې هڅه کول د قلم په زور خپله وړتیا، مېړانه او شــجاعت ثرګند کړي، چي ثبوتونه ئې تر اوسه موږ ته په میراث پاته دي.

کاش زموږ خوانان د میرویس خان نیکه پر قدم، قدم کښېږدي، کاش زموږ خوانان داحمد شاه بابا پر قدم، قدم کښېږدي، کاش زموږ خوانان د سـید جمالدین افغاني پر قدم، قدم کښېږدي، کاش زموږ خوانان د علامه عبدالحي حبیبي پر قدم، قدم کښېږدي، کاش زموږ خوانان د علامه عبدالشــکور رشــاد پر قدم، قدم کښېــږدي او کاش زموږ پېغلي د نازو انا او زرغونې انا پر قدم، قدم کښېږدي.

موږ د خوانانو د یو ګډ او متحد ټیم په ثمه یو او موږ د هغو د ګوتو په شــمېر خوانانو ډېر ســخت مخالف یو، کوم چي د خوانانو موقف ئې انحصار کړی او د دې موقف څخه ناسمه سیاسي استفاده کوي. موږ د کندهار ولایت په خوانانو کي علمي، ادبي او هنري ارزښــتو نه توجیه کوو او په خوانانو کي د علمي، ادبي او هنري نو ښتونو امتحته کولو ته ژمن یو. موږ هیله لرو همېشه د یو او بل په څنګ کي پاته سو، د یو ګډ او متحد سازمان په شکل دغه اجتماعي ژوند چي د الله جله جلاله له جانبه موږ او تاسـي ته عطا سـوی مخته یوسو.



ژباړه او راټولونه: وحیدالله بریال

ارنست میلر همینګوی

د امریکا د ادبیاتو مشهوره څېره او د نوبل جایزې ګټونکی لیکوال (ارنست میلر همینګوی) په ۱۸۹۹ز کال د جولای په ۲۱مه کي د شکاګو په اوک پارک کي پیدا شوی دئ. پلار ئې کلارنس ډاکتر وو. مور ئې یوه دینداره مذهبي ښځه وه، چي (پیانو به ئې غږوله او د دې تر څنګ به ئې په ښکلي اواز سندره هم ورسره زمزمه کوله. د کلیسا پالنه او ساتنه ئې پر غاړه وه. د موسیقۍ مدرسه ئې هم درلوده.)(۳)

د ده تر زوکړي اووه میاشتي مخکي ئې پلار د والون د دریاب په څنګ کي کور او یو څه ځمکه واخیستل، چي هر کال به ئې د دوبي دوې میاشتي دلته تېرولې. د پلار له شپږو اولادونو ئې دی دویم اولاد وو. د خپلي کورنۍ په اړه وایي: «زما مور او پلار په خپلو کي فکري یووالی نه لاره، نو ځکه زه او زما کورنۍ په دغسې یوه لویه ستونزه کي راګیر وو او د ناراحتي احساس مو کاوه.» مور ئې غوښتل، چي په ارنست باندي مذهبي کتابونه ولولي، خو پلار ئې نوموړی د ماهي نیولو ښکار ته تشویقاوه. لرګي او د ماهي د ښکار نور وسایل به ئې په لاس کي ورکول، تر څو د ماهیانو د ښکار تمرین وکړي. لس کلن وو، چي له توپک او ښکار سره بلد شو.

کله ئې چې د مکتب پر دروازه پل کېښود، له ادبياتو سره ئې علاقه زياته شوه، په دې اړه په خپله وايي: «د ادبياتو د مضمون له بيان او طرزه مي ښه راتلل. فکر مي کاوه، چې په ماکي داسي يو څه شته، چې کولای شم د ادبياتو په قالب کي ئې ښکاره او څرګند کړم. دا سي علاقه مي له نورو علومو سره نه وه.»

له دغه وخته ئې په ليکلو پيل وکړ. د مکتب ورځپانه د ده د ليکلو لومړی تجربه شوه. ده ليکل کول او دا به ئې خپلو نېږدو ملګرو ته ښکاره کول. وې کولای شو، دا وک پارک په مکتب کي خپلي لومړنی زده کړي پای ته ورسوي. په ۱۹۱۷ز کي ددوی د ژوند د بدلون دور راغی. د لومړی نړی والي جګړې په وخت کي ئې غوښتل، چي په پوځ کي ځان داخل کړي. خو د دوی د سترګو د کمزوري ليد په وجه ئې دا ارمان پوره نه شو، خو د سره صليب سره د امبولانس د موټروان په حيث ئې خپله دنده پيل کړه، د ايتاليا له جګړې به ئې ټپيان تر روغتونه رسول، په دې کار کي په ۱۹۱۸ز کي زخمي شو او څو مياشتي ئې په يو ايتالوي روغتون کي تېري کړې. بيا متحده ايالاتو ته بېرته راوګرځېد. خلکو په اوک پارک کي د جګړې د اتلانو په څېر ولمانځه.

په ۱۹۲۱ز کي ئې له ۲۹ کلنې اليزابت هډلي ريچاردسون سره واده وکړ. په ۱۹۲۲ز کي دوی دواړه د يونان او ترکيې په جنګ کي د ګډون اراده وکړه. ارنست هلته له جيمز جويس سره ملګری شو، هغوی تشويق کړ، تر څو خپل کتابونه چاپ کړي، چي په ۱۹۲۵ز کي لومړی داستان (زموږ په زمانه کي) چاپ شو. دې داستان يو ځانګړی سبک لاره.

په ۱۹۲۶ز کال ئې له پولين سره ملګرتيا پيدا شوه، پولين د موډ او فېشن د (Vogue) مجلې مشره وه، دا دومره ښکلې وه، چي د موډلې په شان به د کېمرې مخ ته ولاړه وه، د دې ښځي سره د دوی ملګرتيا هومره اوږده شوه، چي تر څو ئې په همدې کال خپلي ښځي هډلي ته طلاق ورکړ. د دې په اړه دی وايي: «زما لومړنی واده سم نه وو. موږ دواړو که څه هم ګډ ژوند کاوه، خو دوه برداشته مو درلودل. زه د دې په وجود کي د فداکاری په تمه وم. خو هغې د هوس ډېر لوی ارمانونه درلودل.» ده وعده وکړه، چي نور به هيڅکله هم واده نه کوي. خو د حيرانتيا وړ ده، چي په کال (۱۹۲۷ز) کې له پولين سره واده وکړ. له دې يې دوه زامن پيدا شول. پاتريک ئې په (۱۹۲۸ز) او ګرګوري په (۱۹۳۱ز) کي وزېږېدل. پولين د (وګ) په مشهوره مجله کي کار کاوه. دې ښځي له هميڼګوی سره تر (۱۹۴۰ز) پورې ژوند وکړ، بيا له دې هم بېل شو، درېيم ځل ئې له ليکوالي مار تاګلهورن سره واده وکړ. پر مار تاګلهورن ئې هم له (۱۹۳۶ز) کال راهيسي زړه بايللی وو، دا زړه بايلل ئې هغه وخت رامنځ ته شو، چي ده ور سره يوه مرکه وکړه. مار تاګلهورن هم يوه راپورتره وه. د ده په شان ئې له ژورناليزم سره مينه وه. دوی دواړو په (۱۹۳۷ز) کال د هسپانيې د کورنی جګړې راپورونه برابرول. په (۱۹۴۴ز) ئې ماري ولش سره ليده کاته وشوه، داخل ئې په دې پسې د زړه مراندي وتړلې او څلورم واده ئې له دې سره په (۱۹۴۵ز) کي وکړ. دا ئې وروستی واده وو، له دې سره ئې د ژوند پاته کلونه په ډېره خوښۍ تېر کړل، خو تر دې د مخه مېرمن مار تا چې د ده سره ئې ډېره مينه وه، په کور کېناسته، خو له ده ئې بيا هم لاس وانه خيست.

په (۱۹۲۳ز) کي ئې درې داستانونه او لس شعرونه په فرانسه کي نشر شوي ول، چي دی ئې د شهرت لوړو پوړو ته ورساوه. په دې وخت کي هميڼګوی له ژوندانه ناراضه ښکاري، ده ليکلي «ليکوالي نه شي کولای چي زما د ژوند د پرمختګ لامل شي. له کومه چي مي پيل کړې تر اوسه نه يم توانېدلی، چي په ليکوالۍ د نيستۍ زخم ټکور کړم. يا زه د ليکوالۍ په درد نه خورم يا خلک ددې په ويلو.» خو (د امريکايي ليکوالو ژوند) کتاب ئې د نيستۍ دول له غاړې خلاص کړ.

۱۹۵۲ز کال دارنست همينگوی لپاره بل د خوښۍ کال وو. په دې کال کې ئې د (بوډا او سيند) په نوم کتاب وليکه. دا ناول په دوو ورځو کې پنځه ميليونه خرڅ شو، چې د دې ناول او نورو اثارو د ليکلو له خاطره ئې په (۱۹۵۴ز) کال د اکتوبر په (۲۸) مه د نوبل نړۍ واله جايزه تر لاسه کړه. د دې ناول کيسه د ماهيانو د يوه زاړه ښکاري کيسه ده، چې هره ورځ ښکار ته ځي. څه لاس ته نه ورځي. د ده د ملګرو مور و پلار خپل زامن د دې په خاطر چې دا يو بې بخته انسان دئ او هره ورځ خالي لاس کور ته راځي، له ده بېلوي. خو د پام وړ داده، چې زوړ سړی بيا هم له ښکاره نه ناراضه کيږي. که هر څومره څه لاس ته نه ورځي. خو هڅه کوي او نه ناهيلۍ کيږي.

د عمر په وروستيو کلونو کې همينگوی په يوه رواني ناروغي اخته شو. تل په ناراحته وو. ډېر وخت به ناهيلۍ وو. د دې ناروغۍ لامل وو، چې د (۱۹۶۱ز) کال د جولای په (۲) مه نېټه سهار وختي له خوبه را پاڅېد. ماري لا بيده وه. ده خپل اوږد ښکاري ټوپک راواخيست. د کور دهلېز ته ووت. ټوپک ئې د ځان خواته ونيو او پر ماشه ئې ګوته ټينګه کړه. (۱: ۲۰۷) له نړۍ ئې سترګې پټې کړې. تر څلورو کالو پورې ئې کورنۍ د ځان وژنې خبره پټه کړې وه، چې بيا ئې په (۱۳۶۵ز) کال کې دا خبره څرګنده کړه، چې ارنست ځان وژنه وکړه.

د نړۍ دې ستر ليکوال او اديب خورا زيات اثار په ميراث پرېښودل. دا سي اثار ئې وليکل چې کلونه – کلونه به ئې اديبان پر تشريح تېروي. د ليکوال وينا ده: «د ليکوال په ايجادي پروسه کې د کلمو کارول بايد په لويو سيندونو کې د يخ د سترو ټوټو په شان وي. په سترو سيندونو کې د يخ لويې ټوټې جوړېږي، تل د دې ټوټو دريمه برخه د اوبو پر سر او دوې نورې برخې ئې لاندې وي. ليکوال هم بايد دا ډول ليکنې وکړي، چې د پېښو يوه برخه لوستونکي ولولي او دوې نورې برخې ئې د فکر او سوچ په قوت سره پيدا کړي.» (د نړۍ ادبيات، ۷۶مخ)

دا ارنست تر مرګ وروسته د ده سبک ډېر لوړ و بلل شو. نورو ليکوالو او ژورنالستانو د ده ليکنې د زده کړې لپاره کارولې... د ده د مړينې (۲۵) مه ورځ ژورنالستانو د ده بيوګرافي او په قلم ليکل شوي خاطرې راواخيستې. هغه مهال دوی په دې وپوهېدل، چې ارنست يواځې خپل وخت او خپل ژوند په مستيو او عياشيو نه دی تېر کړی. ده له وړ کتوبه ستونزې زغملي دي او د خپلو ستونزو په اړه هيڅکله هم د چا سره غږېدلی نه دئ. (۱: ۲۰۷)

د ارنست همينګوی اثار:

۱. له وسلې سره مخه ښه:

له وسلې سره مخه ښه رومان دئ، چې په لومړۍ نړۍ واله جګړه کې د ايټاليا د جبهې په هکله ليکل شوی دئ. (د نړۍ ادبيات، ۷۰مخ) د دې رومان اصلي کرکټرونه هانري او کاترين دي. د رومان اصلي موضوع په دې جګړه کې د خلکو په وژنه او بې ګناه خلکو ته زيان رسول، چې د دوی ګټې هغه چاته رسېږي. چې په جګړه کې دخيل نه دي، راڅرخي. دا رومان د نړۍ ډېرو ژبو ته ژباړل شوی دئ. له انګليسي نه پښتو ژبې ته ښاغلي عبدالرزاق راحل په (۱۳۹۴ لمريز) کال کې راوژباړه.

۲– فيسته:

دا اثر هم رومان دئ. پوهندوی ميرا جان غوربندي په خپل کتاب د نړۍ ادبياتو کې ليکي، چې «... د فيسته رومان دئ، چې په ايټاليا، فرانسه او هسپانيه کې د لومړۍ جګړې څخه وروسته پېښو په باب خبرې کوي....» (نړۍ ادبيات، ۷۰مخ) د دې رومان موضوع د هغو خلکو د ژوند برخليک تشريح کوي، چې له لومړۍ نړۍ والې جګړې وروسته پرې اخته کيږي.

۳– لرل او نه لرل:

دا هم رومان دئ. د دې رومان اصلي کرکټر هاري مورګن دئ. هاري مورګن قاچاقبر دئ. د دولت د قانون

خلاف قاچاق وړي. بلاخره بیا د قاچاق وړلو پر مهال د دولتي عسکرو په ګولۍ لګیږي، ټپي کیږي. د رومان اصلي موضوع پر غریبو خلکو د دولت ظلم تشریح کوي.

۴- هغو ته چي زنګونه ورته شرنګیږي:

رومان دئ. په اړه ئې استاد غوربندي لیکي« په دې رومان کي د هسپانیې د فاشېزم پر ضد د جګړې وروستۍ شپې او ورځي انځور شوې دي.» (د نړۍ ادبیات، ۷۴مخ)

۵- په یو بل هیواد کي:

دا ناول لا چاپ نه وو، چي د هالیوډ له خوائې فلم جوړ شو. د ناول موضوع د یو مین سر تیري کیسه ده.

۶- هغه لوری ته سیند او د وینو مینځ.

۷- د نهرونو ټاپوګان.

۸- د پسرلي سېلابونه.

۹- د افریقا شنې تپې.

۱۰- بې ساري جشن.

۱۱- پنځم ستون.

۱۲- قاتلان.

۱۳- لمر دغسي ځلیږي.

۱۴- زوړ سړی او دریاب.

۱۵- بې ښځي سړي.

۱۶- د فرانسیس مکومبر لنډ او خوشحاله ژوند.

۱۷- د کلیمانجارو واوري.

۱۸- زموږ په زمانه کي.

۱۹- الوتونکي څه نه یوړه.

۲۰- کلبه سرخپوستان.

۲۱ - په جنګ کي خلک.

۲۲- درې داستانه او لس شعرونه.

۲۳- له نیمي ورځي وروسته مرګ.

۲۴- په ماپښین کي مړینه.

ماخذونه:

۱- کرستینه شولځ. ژباړه اناهیتا روهي، ۱۳۹۴ل ل/۲۰۱۵ز. کابل: مطبعه صنعتي سعادت.

۲- کانی محمد طاهر. ۱۳۹۴ل ل. بهرني لیکوال. کابل: د علوموا اکاډمي.

۳- میراجان غوربندي. ۱۳۹۲ل ل. نړۍ ادبیات. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

۴- فرهنگ - ادبیات - همشهری آنلاین (http://www.hamshahrionline.ir/details/297525/Culture/literature)

۵- http://hanimuaser.mihanblog.com/extrapage/hamingoe

د کابل پيغله

(۲۰)

(په زړه پوري اسلامي تاريخي ناول)

ليکوال: اسلامي مؤرخ: صادق حسين صديقي

ژباړن: ډاکټر نثار احمد صمدواصفي/کاناډا

د کابل تباهي: بچه سقاو چي ارگ ته ننوت نو خپل وحشي پوځ ته ئې د ښار د لوټولو امر وکړ. سقاوي پوځيان د ښار په ټولو برخو کي خپاره سول. تر هر څه لومړی ئې بازارونه چور کړل. کوچني او لوی دکانونه، تجارت خانې او فابريکې لوټ سوې. دکاندارانو په خپلو سترگو ليدل چي مالونه او سامانونه ئې چور کيږي. گران بيه شيان ئې د هغوی په مخکي څني وړل کېدل. هغوی پر زړونو ډبره ايښې وه او په پټه خوله ئې د خپلي تباهۍ ننداره کوله. متل دی چي وايي د خپل مال اور هم ډېر بد دئ.

په لومړي سر کي، چي غلو د خلکو شيان او سامانونه غلا کول نو ځينو زړه ورو غبرگون او مقاومت وښود، خو غلو به هغوی په مرميو وويشتل او و به ئې وژل. له دې وروسته چا جرئت نسو کولی، بلکي يو څه گوښه به ورته ولاړ وو او د خپلو مالونو د غلاسيل به ئې کاوه چي سقاويانو به ئې هر څه لوټول. هغوی يوازي د مالونو او سامانونو پر لوټولو بسنه نه کول بلکي ځينو دکانونو ته ئې اور هم اچاوه. گڼ شمير ښايسته ودانۍ په خورا لږ وخت کي داور د لمبو خوراک سوې.

سقاوي پوځيانو د دکانونو تر چورولو وروسته د خلکو کورونو ته مخه کړه. ځينو خلکو د کورو دروازې وتړلې او د خپلو بچيانو سره د کورنو په گوښه ځايونو کي پټ سول. وحشي غلو دروازې ماتي کړې او په خورا جرئت سره کورونو ته ننوتل. تر هر څه لومړی ئې پيسې او گېڼې واخيستلې او بيا ئې مالونه او سامانونه چور کړل. تر دې وروسته ئې ښايسته او سپين مخي نجوني د کورنو څخه بيولې. نازولي نجوني د دغو ځناورو د لاس اچونو په ليدو سره بېر بدلې او پټېدلې يا د خپلو والدينو په غېږ ننوتلې. بد کاره غلو هغوی د خپلو والدينو د غېږي څخه په زوره کشولې او بېولې. که به مظلومو او غمجنو والدينو خپلي نازولي لوڼي د هغوی څخه راگرځولې نو په مرميو به ئې ويشتل. آن ځينو دغو وحشيانو خوږ نجونو د والدينو په حضور کي پر هغوی تېری هم وکړ. که به کومي پاکي

نجلۍ د خپل عزت او عفت د ژغولو په خاطر مقاومت کاوه نو ځای پر ځای به وژل کېدله.

دغه انسان ډوله ځناوران په ټول کابل کي تیت او پرک سول او په هر بازار او هره کوڅه کي ئې سخت ظلمونه وکړل. که به چا پیسې او نور دولت نه درلود خو د عزت ژوند به ئې تېر کړی وو، نو چي سقاوي ځناورو ته به د هغوی په کورنو کي څه په لاس ور نغلل په چلاخو، سوټیانو او د ټوپک په قنداغونو به ئې سخت ووهل.

د مجداول (ښایي چنداول به وي ــ ژباړن) په لومړۍ حصه کي یو شخص اوسېدئ، چي احمد خان نومېدئ. دی یو معمر او معتبر شخص وو، چي په ټوله ښار کي ئې ډېر عزت کېدئ. هغه د میوو درې څلور باغونه لرل. د دغو باغونو د عاید څخه ئې خپله گذاره کوله. دی د ډېر عمر و او مېرمن ئې هم ژوندۍ وه. دی ډېر نېک او شریف انسان و. ده یوه ځوانه لور درلوده، چي ډېره ښایسته او صالحه وه. یوه بله لور ئې هم درلوده چي دوولس کلنه وه. یو شپږ کلن زوی ئې هم درلود، چي تر هغه یو بل کشر زوی ئې هم وو، چي څلور کلن وو. دا ډېره ښغمه او خوشحاله کورنۍ وه.

احمد خان د جمعې د ورځي له لمانځه څخه را روان وو، چي سقاوي پوځیان ئې په داسي حال کي ولیدل، چي لوټ او چور ئې کاوه. نو ژر خپل کور ته راغی او دروازه ئې وتړله. د خپلي مېرمني سره کښېناست او ورته وئې ویل: د امان الله خان حکومت د جنورۍ پر څوارلسمه نېټه ختم سو. نن د عنایت الله خان حکومت هم پای ته ورسېدئ. بچه سقاو پر کابل باندي تصرف کړی دئ. سقاوي پوځیان دکانونه او کورونه لوټوي. داسي نه چي دا ظالمان غله زموږ پر کور هم برید وکړي.

د ده مېرمني د زړه ناروغي درلوده. د دې خبرو په اورېدو سره ئې مخ تک ژړ سو او وئې ویل: یا خدایه! رحم وکړه! موږ بې کسه انسانان به څوک د دغو ظالمانو له منگلو څخه وژغوري؟

احمد خان: ما پر لاري واورېدل چي دغه بدبخته غله پر ښځو او نجونو هم جنسي تیری کوي.

مېرمني ئې وویل: خدای دي د دغو بدبختانو څخه شریف خلک وساتي.

بس همدومره خبري وسوې، چي د کور دروازه وټکېدل. احمد خان وویل چي دا مهال به نو څوک وي؟

مېرمني ئې ځواب ورکړ چي خدای خبر څوک به وي.

احمد خان: ښایي کوم گاونډی وي.

د ده د مېرمني نوم رابعه وو. هغې وویل: هر څوک چي دئ، دا وخت دروازه ور خلاصول لازمه نه ده.

دا مهال دروازه په ډېر زور سره بیا وټکېدله. احمد خان وویل چي دا هم ښه کار نه دئ، چي یو څوک دروازه ټکوي خو موږ یې نه ور خلاصوو.

د همدې خبري په کولو سره احمد خان ور ولاړ سو. رابعې تر لمن ونیوئ او ور ته وئې ویل: یا ــ یا دروازه مه ور خلاصوه او کښېنه.

احمد خان هم بېرته کښیناست. په همدې ترڅ کي د گاونډیانو د کور څخه د وهلو او ژړلو د آوازونو او بغارو راتلل پیل سول. خو د دروازې ټکول همداسي دوام درلود. احمد خان ولاړ سو او وې ویل: اوس نور نه معطل کیږم، خدای خبر دا کوم مظلوم دئ.

رابعه هم چُپ سوه او ودر بدله او احمد خان مخ پر دروازه روان سو. دروازې ته په رسېدو سره ئې ږغ وکړ، چي څوک يې؟

خو د ده په خواب کي دروازه یو خل بیا وټکېدله. احمد خان دروازه خلاصه کړه خو وې لیدل چي نهه لس سقاوي پوځیان ولاړ دي او مخامخ کور ته راننوتل. احمد خان د دغو وحشیانو په لیدلو سره سخت وبېرېدئ او یو څه پر شا سو او دېوال ته ئې تکیه وکړه.

غلو ده ته بد – بد وکتل او بېله اجازې څخه کور ته ننوتل. احمد خان هم د هغوی تر شا ورپسې روان سو.

رابعه د غلو په لیدلو سره ډېره وبېرېدله او یوې خوني ته ئې وخغستل. په دې پسې ئې ټولو اولادو نو هم وخغستل. خوانه لور ئې یوې بلي خوني ته منډه کړه. غلو دوی ټوله د ځغاستي په حال کی ولیدل او بر ندې ته ورغلل او هلته ودر بدل. د دوی څخه یوه خپلو ملګرو ته داسې وویل هغه بوډا راوله.

یو غل بېله ځنډه ور حمله کړه او احمد خان ئې و نیوی حال دا چي احمد خان پخپله کرار – کرار را روان وو. غله هغه پر ملا په چلاخه وواهه او ورته وې ویل: «اې پدرسوخته ژر ژر درځه.»

احمد خان ضعیف العمر و او د چلاخي ګوزار ئې نسو زغملای. ترخوله ئې یو آه راووت. غله بیا چلاخه پر راپورته کړه او ورته ئې ویل: چټک – چټک څه.

احمد خان ګامو نه چټک کړل. څنګه چي بوډا وو نو ژر – ژر نسو تللای، خو د خپل توان په اندازه ئې کوښښ کاوه چي ژر – ژر کامونه واخلي. کوم ګرندي توب چي غله ترې غوښت هغسي ئې نسوای خغستلای. غله بله چلاخه وواهه او ورته وې ویل: د کشپ غوندي تګ مه کوه، بلکي د سوی په شان ځغله.

احمد خان په ډېره عاجزی سره ځواب ورکړ، چي زه د یو کال راهیسی ناروغ یم. ز ما طاقت هم دومره دئ. وښتان مي تک سپین دي. ملامي کږه ده. ستر ګی مي....

غله ورته وویل: بېهوده مه ږغېږه، خپلي ټولي پیسې او دولت راوړه د کور په غولي (انګړ) کې ئې کښېږده.

احمد خان: دولت! زه خو یوه حبه هم نلرم.

غل: ښه، داسي ده! نو بېله زوره ئې نه منې. لځ لپړ ئې کړئ.

دوو غلو فوراً احمد خان ته ورحمله کړه او ټوله کالي ئې ځني وکښل. کوم غله چي د احمد خان سره خبري کولې ورته وې ویل: اې بوډا، وو ایه پیسې دي چیري دي؟

خو که احمد خان پیسې درلودای نو حتماً به ئې ورکولې. بیا ئې ورته وویل: زه ربښتیا وایم، پیسې نلرم.

غل: اوس به پخپله را ته ووایې. خپلو ملګرو ته ئې په اشاره سره وویل چي بوډا یو څه په چلاخو ګرم کړئ.

یو بې رحمه غل راغی او په ډېر ظلم سره ئې احمد خان تر چلاخو لاندی کړ.

احمد خان د څرمني د چلاخو تاب نه درلود، پر لڅ بدن ئې د چرمي چلاخو په زغملو سره د بدن پوست تغمه او څو خایه پرې سو. بدن ئې بې واکه کېدی او تر ستر ګو ئې مسلسل اوښکي بهېدلې. هر وار چي به بې رحمه غله ګوزار پر کاوه نو سخت به رېږدېدئ. د چلاخي نښان ئې پر بدن پا ته کېدئ. څېره ئې وار په وار پیکه کېد له خو احمد خان بیا هم خان ټینګ نیولی وو او له شرمه ئې هیڅ

کريږي نه وهلې. ده نه غوښته چې د خپلې مېرمنې او اولادو په مخکې فرياد وکړي يا بغاري ووهي.

وهونکي غل آخر ستړی سو او وې ويل: دا بدبخته بوډا ډېر ټينګ دئ.

يو بل غله وويل: ګوره! دی وتړه او چپه ئې راوځروه!

غلو هم همداسې وکړه او احمد خان ئې په رسۍ ټينګ وتړی او د کور په غولي کې ئې پر يوه ونه راځوړند کړ. بېچاره احمد خان په دې کار سره ډېر سخت عذاب وګالی او وې ويل: ظالمانو، زه پيسې نلرم.

يو کور کوري (چيچک مخي) غله وويل: د ده تر لاندې اور بل کړئ. بيا ئې وګورئ، چې څنګه اقرار کوي.

څو غلو له دوري هوري څخه خاشې او لرګي راټول کړل او تر احمد خان لاندې ئې اور بل کړ. د اور لمبې وار په وار ډېرېدې او راپورته کېدې.

تر د غه وخته رابعې د خوني له دننه څخه پر خپل مېړه باندې روان ظلمونه او د ده چپه راځړول ليدل، خو کله چې اور ور ته ولګېدئ نو بې طاقته سوه او په ... ه دباندې راووتله. په دې پسې ئې لوڼې هم راووتلې.

هغې غلو ته داسې وويل: شريفو انسانانو، په خدای قسم چې موږ پيسې نلرو، زما پر بوډا مېړه باندې ظلم مه کوئ او ايله ئې کړئ.

يو غله په لوړ ږغ سره وخندل او وې ويل: پيسې به د دغې رنډۍ سره وي. پکښې وګورئ.

يو وحشي غله هم پر بوډۍ رابعې باندې د چلاخو ګوزارو نه پيل کړل. دا بېچاره ناتوانه سوه او پر مځکه ولوېده او په ژړاوو ئې پيل وکړ. د دې لوڼو چې دا حال وليدئ نو بې اختياره ئې کريږي کړې.

يو غله وويل: دغو لعينو نجونو خو ښځې غوږونه را کاږه کړل.

يو بل غله وويل: د تل له پاره ئې چوپې کړئ.

درو غلو خپل توپکونه سمبال کړل او مرمۍ ئې ورتېرې کړې او هغوی ته ئې برابر ويول. ښيله ځنډه ئې پر دوولس کلنې نجلۍ. شپږ کلن هلک او څلور کلنې معصومې ماشومې باندې ټکان (ډزې) وکړل. درې وارې بې ګناه انسانان راچپه او په وينو کې لژند سول. د دې انسانيت وژونکو ظلمونو په ليدو سره آن مځکه او آسمان هم ورپړ ېدل. د رابعې او احمد خان زړونه سوري سول. رابعه راپورته سوه او کښېناستله. په دواړو لاسو ئې خپل زړه په سوکانو واهه او وې ويل: اې زما بچيانو!

د بې انتها غم او درد له امله ئې زاره وچاودل. ويني ئې توف کړې او په دې سره ئې يو لوی آه وکړ. راچپه سوه روح ئې والوتله.

دا ټوله ظلمونه او وحشتونه د هېښ پيښ احمد خان په مخکې وسول. دی هماغسې چپه ځوړند وو. خوانه لور ئې د خپلو خويندو او ورور، مور او پلار محبت بېقراره کړه او دباندې ئې راوځغست. د غو خلکوته نږدې ورغله او په کريږو ئې وويل چې «آه. زما مور جانې! زما وروره... الله تعالی دې ما ته مرګ راکړی.»

خواني او ښايسته پېغلې لوی ـ لوی چيغې وهلې، تر ستر ګو ئې داوښکو ويالې بهېدلې، خپل کشر ورور ئې په غېږ کې ونيوی او په کريږو ئې وويل چې «وروره، وروره! ته بيده ئې؟ آه! راولاړ سه او ستر ګي خلاصې کړه. زه دې تر تا خار او قربان سم. ته خبرې نه کوې؟!»

احمد خان د خپلې نازولې لور دا ډ غمه ډکې خبرې واورېدې او بې طاقته سو، اوښکې ئې هيڅ نه درېدې او وې

ویل: لوري! صبر کوه، هغوی چې باید مړه سوي وای مړه سول.

نجلۍ د اوښکو څخه په ډکو سترګو او چیغو وویل: های. دا څه وسول؟ وروره! ته ولي زما څخه خپه سوې. وخانده، خبري وکړه. یو څه خو ووایه، اوف، ستا پر ځېره خو مرګ خپور سو. یا خدایه! زما ورور ژوندی کړه.

د دې ښکلي نجلۍ پر باړخوګانو د اوښکو ویالې رابهېدلې. د هغې د دغه حالت په لیدو سره حتی یو ډېرین زړه لرونکي انسان هم رحم کاوه خو دغه د انسانیت څخه تشو غلو، چې وحشت او بربریت ئې په رګو کي غځونه کړې وه، هیڅ رحم نه کاوه او دغه له ستم او وحشته ډکي صحنې کوم اثر نه پر کاوه. دا لا څه، د دوی څخه یو غل راولاړ سو او دغه ښکلي نجلۍ ته راغی او ورته وې ویل: «اې شاپېرۍ نجلۍ! د دې مړه هلک جسد ایسته پر مخکه خوشي کړه.»

نجلۍ د خپل مړه ورور جسد په خګر پوري ټینګ ونیوی او وې ویل: یا – یا، زه دی پر مځکه قطعاً نسم غورځولای. دی خو زما مور، پلار او خویندو د زړه په وینو سره لوی کړی وو، آه، زه څنګه دی پر مځکه وغورځوم.

غله په وچ زور د نجلۍ څخه دغه جسد واخیست او ایسته ئې وغورځاوه. د دې حرکت او صحنې په لیدلو سره د نجلۍ پر سترګو تیاره راغله او وې ویل: اې زما وروره!

غله دا تر لاس ټینګه ونیوله او وې ویل: ګوره! زه پر تا او ستا پر نازک بدن باندي مین سوم. راځه.

نجلۍ به یو خل ژړل او بیا به چپ سوه. په همدې حالت کي ئې یو دم د غله څخه ټوپک واخیست او مخامخ ئې ورته ونیوی. غل پر شا سو. نجلۍ هم ټک پر وکړ او په خګر کي ئې وویشتی او هغه ځای پر ځای ولوید او مړ سو.

نورو غلو چې دا حالت ولیدئ نو له قهره وپړسېدل او ټولو پر نجلۍ د خپلو ټوپکونو شپېلۍ ور واړولې او د دې غیرتي نجلۍ نازک بدن ئې سوری – سوری کړ. څو چې ځای پر ځای مړه سوه. یو بل غله احمد خان هم وویشت او مرمۍ د هغه تر سینې ووتله. بوډا احمد خان هم ځای پر ځای مړ سو. په دې ډول د احمد خان ټوله کورنۍ د سترګو په رپ کي ووژل سوه.

د غلو دغه ډله د دوی ټولو تر وژلو وروسته کور ته ور ننوتل او هره خونه ئې ښه وپلټل. څو ځایه ئې خوني غار کړې او د بکسونو قلفونه ئې مات کړل خو هیڅ پیسې ئې پیدا نکړې. نو لږ ګړی وروسته ټوله ووتل او ولاړل.

په ګرده کابل کي همدا ډول ظلمونو جریان درلود. هر سپین ږیري او ملا په خپلو کورونو کي پټ وو. هیڅوک له کورونو څخه نه راوتل تر څو ګوري چې وحشي غله پر بېچاره او مظلومو مسلمانانو څنګه ظلم او بې رحمي کوي.

د کابل ښار هیڅ یوه کوڅه، محله، کور یا کوټۍ داسي نه وه، چې دغه ظالم غله نه وي ورغلي او سخت وحشت ئې نه وي کړئ.

ما غوښته چې دا ټول مظالم او وحشتونه چې د افغان ملت پر ناموس باندي وسول، همدلته بیان کړم خو یو د موضوع داوږدېدلو په خاطر او بل هم د مسلمانانو له خوا پر خپلو مسلمانانو باندي مي د دغسې وحشت او ظلم بیان لازم و نه باله.

په هر صورت، سقاوي پوځیان ټوله ورځ په وژنو او لوټولو بوخت وه. د کابل ښاریانو چې کولای سوه وتښتي نو له ښاره ووتل. په بازارونو، کوڅو او کورونو کي د مسلمانانو بې ګوره او بې کفنه جسدونه پراته وو، چې چا ئې دوړلو، تکفین او تدفین جرئت نسو کولای. په دې ورځ

په کابل کې انساني ژوند او وینه دومره ارزانه سوې وه، چې پر یوه عادي خبره ژوند په مرګ بدلیدئ او وینه پر ځمکه تویېدله.

کله چې لمر ولیدئ او د تیارې څپې د کابل پر ښار خپرې سوې نو د سقاوي پوځیانو تېری او ظلم یو څه لږ سول. ټوله غله په پیسو او مالونو بار شاهي ارګ ته ولاړل. بچه سقاو په شاهي مانۍ کې پر تخت باندي ناست وو. هغه سقاو چې د وچو غرونو پر کاڼو او ډبرو به بیده کېدئ نن پر نرمو بخملي نالیو باندي ناست وو. کله چې ده واورېدل چې ټوله غله شاهي قصر ته راروان دي نو د مانۍ څخه مخي ته راووت او پوځ ته ئې د ارګ په نظامي اړخ کې د استقرار امر وکړ. یو څه پوځیان بیرته ولاړل او نور همدلته په شاهي قصر کې پاته سول.

څنګه نن ورځ هغوی ټولو د بچه سقاو په ملګرتیا د لوټ تالان او قتل بازار ګرم ساتلی وو، له همدې امله د خوړو پخولو خاص انتظام نه وو سوی. کله چې شپه اوږده سوه او هغوی چور او تالان کړی وو، نو بچه سقاو ځو غلو ته د ډوډۍ تیارولو امر وکړ. په دې توره شپه کې کله د ډوډۍ سم انتظام کېدای سو. هغوی ته یو خای شلغم په لاس ورغله نو هغه ئې پاخه کړل. کله چې پاخه سول په یوه خورا ښکلي خونه کې چې په ډول ـ ډول شیانو سره مزینه وه، ډوډۍ تیاره سوه. په دې خونه کې یو لوی مېز پروت وو، چې شاوخوا څوکۍ ورته ایښودل سوي وې.

څنګه چې په شاهي محل کې د بچه سقاو سره د ده ډېرې ملګري او همرازه کسان موجود وه، نو تر ټولو لومړی هغوی راغلل او پر څوکیو کښېناستل. لږ ګړی وروسته بچه سقاو او د هغه یو څو مداحان راغلل خو ټولي چوکۍ له ځمکي څخه لا ډکي سوي وې. سقاویان په دومره عزت نه

پوهېدل چې د بچه او د هغه د حواریانو له پاره یو څو چوکۍ خالي پرېږدي. هر یو پر خپله ـ خپله څوکۍ ټینګ ناست وو او نه ولاړېدی. بچه سقاو هم دوری هوری وکتل. د دې خوني دېوالونه په هیندارو سره مزین سوي وه. بچه سقاو چې کله یوې خوا ته وکتل نو په هینداره کې د خوني د یوې خوا عکس ورته معلوم سو. ژر ئې خپلو اندیوالانو ته په اشاره سره وویل چې تاسي ټوله همدغه خوني ته ولاړ سئ!

د ده ملګرو له دې ښېري، چې هغه خو نه هم ژر ډکه نسي پر هغه خوا ورټوپ کړل. یو کس چې کله وغورځېدئ نو پښه یې د هیندارې سره ولګېده او بیرته همدې خوني ته راولوېدئ. خو د خپل ټکر له امله ئې هینداره ماته کړه. د هیندارې په ماتېدو سره دېوال ښکاره سو. د دې صحنې په لیدو سره بچه سقاو او ملګري ئې ټوله هیښ او شرمنده سول. یوانډیوال ئې نږدې ولاړ وو، او ورته وې ویل چې « ښاغلې، خو نه بنده ده. د څلورو خواوو پر دېوالو باندي هینداري نصب دي.»

بچه سقاو په دې خبره سره وخندل. د ده د ملګرو هم داړي ښکاره سوې او ټولو په زوره وخندل. هغه کس چې د هیندارې سره ټکر سوی وو، لاسونه دوري هوري ټپول څو چې راولاړ سو. دا خلک له دې خایه یوې بلې خوني ته ولاړل او هلته ئې خواړه راوغوښتل او وې خوړل. د ډوډۍ تر خوړلو وروسته ټولو پر بخملي بالښتونو باندي تکیې وکړې. څنګه چې ټوله ورځ ئې لوټ تالان، ظلمونه او قتلونه کړي وو نو په محض تکیو سره بیده سول.

مهاجرین: وروسته...

د عبدالهادي ریشا لیکونه

(د حاجي عبدالظاهر څرک په نوم)

۱۹۹۸/۱/۱۳

ګران محترم ظاهر جان پس له سلامه څخه داسي وایم. چي عمر دي د خواجه خضر سه!

ستا د (۱۳۷۶/۱۰/۲۰) زما لپاره خوشحاله ونکی لیک راورسېدی، ستا خوشحالي هم غوارم. تا زما د حظ د جواب د خنډ بخښنه دي غوښتې وه. زه ستا له جواب څخه ممنون و مشکوریم، چي جواب دي راکړی او په ښه مینه او اخلاص دي راکړی. الله دي مه کموه.

تا چي غوړه ښورا تر اوسه نه وه اورېدلې، نو غوړه ښورا خو هغه ده چي د کټوي پر سر غوړي ولاړ وي او د لم دیزګی هم پر معلومېږي. امکان لري چي تالیدلې او خوړلې هم وي.

که دي اورېدلې نه وي نو په یوه ترکیب کي دي ضرور اورېدلې ده. هغه دي داسي اورېدلې ده: (په کندهار کي کله ــ کله بعضي خواږه دوستان او یاران چي سره مخامخ سي نو یو دا بل ته وایي چېري وې (چرګه په دا غوړه ښوروا) او بله ښورا چي د کله پز ښوروا ده. خو البته چي غوړه به وي، خو د کله پز د دوکان (کناویز) هم مشهور دئ.

اوس چي روږه ده که زه نور د خوراک بیان پسي اورد کم، ښخایه خو دئ، مګر ډېر پرم چي د خوراکي شیانو په یادولو مي روږه مکروه نه سي، نو دا غوړي ښوروا وي ئې روږه مات ته پاته. نو را به سم ستا د لیک دې ځای کي ته، چي محمدین ژواک په مرګ نه وم خبر اوس خبر سوم او ستا لیک خبر کړم، خدای جل جلاله دي هغه ور سره وکړي چي د ده د شان سره لایق وي.

د مرحوم تخلص یوار (بر یان) وو، دی د حاجي شانو مرحوم په کور کي په کابل کي استېدی. یو خت ئې د حاجي شانو سره پر یو خبره بحث سو. حاجي شانو ورته ویل: «څه د لیل لرې؟» ژواک ورته ویل: «په قران شریف کي راغلي دي.» حاجي مرحوم ول رابښکاره ئې که! محمدین ژواک ورته کښېناست د قران کریم یوه ـ یوه ورقه ئې اړول او پر ماخیګر سو، قران ختم سو او هغه ایت ئې نه کړ پیدا.

یوه بله ورځ، چي هغه وخت د محمدین تخلص بریان وو، حاجي ور ناري کړه (بریان ئې هېر وو) ناري ئې وروهلې چي (اړیسه! آخوړینه! آکبابه!) بیا چا ورته وویل: «چي برهان ته ناري وهې؟» وئې ویل: هو!، نو تر کډو پوري آب

(يستاره را پياد سوه) تر محمدين ژواک پوري حاجي شانو او د دوی قيصې.

نور نو تا چې په خپل ليک کې د احمدولي او کوچينيانو د روغتيا اطمنان راکړی، وتاته هم روغتيا غوارم. بل ستا خبره چې راډيوگاني به زه هم اورم. مې رابخښه، ولي چې زه د يوه کتاب په ليکلو مصروف يم. ته منه که مي دا لس ورځې د راډيو غوږ پېچلی وي، فکر مي ټوله په کتاب اړ دئ، غوارم، چې ژر نې چاپ ته اماده کړم، داګښت نې د چاپ وعده محترم رشاد صاحب راسره کړې ده. کور نې ودان، خو زما د طالع وايي دی نسته جاپان ته د سترگو د علاج لپاره زوی غوښتی دئ. خو ما لاس پر اچولی کتاب ليکم، لکن (۴ــ یا ۵) ورځي پس به تکميل سي، بيا به نو گورم، څه وخت به چاپ سي. دا کتاب نثرونه او شعرونه دي، موضوعات نې مختلف دي. لندي ـ لندي ليکني او يوه لنډه مقدمه هم لري.

ته چې وائې روژه ده نور نو کم باندار نسته په خوب مو بنسه ارمان ختلی. خدای ﷻ دي روژه قبوله که، تراويح دي قبولي سه. خدای ﷻ دي وکي چې په خوب کې يو داسي بنسه خوب ووينې، چې هغه د ټولو نا ارامه خلکو ارامي. خوب وي او سهار دي د ستې خوب وخېژي او د هغو خلکو حوصله چې ترپزي رسېدلې ده، نور نې سد سر ته راسي.

نور دي نه بې حوصلې کوم، دادئ د دې کاغذ حوصله هم تمامه سوې.

ريشا

مرحوم حاجي عبدالحميد ارغنداوی

غوړمالان خپلي ګټې ساتي

کله چي يو نوی آمر پر عالی مقام مقررسي. نو سمدستي په هغه مقام پوري مربوطه پخواني تجربه کار او بډي خوړونکي بې احساسه غوړه مالان سره راټول سي او ديو ګډ ناولي ارمان د تحقق لپاره ليځي را ونغاړي ترڅو وتوانېدلای سي د پخوا په شان د اولس غوښي وخوري او لکه ژوره وينې ئې وزبېښي. دوی ديو معالج ډاکتر په تو ګه ديو آمر نبض ګوري او ور ته لاز مه دوا برابروي. څو آمرد دوی د تګ لاري سره سم خپلي پاليسې ته دوام ورکړي او د دوی کرغېړنه لاره تعقيب کړي. دا غوړمالان غواړي د پاکو او معصومو مامورينو په ژوند لوبي وکړي. هغه تل هڅه کوي. چي وطن پالونکي مامورين د آمر په وړاندي وغندي او د هغو د بې لياقتی او کمزوری په هکله په ماهرانه تو ګه دا ناوړه عمل ترسره او آمر ور ته ولمسوي. چي دا پر اولس او وطن مين مامورين يا له وظيفي ګوښه يا د آمر لپاره د هغوی په مورد د تهديد او توهين زمينه مساعده کړي. څو د غوړمالانو کرغېړن اعمال پټ پاته سي.

که نوی آمر د پوهي او کامل ادراک خاوندوي. وطن پالونکی. صادق او د هيواد والو واقعي خدمتګاروي دا کسان ژر پېژني. هغوی له ځانه شړي او د مشورې ور کولو پرځنډ ئې کلک عکس العمل څرګندوي. ځکه غوړمالان خپلو ګټو ته د اولس پر ګټو ترجيح ورکوي. غوړ مالان د هيڅ دنېکمرغی خيال نه ساتي او خپله نېکمرغي هم په خپله ځاني ګټه کي نغښتي ګڼي.

kandahar

Bi- Monthly Magazime of Kandahar information & Culture Department

سوداګره!

هرڅه، چي خرڅوې هغه خرڅه کړه، مګر خپل دین او ایمان مه خرڅوه! هر څه چي خورې، هغه وخوره! مګر سود مه خوره او پنځه ګوتي په خوله مه منډه، هر څه چي اخلې، هغه واخله مګر د خوار و غریب ازار مه اخله! له هر ځایه، چي هر څه راوړې رایې وړه، مګر ګوره، چي بې انصافي او بې رحمي درسره را نه وړې. پر اسونو او موټرو سورېږه! خو د چا پر اوږو مه سپرېږه! له ښاره وځه، خو له نرخه او له چتې مه وزه! لوی - لوی کورونه د ځان لپاره جوړ کړه، خو د خپل بام واوري د بل پر بام مه غور ځوه! پټي ډېر پیدا کړه، مګر خپل پېټی مه در نوه! او ځانته اغزی مه کره. د ځان غم دي وخوړ، اوس د نورو غم هم وخوره! لوړې بنګلې دي پیدا کړې، لوړ همت هم پیدا کړه! خلک وایي په ډېرو لیوني خوښ دي، ته هم په لږه ګټه قانع شه او لیونی کېږه مه! بډایانو و پېژندلې، مګر خوار او غریب دي نه پېژني. راشه! دوی ته هم ځان وښیه، د دوی په غم کي شرکت وکړه! په دې شرکت کي که هر څومره برخي ولرې، هغه هیڅکله نه ضایع کیږي او ګټه ئې یو په لسه، بلکي بې حسابه ده، مګر دا سود ناروا نه دئ، روا دئ، بې انصافي نه ده، انصاف دئ.

استاد ګل پاچا الفت